This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

# دبنگي غاړه



This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

# دبنگي غاړه

## اوخو لنډي کيسي

سعدالدين شپون

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

د کتاب پېژندنه

نوم : د بنګی غاړه

لیکوال : سعدالدین شپون

د چاپ شمېر : ۵۰۰ ټوکه

د چاپ کال : ۱۳۷۷-۱۹۹۹

خپرونکی : د ناهید کتاب خپرولو موسسه

د چاپ ځای : دانش کتابتون، قصه خوانی - پېښور

فون: ۲۵۶۴۵۱۳

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

# سریزه

ایمل خان پسرلی زما د ځینو خورو ورو کیسو د چاپولو تکل کړی دی . دا خو به ډیره ښه شی ، مگر اوس دا هم غواړی چه د هغه په باب یو څه توضیحات هم ورکړم . اوس یې خرابه کړه . زه په نو څه ولیکم ؟ ښې کیسې دی ، خوږې کیسې دی ، زاری درته کوم چه ویې لولئ! د ایمل کانه خدای بښلی بینوا هم په "پښتانه لیکوال" کې کړې وه. له هر لیکوال نه یې غوښتی وو چه خپل لیک ، د آثارو بیلگې او یوه فوټو ورواستوی . بینوا بیا دا کټ مټ چاپ کړی وو . اوس چه زه د بینوا دغه کتاب لولم نو د خدای بښلی په هوښیاری شا باسی وایم. ډرې لومې یې ایښی دی چه په یوه کې نه په بله کې لیکوال خپل مس ښکاره کوی او گیر کیږی. یا په ژوندلیک کې لاپې شاپې وهی او د ځان نه نابغه جوړوی ، یا خپله داسې فوټو بینوا ته استوی چه دی کاکه ځوان وښیی ، حال دا چه د زیږیدو د نیټی نه او چته ښکاری چه سړی جوړان وهلی او له برمه لویدلی دی. پخپله لیکوال انتخاب کړې ده دده د ذوق او ادبی معیار او کره کتنې تر ټولو ښه هینداره ده .

زه هم ایمل خان همداسې یوې لومې ته ورسیخ کړی یم . خو زه به یوائې ددې کیسو په تسلسل یو څه ووایم ، دهنری ارزښت جاج یې لوستونکی اخلی . ددې مجموعې زیاتره برخه یو شمیر پرله پسې کیسې دی چه زما په خپل کلی (د کندز ولایت . د خان آباد ښار د چارتوتو کلی ) کې پیښې شوی دی. په اول ځل دا کیسې څه ناڅه لسیزه وړاندې د سپیدې په نامه مجلې کې د ایمل خان پلار ، مشر پسرلی صاحب خپرې کړې . ددغو کیسو یوه ځانگړتیا داده چه یوه د بلې پورې هم لگیږی او په عین حال کې هره کیسه ځانله هم په پښو ولاړه ده او بیله لنډه کیسه ده . سره لگیږی ځکه چه ټولې زما د کلی د ژوند تجربې دی او بیلې یې ځکه بولم چه هره یوه یې د ژوندانه د یکی یو اړخ انځور دی. سپیدې مجلې په دغو باندې د خپله انده "د ښنگی غاړه "نوم ایښی و . په راوروسته کیسو کې د تجربې لمن نوره هم وړه شوه ، پیښور او امریکا ته هم رارسیدلې ده . مگر بیا هم د وطنی ، بلکه محلی تجربو پورې تړل شوې ده . (د صمد خان یوازېتوب ، ناڅاپی پېژندگلو ، د مرفی قانون ، د بسم الله جان کاکا

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

تیوریگا نې په همدې ډله کیسو کې راځي.)

د خپلو کیسو په حواشیو ځکه ځان مشغولوم چه اصلي پوښتنه پلپوټ کړم.
دا پوښتنه یوه کلیوال ملگري، ډاکټر ..... هم رانه دلته په امریکا کې کړې وه.

د یکشنبې په ورځ کور ته راغی او ویل مې چه "بیره کوه پاڅه چه په کور کې مې غوښه تیاره اخته کړې، گازي نغري مې بل کړی او بس تول ستا په انتظار ناست دي چه باربي کیو (کباب) وکړو. په تلفون کې وایي چه دغه دی درغلم: خو ته لا د ملا طفې سره ناست یې او کاغذونه توروې. شابه، پاځې!"
دده سره د کور چوترې ته ورغلم. یاران ناست وو، چا غوښه په سیخانو کې پیرله، څوک د شطرنج په لوبو اخته وو او چا شربتونه څښل. ډاکټر..... په خندا ملگرو ته وویل چه دغه دی شپون مې در ته راوست. یوه د شطرنج نه سر جگ کړ، "صاحبه، په مورکې دې کولمې کروت کړې، بیا په څه بابو لالې اخته وې چه زړه دې ترې نه شکېده؟" زه پوهېدم چه دا پوښتنه نه ده، هسې نرۍ شکایت دي او چه ځواب ته مې خوله جوړوله ملگري هغه بل لوبغاړي ته وویل "کشت مات!"

پس د ډوډۍ او جمعې چه تول رخصت شول نو ډاکټر..... زما سره تر کوره لاړ. چای مې ورته دم کړ او زه په لمانځه ودرېدم. چه سلام مې وگرځاوه گورم چه ډاکټر لگیا دی. چشمې یې لگولې، هغه پاڼې لولي چه ما دده دراتگ تر وخته لیکلې وې. زه غلی کښینا ستم. ډېره شیبه وروسته ډاکټر چشمې له سترگو بیرته کړې، په دسمال یې سترگې وموښلې او ویې ویل، "شپون صاحب دا خو دې زموږ د کلي کیسه لیکلې." ما ویل، "هو مقصد یوه خاطره وه، ومې لیکله." ده وویل. "دا خو نو کیسه نه شوه. د کلي راپور دی!. نه مرگ ژوبله لري، نه عاشقي، نه ځوانیمرگي، نه کوم تخیل!" ما وویل، "همداسې خو ده چه ده، بس د کلیوالي ژوند صحنې دي." ده وویل" په نورو کلو کې خو هم همدا شیان پېښیږي، نو ستا دراپور اهمیت په څه شي کې دی؟ ولې یې لیکې؟ ما ویل، "گوندې ځینو ته یې لوستل په زړه پورې وي." ده عجیبه خبره وکړه، "ما ته خو دلچسپه نه ښکاري، کېدای شي چه کالونه پس، کوم لرغون پیژندونکی یا اجتماعي محقق یا د تاریخ شاگرد ورپېښ شي او هغوی ته به دلچسپ ښکاره شي چه په دې کلي کې یو وختې خلکو داسې او داسې انگېرنې لرلې، په دې خوشالېدل، په دې ځورېدل او د ارزښتونو کچ

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

مېچ يې دا وړ و." دا پوښتنه نه وه ، بلکه يو حکم و ، نو ما بيا هم څه ونه ويل. ډاکټر را باندې نور هم زړور شو ، "زه هم په داستان ليکلو پوهېږم او هم مې ډېر لوستي دي. کيسه چه سړی د تخيل په وزرو نو سپور د دې نيمګړې دنيا نه اوچت نه کړي ، هسې بېخونده ژورنالستي اثر دی." ما ورته خپل عذر وړاندې کړ ، "دا زما ګناه نه ده چه پښې مې د کلي په ختو کې نښتي دي. هغه آسمانونه او وزرې چه ته يادوې زما د تجربې د پاټک نه وتلي دي. زه نجومی نه يم زما اتلان د ختو نه جوړ بنيادمان دي ، د ختو په کلاګانو کې اوسي او بې شنا-ختو هديرو کې ښخېږي. زما د تخيل وزرې په آسمانونو کې سوزي."

نو که کوم لوستونکی او يا کره کتونکی له ما نه پوښتنه کوي چه دا د کلي کيسې څه خوند ، څه عبرت ، څه اخلاقي درس لري؟ زما سره غير له هغه چه ډاکټر ته مې اعتراف وکړ ، بل ځواب نشته. البته دومره به ورسره تبې کړم چه ما هم د نړۍ شاهکارونه لوستي دي او زما د کلي اتلان د هيڅ کيسې د اتل نه کم نه دي. دا نو بله خبره ده چه په ما کې به دومره متره نه وه چه د دوی په اتلوالي شاهکار وليکم.

د پښتو کيسو ځوانو ليکوالو ته در خواستونه کوم يو دا چه: د خپلو تجربو نه قلم ها خوا مه چلوئ. د پښتو نخوا په چاپېريال کې ټول هغه اجزا موجود دي چه ادبي شاهکارونه پرې مرتب شي. د پيدايښت نه تر مرګه پورې د پښتون ژوند په تماشايي افراط او تفريط ګې راګير دی. دلته يکنواختي نشته او هره پېښه کمال ته ځان ور لنډوي. ليکوال دې نر شي ، شعوري او هنري سطحې ته دې را اوچت کړي.

دويم دا چه د خپل چم ګاونډ ، کلي او باندې صحنې ، شخصيتونه او پېښې پښتونخوا شموله مه ګڼئ. اکثر اوسنۍ کيسې د يوه کلي صحنه دا سې تر-سيموي ، د يوه بزګر کړه وړه او مشغولا داسې ښيي ، د يوې نجلۍ د مينې او نامرادۍ تصوير دا سې انځوروي چه د پښتونخوا د هر بل کلي سره سمې خوري.

دا غلط تصوير ، غلط ترسيم او غلط انځور دی. هر کلي باندې ځانله شخصيت او ځانګړی موجود دی. د چارتوت د کلي په اتل باندې مثلاً د ده-سبز د کلي د اتل کانې کول سم نه دي او نه دوی د خاصو تجربو لاندې سره ورته عکس العمل ښيي. تجربې به سره ورته وی او دا ځکه چه په ټولو بنيادمانو کې ځينې شيان ، لکه زېږېدل ، لو يېدل ، زړېدل ، مرګ ، لوږه ، ناروغی

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

.........شریک دی . فرق په هغو ارزښتو نو ، او معیارو نو او وسایلو کې دی چه د دغو مشترکو شیانو سره په سلوک کې کاریږی . دلته دی چه بنیادم دخپل مجرد مفهوم نه مشخص ته ځی. نوم پرې ایښودل کیږی ، تذکره یې هو لمبر پیدا کوی ، دخپلو کړو مسئولیت په غاړه اخلی ، د ځینو سره دوستی او دځینو سره دښمنی کوی، په ښه او بد مشهوریږی ، گویا یو داسې بنیادم ورنه جوړیږی چه په ټولې نړی کې دده په نامه او صفت بل بنیادم موجود نه وی . دده خندا ، خبرې ، حرکات...... دا ټول د نورو نه بیل وی . نو چه موږ ددغه سړی (مثلا بزگر) کیسه لیکو باید داسې یې ونه لیکو چه خپل اتل ، خپل کلی کلیوال او خپل بد ماش ته لکه چه ورسره ښایی بیل شخصیت ورکړئ چه خلک یې له نورو نه فرق وکړای شی . په کیسه کې د شاعر پېښې مه کوئ چه: مېښې منم چه د نواب صاحب دی خودا گوجر غریب بنده د چادی . مېښه تر مښې پورې ده . په دغو کې کټې ، سنډا گان ، وچې ، پیورې ، ښکرماتې ، زاړې ، کټارې ، تندی لنگې ، سرې، تورې ، برگې .....ټولې راځی چه شاعر ټولې په یوه شپاله کې اچولې دی .

عمومی حکم به سم نه وي خو زیاتره کی چه اوس حاضر په پښتو کی مروجی دي داسی لگیږی چه د یکی یوې کلیشی نه کلون شوې وي او دداسی فابریکی تولیدوي چه ټول په عین قالب کی لویږي .

د کلون clone خبره می کوله . دا ډیره ژوندي گړی کټ مټ کاپی کولو او تولیدولو عملیه ده . د تورې میږې په هگی (نطفه) کی د سپینی میږۍ یوه حجره یا بخړ کي چه DNA ولري ځای په ځای کړی . دغه سپینه میږه بلاربه شی او بیا یی بچی کټ مټ د تورې میږې کاپی وي . د clone یو نقص دادی چه میږ نر پسه ته ضرورت نشته . که دغه نوی تخنیک په بنیادمانو کی هم باب شی نو بیا اولاد د زیږدلو د پاره نر ته هم ضرورت نه پاتی کیږي .

د یوه بنیادم دری ملیونه سلولونه چه DNA ولري (د انسان هر بخړکی د هغه د ټول موجودیت ټاپه یا DNA لري ) درې ملیونه داسی بنیادمان تری جوړیږی چه کټ مټ یو بل ته ورته وي . په پښتو کی لیکل شوې کیسی ، ټولی خو نشو ویلی ، زیاتره د یو څو محدودو کلیشو کلونونه دي .

هیله ده چه لوستونکی دغې سریزې او زما د کیسو تر مینځ تناقض ونه وینی .

# د صمد خان یوائیستوب

ما هم یو وختې تصادف نه ما نه او قدریه وم ، خو ددې پېښې سره جبر یه شوم. زه د شمالي ویرجنیا په ایالت کې اوسم . د جون په لسم د غربي ویر جنیا (چه بېل ایالات دی ) په لور روان شوم ځکه اورېدلي مې وو چه ټول په ځنګلونو او باغونو پټ دی او ما غوښتل چه د رخصتۍ په دوو ورځو کې به هم سیل وکړم او هم به الوچې او د جوارو تازه وږی چه خلکو ویل هلته د سړک په سر خرڅېږی واخلم . د ځنګلونو په مینځ کې د شنو غونډیو په اړخ نری د موټر لاره ورغلې ده او ما هم د فرزانې او شاوْلي کسیټونه وراچول ، سترګې مې په امریکې کې وې او زړه مې په پېښور کې. دلته هلته به یوه نیمه هوسۍ هم لرو بر کېده او چه ما به موټر ودراوه نو خرامانه خرامانه د ځنګله منځ ته ننوته . د ډیرو ځنګلي کړلیچو نه پس هوارې ته شوم . دسړک دواړو غاړو ته د جوارو پټي وو د هغو د ګلونو (بېبل) نری عطر را ته د سرک په غاړه مې په لاس لیکل شوې علامې ولېدې " یو میل .لرې تازه آلوچې چه پخپله به ې ټولوئ" ، یا " د جوارو وږی ، درځن په ډالر " دلته هلته دهقانانو کوډل وهلې او د سړک په غاړه یې ماشومانو یا میرمنې دربار کړی و او دغه میوې اووږی به یې په سر خلاصو لرګینو بکسو نو کې د خرڅلاو د پاره ایښې وو . یو څه جوار مې واخیستل او په وړاندې روان شوم . یوې بلې په لاس لیکل شوې علامې ځانته وروښکلم prutes and presh eggs sold here:: پروټ اینډ پریش ایګز سولډ هیر " یعنې دلته تازه میوه او هګۍ خرڅیږی . دا راته عجیبه ښکاره شوه ځکه دوه ځایه یې د ف په ځای پ لیکلې وه او چه دلارې د سر دوکان ته ور ورسېدم د دوکاندار په لېدو مې سترګې څو ځله ور پولې چه هسې نه چه د موټر چلولو ستړ یا سر بداله کړی یم که څنګه ؟ ورکوز شوم . نه غلط شوی نه وم ، پخپله ، کټ مټ ، بېدو ، بې شک او بې شبهې ، شخصاً صمد-خان و . سره تر غاړې وتو . هغه هم اریان و او په داسې حال کې چه په غېږ کې یې ټینګ نیولی وم ، چیغې یې وهلې " بالدار جانه ، دا خوب دی که په ویښه دې وینم . " ها یل پلو یو شین سترګی امریکایی ناست و او په امریکا کې

نارینه د نارینه په غیږ کې نیول ، ښکولول او ټینګول نه خوښوی ، خو ښوک دی چه صمد خان را ټینګ کړی . چه ځان مې ترې خلاص کړ نو بیا یې برید را باندې وکړ او بېرته یې په غیږ کې ټینګ کړم . ما هم د امریکا د رسم و رواج پروا ونه کړه او ښه ساعت مې ور سره غاړې وتل او ښکو لول وکړل .
هغه شپه مې د صمد خان سره تېره کړه ، ښایسته لوی کور ، شپږ د خوب خونې درې تشنابونه ، چوتره ، درې ګراژونه . شپږ د برش انچه تلویزیون ، بې مزې تلفون........ تقریباً د سهار تر لمانځه مو چاپونه ځښل او مرکې مو کولې :
"یاره بالداره ، هغه چه زه او ته په دشت اوم کې سره بیل شوو ، بیا نو ما پښې پښبور له را سپکې کړې ."
دا نو د کمونستانو د را تګ نه پس د سرطان میاشت وه .
دشت اړم د بدخشان او کشم تر مېنځ یو تپا پو دی چه د شلورو غرونو نه د ویلې شوو واورو رودونه ور ته راځي او په مینځ کې یې د ستېډیم په اندازه دا تپا پو جوړ کړی دی. په افغانستان کې زموږ د کورنۍ د نارینه وو دا رسم و چه هر کال به داوړی په رخصتیو کې د آرګا بارګا سره بوې ښکلې درې ته لاړو او پوره یوه میاشت به مو خیمې ور کې لکې کړې . زموږ ګوزاره تر ډېر حده د مرغانو او خالداره کبانو په ښکار وه ، البته یو دوه ګډان به هم په کې ور تبدل . د باغ ارم میله زما د ژوند وروستی عیش و ، موږ پوهېدو چه زیاتی نو کیسه ختمه ده ، باید خپل لوری معلوم کړو او نور نو ځانونه ونه غولوو . چه کیسه را نه شواړه نشی. الغرض صمد خان چه زموږ باغوان او د میلې ملګری و ، هماغلته زموږ نه بېل شو . وروستی خبره یې داوه : " بالدارانو ، زه درنه لاړم ، همداسې لنډ ددغه کوتل نه کشم ته ، بیا زیباک ته او بیا د کوران منجان د لیارې ایسته چترال ته اوړم . "ماورته وویل ، " صمد خانه دا جرغافیه خو دې زما خو ښه نه شوه ، ولې بیرته خان آباد ته نه ځې چه بیا په لویې پاچایی لار ځان جلال آباد ته ورسوې ؟ "هغه په خندا وویل " بالدارجانه ، هسې مې پل غلطولو. مسخد مې داو چه د تاسو سره نه ځم بېا زه پوی شه کار مې پوی شه ، خو بنبست به تر مینځ وی . " په هغه شپه موږ د دشت ارم په سړه هوا کې ، د شلورو سیندو تر مینځ په خوب پریوتو او چه سهار شو ته به وایی مځکه وچاوده او صمد خان په کې ننه ووت . شپاړس کاله پس ایله اوس مې په تصادف پیدا کړ. او اوس یې کیسې را ته کولې :

"بالدارجانه ،د وطن مې نور هیڅ شی هم نه یادیږی خو مازیگری مې یادیږی
چه ما به د باغ خیشاوې او د میوو ټولول او پنې کول خلاص کړی وو ، په سو په
به مې په خپل کټ ډډه ووهله او د چرسو د چلم نه به مې لوخړې ویستې.
" بالدارجانه ، خدای هر څه را کړی دی ، ښې پیورې غواوې مې په غوجل
ولاړې دی ، چرگې مې کرکړې کوی او د باغ منې او آلو مې په ټولې ویرجنیا
کې بې جوړې دی . بس د ویو (هگیو ) او میوو په خرڅولو ښه مست گذران
کیږی."
ما وویل "صمد خانه ، ته څنگه امریکا ته راغلې ؟"
ده وویل " یو خو به بالداره ،زما خبرې نه غوخوې ،" چه گورم یو چیلم یې راوړ
او سکروټې یې پرې تازه کړې او د چرسو بوی یې کوټه ونیوله.
" تاسو لا په باغ ارم کې وئ چه زه کور ته لاړم . کور خونه و ، بس یو محمد-
منیر زوی مې دی هغه مې په ځان پسې کنجوغه کئ او ایسته خوگیانو له لاړم.
هلته مې په جهاد لاس پورې کئ . ډیر کاله د مولوی خالص د یوه قوماندان
سره وم او خدای شته چه په توره بوره مو په خلکیانو سخې پخې کړې " په لافو
کې صمد خان هم د نورو چرسیانو نه کم نه و .
"ډیر وروسانې مې کسکر کړل ، اوزه پخپله هم څو ځایه زخمی شوم. ټول وجود
مې د چرونه ډک دی."
ما ډیر غوښتل چه د چرو یو پرهر راوښیی خو د صمد خان د خبرې غوڅول
قیامت ؤ .
" یوه ورځ محمد منیر راته کړه چه دادا ، پرون چه تاسو په نارنج باغ کې
عملیات کول، زه د قوماندان..... په مرکز ورتهر شوم ، گورم چه یو
پاکستانی منصبدار ورسره غږیده . ما محمد منیر ته وویل چه ته کم عقل څه
پوی شوې چه هغه پاکستانی و ؟ هغه را ته کړه چه داسی تورو لکه د تا دچیلم
سر خانه ، ریزه یې پاکه خزیلې وه چه زمونږ مجاهدین دا کار نه کوی . دې
خبرې ماته شک پیدا کئ او څار مې پسې کولو چه یوه ورځ زه هم ور سره دو-
څار شوم . بره بالداره چه زما د غیرت په ایمان اور بل شو چه تورې به لا لا
وهی ، نوري به اود الله. دوه کاله نور هم پاتې شوم او نورې ما ملې مې
ولېدلې. دامې ولېدل چه قوماندانان په پېښور کې ډیره وُاو مونږ یې د روسانو
برگیو ته پرینښی وو ، مرمی به نه وې خو قوماندان صاحب به جرنیلی چلوله او

په پېښور کې به یې د موټرو قافلې ګرځېدې ."
د چرسیانو لحاظ خو د یارانې اول شرط دی مګر شپه پخه وه او زما ډېره تلوسه دې ته وه چه صمد خان څنګه امریکې ته ورسېد . مګر د هغه موشم ډ خرابېدو نه و .
"محمد منیر دې خدای را ته لري ، په زړه کې ډېر هوښیار دی او اوس یې د یوې امریکایۍ سره واده هم کړی دی.
زه یې پېښور له راوستلم ، او دلته یې زنې را باندې وتړلې او ویل یې چه بادیګر به بهر نه وځې . دی لاړو او د کوم مشر نه یې خط راوړو چه دا زموږ مجاهد دی او په بد ځای کې لګېدلی دی . بله ورځ محمد منیر نورې سپینې پټۍ هم را باندې ولګولې او دده ملګرو په کټ کې طیارې له بوتلم او ایسته یې امریکا ته راوستم . په شپاخانه کې د محمد منیر ښځې ځوانۍ ته د یوې نرسې پام شو او علی الحسابه ورباندې مینه شوه . ."
زما نور طاقت را نغی ، ځکه د صمد خان په خبرو کې د ملا عمر د سمځو نه زیات غارونه لېدل کېدل . ما چه خوله خلاصوله چه محمد منیر پخپله راغی .
په رښتیا هم اوس ورنه لوړ او ارغوشه زلمی جوړ شوی و ، چه امریکایانې په دغه قسم نارینه پسې مرې . هغه هم پس د تاوده روغبړ نه اورده شیبه زموږ سره ناست و او د خپل پلار خبرې یې تصدیقولې. پخوا تردې چه صمد خان بیا خبرو ته کش ورکړی ، ما وویل چه ما ته هم خوب را ځي ، نوره جمه به سبا ته سره کوو . زړه نا زړه پاڅېد او د خوب کوټې ته یې بوتلم . د شپه په خیر خبره یې داوه چه "بالداره ، یره د تا په دیدن مې خروار غوښه واخیستــه ، لکه دا غونډه امریکا یې چه رابښلې وی ."
یو ساعت پس یې مانځه ته را پا ځولم او بیا یې شپاړس هګۍ په ډنډ غوړیو کې ، یوه لویه چکۍ کوچ ، راوړل . د صمد خان په ژوند کې ، تر څو چه ما پېژانده یوه لویه کمبـوتي د ښځې نشتـوالی و . دی سره د ډېرو لافو او دروا غویو عاجز او خوش باوره سړی و . دوه ځلې یې په خان آباد کې په ښځې روپۍ ولګولې چه ظالمانو ترې وخوړې او دی تر آخره جره پاتې و . بس یوې پخوانۍ ښځې یو زړیګی ورته پاتې و چه شپې به په یوه کټ کې سره ځملاستل دورځې به دواړو باغوانی کوله .د سبا ناری نه پس صمد خان په خپلو غو اوو، چرګانو او باغ وګر ځولم . دا ټول د منیر د ښځې وو خو اوس

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

ټول د صمد خان په لاس کې وو . انګریزی څه چه پارسی لا نه ورتله خدازده څنګه یې دلته کار روان کړی و .

"بالداره ، نوره خو ددوی جبه نه راځي خو دا ګوډ ګوډ ورسره ویایم . خدای شته چه دوی مې ډېر خاطر کوی . زما ګاونډی باوغان دوه کچرې را کړې او زه په همدو باندې د خلکو کورونو ته هره جومه هګۍ او میوه وړم . روپۍ رتنې نه اخلم دوی یې بیا پخپله محمد منیر له ورکوی . هسې شنه کاغذونه دی او زه یې په ګنلو هم نه پوهیږم . څه د بنګو بوټی مې هم کرلی دی خو د اوغانستان شیر ک چرسان په خوب کې ګوره . د منیری ښځه خدای شته چه ډېره بی بی ښځه ده . وایی چه زه بسلمانه یم ، خو اوس کوم ملا ورته ګورم چه کلیمه ورسیخه کړی ، نوره نو ښه ایمانداره ده او چه زه لمونځ کوم دا مې د مخې نه نه تېرېږی . "

ما چه د ګاونډو دهقانانو سره خبرې وکړې نو هغوی د صمد خان نه خوشاله وو او زړه یې هم وریاندې سیزه . هغوی پوهېدل چه امریکا د صمد خان د پاره نه ده .

ټولو کوشش کاوه چه دده طبعه وکړی . یوه ورته د افغانستان بیرغ راوړی و او د کلی کتابخانې ورته د افغانستان په باب د جیمز باند فلم ور کړی و چه دی یې د چالانولو په چل نه پوهیده او په منیری باندې یې لس د ولس ځلې چالانه کړی و . مونږ دواړو په ګډه ولېد او دی دې ته خوشاله و چه ما به ورته ترجمه کاوه . د منیر دومره ماته ګوډه انګریزی زده وه چه د خلکو سره به یې یره نیمه خبره د اشارو په مرسته کولی شوه ، مګر صمد خان ته داسې سړی په کارو چه د نشې په وخت کې دده کیسې واوری او هغسی سړی نه و . د همدې د پاره زه ددوو ورځو په ځای پوره هفته ورسره پاتې شوم او چه ترې روانېدم نو لکه شیشونکی را پورې نښتی و .

"بالدار جانه ، ما څنګه یوازی پرېږدې ؟"

د هغې نه پس څو څو ځلې صمد خان د ځانه سره خپل کور ته راوستی او مرکې مو سره کړې دی . اوس زه هم ورسره روږدی شوی یم او چه هفته کې یې یو ځلی ونه وینم بیا مې دزړه کوم ځای تش پاتې وی . خدازده چه د چا احسان په بل بار دی ، زما که دده . دی خو فکر کوی چه زه دا راشه درشه دده د پاره کوم ، مګر زه پوهیږم چه یوې خولې خبرې ، یوې خوله خندا ، یوې وطنی مرکې ته زه تر صمد خانه ډېر اړیم . مونږ دواړه یو وزری یو خو دی محمد منیر لری .

# ناڅاپي پېژندګلو

هندو ځان ناګاره اچولی و ، بس خپل کمپیوټر ته ځیر و او تنهایي یې کیکاږلې . د کمپیوټر په مخ به شنه تخته راغله ، بیا به توره شوه او د هغې په ځای به توره پرده راغله او په هغې کې به لیکونه سپین رنګي وو. ورپسې یوه سپینه لیکه د هغې په مینځ کې پیدا شوه او په هغې کې هندو کوم شی ټایپ کړ او بیا یې یوه تنهایي کیکاږله . نور یې شاته په فنر لرونکې ، بې بازو چوکۍ تکیه وکړه ، لاسونه یې څټ ته ځولۍ کړل او د ګوتو نه یې ټکونه وایستل او همداسې په چوکۍ کې زنګېده او له لرې د کمپیوټر پردې ته ځیر و . ما ته یې پاس وکتل ، په انګریزۍ را سره ګډ و ، په هندۍ انګریزۍ چه د t او d نه یې ډېر شد مد د لاسه کولې ایستلې . د ټي تلفظ یې داسې ؤ لکه ډي.

Whad is thad .

"اوس به نو معلومه شي چه ستا ریزرویشن او کې دی او که نه ."

زه اوس هم د ماشومتابه د وختونو په شان د انتظار په وخت کې زړه ربړدن کیږم ، لکه د امتحان نه پس چه قات شوې پرچه لاس کې در کړی ، او ته نورو همصنفانو ته شاکړې ، ستر ګې پټې کړې او د ټولو بزرګانو د ننګولو نه پس پارچه پرانیزې . ما تل فکر کاوه چه په پرچه کې به په سره خط "ناکام مطلق" لیکل شوي وي ، خو چه بیا ګورې خیر خیریت څه چه لا اول نمره یې .

د ډېرو شیبو د انتظار نه پس کمپیوټر ، ټرهاری شروع کړ زر زر یې څه شی لیکل او هندو په چوکۍ کې ورته را نیغ شو . د کمپیوټر د لیک سره یې سر له چپ نه ښي ته ښورا وه او صفا د کمپیوټر پښتې یې کولې . چه د کمپیوټر زړه تش و نو هندو را ته وویل:

هر څه سم دی . "

بیانو پاڅېد په یوه بل کمپیوټر کې یې خالي ټکټ کېښود او هغې بیا پخپله زما ټکټ لیکه په لیکه کوز ښوپاوه او ټول معلومات یې ولیکل .

"دادې ټکټ دی. د مارچ په پنځلس ، څلور بجې د واشنګټن نه نیویارک ته ، په یوولسو بجو له نیویاک نه فرانکفورټ ته ، د مارچ په شپاړسم ، درې بجې د

فرانکفورټ نه اسلام آباد ته ، هلته د مارچ په اوه لسم، نه بلکه اتلسم د سهار په لسو بجو رسېږي . بیا درې ساعته ځنډ لري او په دوولسو بجو په فوکر الوتکه کې پېښور ته، یوه بجه پېښور ته رسېږي ."

ددوه طرفه ټکټ بیه یوولس سوه ډالره وه ، هغه مې نغدې ورکړې . اوس به یې څه د هندو سره سپینوې چه دا چک واخله ، دا مې تذکره ، دا مې پاسپورټ ، دا مې آدرس ، او دی به داسې د شک او سپکاوې په نظر در ته گوری لکه چه هر څه جعلی وی .

چه هر څه خلاص شو نو بیا لکه څه وینا چه یې زړه کې وی یوه ښایسته اوږده شیبه یې راته ځیر ځیر وکتل او بیا یې ژبه په شونډو تېره کړه ، لکه بل فکر چه ورغلی وی . نو یې د قهوې ست را ته وکړ . ما د "نه" ځواب ته خوله جوړوله خو دده ستر گو ته مې چه ، وکتل، یو تت شانې برقی جرکټ ګړ غړېد ، کښېناستم . دی هم د میز له شا زما خوا ته راغی او په دوو کوچونو کښیناستلو .

"بوره او کریم ورسره خورې که توره قهوه ؟"

"دوه کشوږې بوره ، یوه کشوره کریم ،لطفاً"

قهوه نه وه بلا وه . په مدار مدار او په انگریزی اصطلاح slow motion د قهوې د براس په شان ، د پېژندگلو یوه تنه ښکالو را پورته کېده . لکه د نشې ځاځکی چه پلو او رگونو ته لار خلاصوی . خاطرې را پنځېدلې ، خو سر مې نه خلاصېده .

××××××××

د نندلال د بجازۍ دوکان د کلیوالو ورځنی تحویلخانه وه . چا به د تېلو ډبه په کې پرېښوده چه مازیگر به یې ور نه ډکوي . بل به د دوکان مخې ته د ویالی په څنډه خپل وری چه د منډیې نه یې اخیستی و د ونې پورې تړلی و ، چه د ټکځ و پوک د اخیستلو نه پس به یې کلی ته ډری (د ورې د شړلو غړ) کوی . چا به خپله سیا سره چه د حکیم نبال سینگ د معاینې د پاره یې د کلی نه راوستې وه د ونې لاندې پرېښې وه چه ښا ہې ماښام د ځان پسې قنجو غه کړې.

دا کومه یواږخېزه معامله هم نه وه ، چه یره هندو دی، ایمان نه لری ،نو راځه هر امر چه پرې کوې دی به یې منی . کلیوالو هم د اخلاص کمی نه کاوه تړلو په ځانونو باندې د نندلال کالنی قلنگ منلی و . چاور ته د خوراک چرگان پوره

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

کول، چاورته په اوړي غنم او په منی وریژې را وړې . د میوو او خر بوزو خو د خره بارو نه وُچه هر سهار چه موږ مکتب ته تلو د نندلال د دوکان مخې ته به دلې پراته وو. موږ هلکانو به نندلال ته لمن لمن د کشپانو هگۍ وروړولې ، چه دی د هغې نه په حکیم نیالسنگ باندې ځانته معجونونه او کوشتې جوړې کړی.

کله به د یوه ډله نورو هندوانو سره زموږ د کلی باغ ته راغی او میلې به یې کولې . زموږ د لاس خواړه خو معلومداره ددوی د خوراک نه ، نو سابه ، و چه ډوډۍ او د پخلی نور سامان به مو ورته راوړ او دوی به خو ته نکه (دیگچه پزانی ) کوله . موږ هلکانو به د باغ د دیوال د چاودنه ننداره کوله چه هندو څنگه ډوډۍ خوری .

د نندلال تر مشری لاندې به هندوانو د جشن په ورځو کې ، د ښار په چمن کې ، د لالټینو نو رڼا ته هر ماښام ، د تورو د جنگ نمایش ورکاوه ، بلې خواته به سکهانو په لرگیو او کړکو لکړ بازی کوله .

د نندلال لور ، میترا ، هم د مکتب نه پس د پلار په دوکان کې کار کاوه . کوم مکتب ؟ زما په خیال هندوانو د خپلې کوځې په درمسال کې ځانله هندوانی مکتب در لود ، ځکه چه هغه وخت خو د نجونو مکتب نه و ، او میترا به یوائې پس له غرمې ، هغه وخت چه به موږ هم رخصت شوو ، دوکان ته ورسېده . دا میترا ښایستو کې وه ، یا به موږ کلیوالو هلکانو ته هره ښاری نجلۍ ښایسته برېښېده . میترا سپینه وه خو په سپین کې د هندوانو په دود یو څه ژیړبخونه . نری لکه لښته ، جگه ، ویښتان یې تر زنگنو پورې رسېدل او د پیوکي سره ان په زری غژغژی پېنو لگېدل .

ها خواته د حکیم نیال سنگ دوکان و . د شیشگی په شان ببر ، ناشولته ، قهر جنې سترگې ، سود خور . دده پسې خلکو ویلی ، پلانکی تیار حکیم نیال - سنگی دی چه دواړه یې خطا دی .

د نیال سنگی یو زوی و چه سکیرانو مېده او د خان آباد د بچه بازانو زړونه ور پسې وران وو، ستر گو یې خوړل کول او اوس چه فکر کوم ، د حمید بابا د سپوږمۍ او هالې خبره ورسره جوړېده ، یره پنځلس کلن به و . د ښار میرزا یانو پخپلو کې یوه ه شاعره ورپسې جوړه کړې وه چه یو فرد مې په یاد دی :

"دل برده ز من باز دو چشمان سکیرا "
د ښار لنډه غران هر ماز بگر حق نا حقه د حکیم نیال سنګی د دوکان مخې ته تېرېدل او د هلک د پلار زورلې او ګواښونه به یې ګالل . کله به یې پنځه شپږ للمی ختکی سره راوړل او د "چشک" شرط به یې وریاندې واهه ، نو بیا به یې سکیرا قاضی کړ چه وګوری د چا ختکی خوږ دی . داسې ښکارېده چه د سکیرا هم د ځوانانو دا دومره توجه او سپی سپی کېدل خوښېدل او هر یوه ته به یې یوه نرۍ معصومانه او د خوش طبعۍ موسکا کوله . مګر پلار یې ډېر روی و او شور ماشور به یې جوړ کړی و . یوه ورځ چه هلکانو ډېر په عذاب کړی و په خپل دوکان کې ناست و او ژړل یې شاوخوا ورنه کلیوال را ټول ؤ چه د لاسایې کړی . ده ویل " خدای قسم چه نور تاسو ته دارو نه ور کوم ، زهر ور کوم ، سنګتیا ور کوم . په دارو کې د شپږ د بروت ویښته اچوم چه مړ وشئ . "
نندلال چه خیر من هندو و د خپل دوکان مخې ته د ونې لاندې د اوبو یوه چاټی خښنه کړې وه او په اوړی کې به یې هره ورځ هغه د ښا د اوبو او واورو نه چه دده ویران نه په خره راوړل کېده ، ډکوله . ځینې لنډه غران به د اوبو په پلمه ورغلل ، د ټیم دوه ګیلا سونه هم په چاټۍ پورې تړلی وو ، لنډه غرانو به ګیلاس ډک کړ او بیا به یې په غوړپ غوړپ هغه څښلې او د سکیرا ننداره به یې کوله .
نیال سنګی یوه ورځ په غوسه شو ، راغی اول یې په چاټۍ کې متیازې وکړې او بیا یې هغه د خځلو نه ډکه کړه ، بیا یې په تیږو ماته کړه ، کلیوالو ورپسې خندل "نیال سنګه ، د او له به دې ماته کړې وه چه متیازې او خځلې خو در ته پاتې شوی واې . " په همدې خبر د نندلال چه هندو و ، د نیال سنګ سره چه سکهو ، ورانه شوه او یوه د بل غیبتو نه به یې کول .
مېترا هم لوییده او د خدای کړه د سکیرا سره یې ګوتې خوږې شوې. خبره په ټول ښار کې مشهوره شوه او کلیوال خو بې هغې هم په ښاری نزاکت رای نه وهی ، د هندو نه خو یې هېڅ سترګې نه سوځی ، نو نندلال ته به یې کله کله دا خبره هم یادوله . یوه ورځ زه حاضر وم چه زموږ د کلی مشر ، ارباب نعیم ، ور ته وویل "لاله ، زه دا خبره د تجربې در ته کوم . نجلۍ دې چه پیغله شوه . زیاتې یې چاته ور نکاح کړه . " بیا یې لکه چه خپلې خبرې ته پام شو او کوښښ یې کړه " مسخد مې دادی چه خپله هندوانی نکاح پرې وتړه ، چېرته در مسال ته یې بوځه یا زېړې غوا ته ، خو هره بلا چه کوې ، نجلۍ دغه د نیال سنګی زوی ته

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

ور کړه او سر يې په کور کړه یا په گور. " عجیبه لا دا چه نند لال دده په خوا - خوږۍ پوه شو او د خپل زړه غوته یې پرانیسته " ما به میترا ورکړې وه ، خو سکیرا سکه دی او د تا سو د ملا خبره زما د لور سره یې نکاح نه خیژی؟"
ارباپ نعیم ور ته وویل " خو هلک دې بسلمان شی ، مسخد مې دی هندو دې شی کـه نه . مـوږ تـه دواړه یو شکاری ، یو یې پشم الله (ریږور) دی او بـل یې صفی الله (مخ یې صفا خریبلی) . نند لال دې توکې او د ارباپ ساده توب ته موسک شو ، او بیا یې وویل "ځه ، الله دې خیر کړی. " یوه ورځ خبر شوو چه میترا هندوستان ته تللې ، نندلال ویل ، د تداوی د پاره ، خو نیال سنگی ویل چه د سردار جی د ویرې.
د قسمت خبره وه چه په بل کال یې د نیال سنگ زوی ، سکیرا لادر که شو او وروسته خبر شوو چه د میترا پسې هندوستان ته لاړدی. څو کاله پس ، د نندلال او نیال سینگ دښمنی هم ختمه شوه ،خبر راغی چه میترا او سکیرا واده کړی . نندلال ویل چه سکیرا د سکه د دین نه اوښتی او هندو شوي دی. نیال سنگ ویل چه . . . . به یې هندو شی .
+ + + + + + + + + +
قهوه مې چه خلاصه کړه نو زما خیال پلو او ذ خاطرو بهیر هم ختم شوی و ، ودربدم او د هندو سره مې لاس ورکړ. هغه وویل " ته یوه دقیقه ودرېږه. " لاړد میز نه یې د لوټونو یو بنډل را وایست . دوه سلگون یې ترې را وایستل او ما ته یې ونیول ."
"په دې څه وکړم ؟"
"بس په تا گټه نه کوم ."
"ولې زه درته خوار ښکاره شوم که څنگه ؟"
"نه"
"نو په دې رو پیو څه وکړم ؟"
"چه پیښور ته ورسېدې ، وطنداړانو ته یې ورکړه ."
"د چا وطنداړانو ته ؟ زما که ستا ؟"
"نه ، ستا وطنداړانو ته . زه خو هندی یم ."
زه هک اریان پاتې شوم .
د سفر نه یوه ورځ د مخه څه دوستان د خدای پامانۍ د پاره راغلي وو . ځینو د

خپلوانو د پاره روپۍ را کړې ، څښتو نور تک پوک . په همدې کې د هندوکیسه را یاده شوه او ملګرو ته مې تېره کړه . ټولو شاباسی وایه او یو څه د ځانه شرمېدل هم چه هندو زمونږ مهاجرو ته ډالر استوی او مونږ چه څه پیدا کړو یوائې یې خپلې کورنۍ ته لیږو . په همدې کې یوه ملګری را ته وویل چه دی هم په منی پېښور ته ځی او د مسافرت د همدې دفتر تلفون یې را نه وغوښت . د هغوی کارټ زما د الوتکی د ټکټ پورې سنجاق شوی و ، هغه مې را بیل کړ او ملګری ته مې ور کړ . هغه ولوست :

World Travel Bureau
Sakira & Mitra,Agents

د نړیوال مسافرت دفتر
سکیرا او میترا نمایندګان
زما د حیرانی اټکل تاسو کولی شئ .

# د زهرو هزارې

زما پلار درې ښځې لرلې، چه یوه په لنگون مړه شوه ایله یې ځلوښتې پوره وه چه بله یې وکړه. دهغې د راتگ په دویم کال د زهرو هزارې را پیدا شوه. دا یوه هزاره بوډۍ وه او په هفته کې به مو یو ځلې لېده چه د شولو په هغه اوړده پوله باندې به را روانه وه چه د عمومي سړک نه زموږ کلا ته را غځېدلې وه. پلار مې زموږ کلا د شولو د پټیو په مینځ کې په خپل لاس جوړه کړې وه. په اول کې موږ ماشومانو دوه ستوې هزارې بلله ځکه چه سر یې نژدې په زنگنو را ځوړند و او ځینو به غبرگه انۍ بلله.

هسې خو نورو فریقو هم په کلي گشت کاوه، لکه هغه ځنیوړ منگل چه اول به یې د کاله د مشر زوی د نامه مثلاً صدیق، پوښتنه کوله او بیا به یې بدل داسې شروع کړه، "د صادیک جان کوراخ کوراخ برېتینه، په میدان کوی جنگینه، چه وگوری زمري، بړېندونه (مړوندونه) ی مو توی. چه وریچښې راوځی، تش کچکول ار (را) ډکوی."

یا هغه سړی چه د آس خورجینه به یې د گازرو ډکه وه او په غنمو به یې موږ ته را کولې.

په دغو کې د عرب قریش په نامه یوه طایفه هم وه چه ښځگله به یې لکه لېوان ډله ډله په کورو نو ننوتل او ښځو فالونه به یې کتل. دغو ښځو هم درویزه کوله او هم به یې یو ډول تېره توب او گواښونه کول. تبرگی او د یرغی (یو قسم سوریخته ځنگلی ونه.) د لرگی لکړې په لاس کې، اوږدې چپنې اغوستې، چه به په کاله ننوتل نو د ښځو غړی به له وېرې و تښتېدل او سمدلاسه به یې کڅوړې په وریژو او غنمو ورډکې کړې. د ښځو لاسونه به یې په زور کش کړل چه راځه فال دې وینم. د ښځو، په تېره چه یواځې به وې، ژبون ووهلې شو. یوې به فال کوت او د بلې به چه کوم لوښی ته به یې گوته ونیوله، په ریږدنده او د اسرارو نه په ډک غږ وویل، "شوقم در همون رفته." مانا همداشی دی چه زما نظر پرې لگېدلی دی او که رایې نه کړې نو زما ښېرا به دې لولپه کړی.

د همدغې طایفې نارینه وو به خره غلا کول او یا به یې الښول. خلکو به عرب

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.

خر دز بلل او د دوی پسې یې دا ویله چه یو ډنګر خر به یې په وړیا اخیست او بیا یې په کوم ځای ، مثلاً ښنګری کې سوری جوړ کړ او د بایسکل په پمپ به یې هوا ور پو کله چه خر به د خیګ په شان ډډ او چاق شو ، بیا به یې لنډه په لنډو په کوم ساده کلیوال خر ځاوه او یا به یې د هغه خره سره چه دومره چاق به نه و الیشاوه . خواره کي بزګر چه خر تر کاله رساوه هغه به د باد نه پوچ شوی و او چه به بېرته د خپل خره پسې راغی نو بیا به عرب ورته په غوسه و چه ما څومره چاق خر در کړی و او تا دا خوار نجوکی شی را ته بېرته راوست .

د مدا حانو طایفه خو لا بله وه چه په کور به ننوتل او په ډېوډی کې به یې ساندې ویلې . کله کله به یې هو لوښی یا اسباب چه بیځایه به پروت و په ترخ کې وواهه او خلکو ورپسې جوړه کړې وه چه یوه به یې ویل "تېشه ی بېدسته را بر دار در کتفت بزن" او هغه بل به ورسره غبرګه کړه " من درین فکر و خیالم یا محمد الوداع "د کور خاوند با مېرمنې یې خواره کې ،چه په پارسی نه پوهېده فکر کاوه چه نعت وایی.

مګر د زهرو هزارې ، چه خلکو د زارو ازارې بلله په دې ډله کې نه راځی . دې په یوائې سر او چو په خوله کار روایی کوله . ددې مشروع کارونه خو ټولو ته معلوم وو. د سپینې دوړې او تورې دوړې خر څول خو عام کار و ، سپینه د مینې د پاره او توره د کرکې د پاره نارینه وو ته ورکول کېده. د زارو ازارې یوه بله نسخه د زمری بریت و چه که به ښځې د خپلې بنې په خوراک کې ور کړل نو کولې یې کورت کورت تویېدې . بل یې د مړی خاوره وه چه غلوبه د کور په درشایی ودوړو له نو د کاله څښتن به په درانه خوب وېده شو . د زارو ازارې د امیندوارو ښځو ډاکتری هم کوله . په نس به یې ورله کتېوه نسکوره کړه ، اور به یې تر لاندې ولګاوه او کتېوه به یې د ښځې د نس د پاسه څرخوله چه که اولاد د مور په نس کې بیځایه ځای پروت وی نو سره را ټول یې کړی .

دا خو په کور کلی کې عام شی و ، مګر یوه داسې پېښه هم وشوه چه زموږ ټول کور یې د تباهۍ په ګړنګ ودراوه .

آفت زما د پلار د دریمې ښځې سره راغی . دا نوې ښځه زموږ تر دوو نورو میندو ځوانه او په پلار منلې وه . زړو به ورته سوغه دنې کولې او چه هر کال تېرېده د نوې مور سره د نورو جنجال زیاتېده . په دریم کال معلومه شوه چه د هغې اولاد نه کېده. نو زړو به پېغورونه ور کول چه ته شنډه یې ، هغې به په

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

ځواب کې ویل چه تاسو زړې بړوې کـه پوهړې نه وای زه به یې ولې دړ باندې کولم . کله به ددې نه هنر جوړ شو . مثلا یوې زړې به بلې ته ویل ، " سړ کال خو د باغ ونو منې نه دی کړی . " هغې بلې به سر و ښوراوه او د نوې ښځې د برنډې خواته به یې وکتل او وبه یې ویل " دا خدای وهلې ونې لکه چه شنډې شوې . "
ځوانې ښځې خوړتکۍ ملګری نه درلود نو دځانه سره به لګیا شوه ، د پلار په کور کې مو دوه قنچغې (سپی) لرلې او د هر یوې د غو لانځې پسې به د ولس بچی وو ، قنچغو هره خوا خو له اچوله او یوه ورځ چاکچوله (یو قسم زهر جنې دانې چه موږ به په سیند کې واچولې او ماهیان به سپینه خیټه را ووتل . ) ور کړه ، دواړه مر دارې شوې .
ناندری به هر سهار د ګډ سبناری نه پس تر غرمې روانې وې . پلار مې چه ملا او په شریعت خبر و هر یوې ته یې د کلا په بیل دیوال پورې نښتې کوټې پټې کړې وې ، داسې چه د کلا یو دېوال د کوټې دېوال هم و . د کوټې مخې ته چوتره وه چه موږ برنډه بلله او هره مور به د مړې په شان کله کوټې ته ننه وتله او کله به برنډې ته راووتله ، لوښی به یې په تغـاره کې په ایرو مـینځل او بړستنې ، تغرونه به یې ځنډل او یا به ماشـین ته ناسـته وه ګنډل بـه یې کـول . د زړو میندو ځنګ ته به بچیان لړ او بر کېدل او د نوې مور په اوږه به کله پیشو ناسته وه او کله شارو . دا برنډه د میندو د سیالۍ او مقابلې ښه ستېج و او ما چه د هغوی بیړه لېده چه ټول کارونه ژر ژر خلاصوی چه برنډې ته راوځي نو اوس فکر کوم چه دوی د دغو ناندرو نه خوند اخیسته او نه یې غوښتل چه هغه قضا شی په تیره چه به په شپه کې کوم خوند ور پیغور ور په زړه شوی و چه پرون یې هېر شوی و . نوې ښځه نالوستې وه او کله به د هغې د ترېلو یا یې د خولې د بندولو د پاره دواړو زړو ښځو په یوه وخت کې ریلونه برنډې ته را وایستل او قرآن شریفونه به یې داوو رنګینو وریښمنو د سمالونونه په ناز و نخرو داسې ایستل چه یو یو پوښ یې ترې بیرته کاوه او په عین حال کې یې نوې مور ته کتل ، مانا چه ته څه نالوستې خره یې موږ سره به سیالی کوې . ددې مقابله نوې ښځې په دې کوله چه هره شپه به یې موږ ته د دېوانو ښاپیرو کیسې کولې او موږ به تر ناوخته د خپلو میندو د ترېو تندی د زغملو او منع کولو سره سره د ځوانې مور کوټې ته ور تلو ، هغه بلاګۍ هم دومره خوږ ژبې وه چه هیڅ مو زړه خوب ته تګ ته نه کېده او دورځې به مو هم د هغې کیسې یو بل ته تېرولې .

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

زړو مېندو به ویل ، د ...... ژبه د مار ده او ستا سو پلار یې په همدې پستې ژبې ځانله کړی دی . بلې زړې مور به ویل ، که دا مار ده ما سره هم د آخون موسا صیب اوده ده . نوې مور به د کېسو په شپه وچ تو تان او د مندتو زړی راته په تغر خوړه کړل ، بیا به دې کیسه کوله او مور به شخوندونه وهل او دې ته به غوږ وو .

د مېندو د سهار د ناندرو یوه کېسه د زېړې غوا وه ، د.......... مورې هغه زمور زېړه غوا دې یاد ده ؟هغې بلې به وویل ، ه " هغه بوره ښیې چه مور ورته ډډی (دبوسو سخی) جوړ کړی و ؟" د هغې په ځواب کې به نوې مور د خپل پلار د تکارې غوا کیسه کوله چه خپل بچی یې هم په ښکر وهل او بیا نو دوی دې سخی ته د غړه کې نه غولا نځه جوړه کړې وه او د چوشک په شان یې په خوله کې ورکوله . بیا به نو نوې مور دا هم ورسره غبر گه کړه ،" یوه ورځ مې پلار وویل چه دا غوانه ده ، سپې ده چه اولاد هم تر تېرا دی ، ایسته یې حلاله کړه . " ځکله خو به یې د اولاد په برخه کې غوښ حکم کاوه ،" مرغ کم ، گویش کم " .

یو خو زړې مېندې دډېرو تجربو نه پخپل فن کې استادانې وې او بل " په یوې باندې چه دوه شی ، رڼا ورځ پرې توره شپه شی ،" لکه چه نوې مور پلار ته شکایتونه شروع کړي وو ، ځکه یوه ورځ د سبناری په وخت ، مې پلار غاړه تازه کړه ، او دایې د خبرود پیل علامه وه ، ټولو ته یې وویل ، " هلکانو او سیاسرو ، کشر مشر و پیژنئ ، د مشر احترام وکړئ او مشران او مشرانې دې هم ځان ځانونه نه ورکوی ، بادیگر که شکایت واورم ، په کوتک به مو کلیمه درسیخه کړم . دا کافی قوی گواښ و ځکه پلار مې هیڅکله په کور کې وهل ډبول نه کول او لویه ښکنځل یې دا وه چه " کدو سریه سم شه !"

پخپل حساب یې کور کې عدالت هم ساتلی و . که به یې کالی راوړل او که اسباب ټولو ته یو شان . که به یې چاینکې او پیالې اخیستې نو درې دانې یا درې درځنه به وو، په یو قسم خو بیل رنگونه چه یوه په بلې دعوه و نه کړی . حتی درو واړو ته یې سنگر ماشینونه اخیستی وو ، البته د نوې ښځې هماغه و چه د هغې مړې شوې بنې نه په کور کې پاتې و .

د وخت په تېرېدو د نوې ښځې وارخطایی زیاتېده او اوس یې ټول کور کلی په شنه توب خبر و . په همدې وخت کې د زهرو د هزارې تگ را تگ او د نوې مور

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

سره گونگو سی هم زیات شو .

د کلا په مېنځ کې یوه چوتره وه چه په درو گوټو نو کې لوی چنارونه ولاړ وُاو گاونډو به مې د پلار پورې ویل چه دومره د عدالت پسې گرځی چه د هرې ښځې د پاره یې بیل چنار ایښی دی . په دې صفه باندې تغرونه غوړېدلی وو او یوه کونج ته یې یوه نبا لیچه وه چه د ابا د ناستی ځای و یو بالښت هم چنار ته تکیه و . د چوترې نه لاندې په یوه لوی روسی سماوار کې او به ایشول کېدې او چای به هم په کې واچول شو . دوه لویې تورې چایبرې به ترې ډکې شوې . د سماوار څنگ ته د نغرئ د پاسه د شیر چایو یو دیگی هم ایښېده . د ابا د پاره بېل چای او شیر چای دمېده ، مور خو به د پخال چای په نامه یو بد بویه چای څښه خو ابا ته به مې په ورو ډبلیو کې د فامل په نامه چای و چه د هغې نه به شیر چای جوړېده ..بل فرق دا و چه پلار مې په شودو کې بوره هم خوړله او مور ته په شیر چای کې مالگه اچول کېده چه مور به شور چای باله او په کتغن کې رواج و . دابا پیاله لاستیوره وه او د نورو ، ا زبکی بې لاستې پیالې وې او که به د چا پیاله تر نورو غټه وه نو ټولو به ور ته بد بد کتلې .

یوه ورځ وروسته تر شور چایه ټولو پیالې کنگال کړې او د تورو چایبرو نه یې تریخ چای په کې واچاوه ، نو زما خور په اول گړوت تندی تر یو کړ ، یوې مور چه غوړپ وکړ نو زر یې د صفې څنډې ته تو کړ او چیغه یې کړه "دا خو مرچ دي؟"

د ټولو خپلو پیالو ته پام شو چه د سرو دل شوو مرچو ټوټې او زیړې دانې په کې پرتې وې . د ابا چاینکه خو بیله وه خو پوښتنه یې وکړه چه څه چل دی ؟ یوې زړې مور په هماغه مخصوص غږ چه ښځې یې د بغاوت په وخت کې د ایستلو جرآت کوی وویل ، "نور نو څه چل غواړې ، نازولې ښځې دې سره مرچ په سماوار کې دوړولی دی ." نوې ښځې په قسمونو او ژړا انگو لا پېښه وکړه تر دې حده یې په بېوزلی کریغې وهلې چه د ابا زړه وربانده وسو ځېد او وې ویل ، "کرار شئ دا د کوم شیطان ماشوم کار دی ." بیا یې نو دواړو خواوته په خپلو تکراری نصیحتونو پیل وکړ او مور هلکانو به تل ویل چه ابا هم قرآن ضوت کړی او هم نصیحت ..

میاشت لا نه وه تېره چه اصلی پېښه وشوه . د اوړی یوه غرمه بیا د نوې مور د پخلی وار و او دا نو د آش برېده ورځ وه . اوړه واغږی ، لامده یې کړی ، په تبخې یې واچوی او په گز باندې یې هوار کړی . بیا یې په چاړه باندې د سېمیانو

(مانچو) په شان اوړه ده غوښ کړی ، لمر ته یې واچوی چه رنګ یې لږ سور بخن شي ، هله یې نو د خوټېدلو اوبو ډک دیګی ته چه سره کړی پیاز په کې پراته وی ور واچوی . ددې سره سارا یی سابه په تېره ورخاړی چه تروسکن وی او تازه دنیا ګډ کړی او بیا چه پاخه شول نو هر بوه ته په بیله کاسه کې واچوی ، مستې یا کروت ورسره ګډ کړی او په لرګېنې خمڅی یې تاوده تاوده شړپوی .

په دې ورځ هم ټولو خپلې کاسې ډکې کړې . د جمعې ورځ وه ، ابا لکه دا ټول عمر د جمعې د لمانځه د پاره ښار ته د محب الله خان جومات ته لاړ و او هماغلته یې د خپل یوه دوست په دوکان ډوډۍ خوره .

چه شپه شوه نو زموږ د کورنۍ ټولو غړو یو بل ته د نس خوږ شکایت کاوه ، یو څه وروسته د ځینو سرونه ګرځېدل او خوایی را هسکېده . نیمه شپه کانګې شروع شوې نوې ښځه خو پخپله کوټه کې وه او موږ نه لېده مګر دا نورې دوې برنډې د اخ و ټوخ او زګېروبونه ډکې وې . بس ټولو نسونه نیولي وو او د درمن د غوبانو د غوبل په دود ګرد تاوېدل . بیا به نو چاد دې اتن کړی ماته کړه او د برنډې څنډې ته به ورغی چه کانګې وکړي . دا کیسه تر سهاره روانه وه او حتی په سبا یې هم د ځینو د پوزو نه زېړې او به را تلی . زرو مېندو خپلې د سپینو چمکلی را وایستې او د هغې پولۍ به یې په تېره ، سولولی او به به یې وربانډې پرخولې او موږ ته به یې را کولې . الزام واضح و ، نوې ښځې په آش بریده کې سنکیا ګډه کړې ده .

دخدای کارونه و ، هیڅوک په دې پېښه کې تلف نه شول . پلار مې تاندې لښتې ورته پرې کړې ، یو درځن . بیانو ښځه پرته وه او ده تر هغې وهله چه په لښته کې به یوا ځې ، د پوټکو رښکې پاتې شوې . بیا به یې بله لښته را واخیسته ، په شپږمې لښتې ښځه بې سده شوه او زړو مېندو د پلار ربړه ونیوله چه زیاتی نو بس دی .

له هغې وروسته نور زموږ د کاله خلکو ته خصومت کېده وکړه او هر چا به د هر کانۍ لاندې لرم کېوت او په هر خوړه به یې په الا بسملا شکه کوله زموږ د رازونو او اسرار و ډک کور چه کلیوالو به وربانډې رخه کوله ، زموږ د مېندو دقرآن لوستو او سواد ته به حیران وو او س بنګ بنګرا پروت او د کلی د پیغورونو و .

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

د زهرو هزارې نوره غیبه شوه .

په کلی کې آوازې د جولا د ماکو په شان رغښتلې او بلکه نورو کلو ته خپرې شوې . بزگرانو به کالونه دا پېښه یادوله او ټوکې او شعرونه یې وریسې جوړ کړی وو . چه به په کوم کور کې آش بریده پخېده نو ښځو به سره ټوکې کولې ، " دا څه آش بریده ده ، آش بریده خو د ملا .... د کورنۍ خوند کوی . " بل به ویل خبر په مسالې کې ده . دا شعر عام شوی و

آش بریدې د مسالې سره ډېر خوند کوی
آش بریدې د کچولې ( یو ډول زهر جن زړی دی ) سره خوند کوی .
آش بریدې د بن گکۍ د لاسه خوند کوی
آش بریدې د شنډه کۍ د لاسه خوند کوی.

له هغې ورځې اوس څه کم نیمه پیړۍ تېرېږي ، درې واړه مېندې مړې دي ، ابا هم مړ دی او اکثر کلیوال مړه دي خو تر اوسه زه په چرت کې یم چه په رښتیا به ځوانې مور موږ ته زهر را کړي وي او که نه هسې تسمم غذایی و.

# نرکیشکر

د منی یو زېړ مـازیګر و چه یوه لویه لارۍ زمـوږ کلی ته راغله . ټول خلک پوهېدل چه میرزا مومن دی ، تقاعد شوی او د خپلې کورنۍ سره هغه کور ته راکډه شوی چه ښځې ته یې له پلاره میراثی پاتې و او دوی به هر کال یو ځلی ور ته راتلل دا ځل دایمی راغلی وو . ښـځـه پښـتنه وه او میـرزا صـاحب پوخ کـابلی . یو درځن ووړکي جـینکۍ هم له مـوټره کـوزې شـوې . نور کلیـوال د جومات په برنډه کې پاتې شول ، ځکه چه تور سرې هم د میرزا صاحب سره وې خو دوه سپین ږیری ور کوز شول ، د میرزا صاحب سره یې روغبړ وکړ او په موږ هلکانو یې غږ وکړ ، هلئ پهلوانانو ، دا کالی به د میرزا صاحب کور ته کړئ .

موږ له خدایه دا غوښته چه دا نا آشنا خلک چه پس له دې به مو ور سره سروی وپېژنو . په دې نیمه خوا شوو چه زموږ په منګ هلک ورکې نه و .

ورځې او هفتې پسې اوښتې او میرزا صاحب زموږ نېمه کلیوال شو . څو ځلی خلکو مېلمـه کړ او یو ځلې ده هم د کلی مـخورو ته ډوډۍ وکړه . کلیـوالو وروسته ویل چه د میرزا صاحب ډوډۍ خوند کوی خو دوه کمبوتۍ په کې دی . لکه مړز ته چه ږدن اچوې ، په ووړو ووړو قابو کې یې نیمه څمڅۍ رنګه شیـان اچولی وو او ویل یې چه دا سـالنګ دی . بله دا چه د وریژو زاره ورکـې چوی ، اول یې ایشوی او بیا یی خوندورې او به ټولې تویوی او خوند یې داسې وی لکه چه سړی په مالوچو شخوند وهی . دغه سالنونه او واړه قابونه موږ کلیوالو چنداني نه پېژندل او زموږ لویه مېلمستیا د وریژو او ګره وه او که به نرۍ وریژې وې هغه به هم د میرزا د وریژو په شان نه وې ، دم پخت به وې ، د پسه غوښه به ور باندې انبار وه . موږ خپله ، کوم وخت به چه غوښه راته پیدا شوه ښوروا خواره وو او د هغې دلیل هم معلوم دی ، چه هر چا ته یو غوړپ رسیږی ..

میرزا صاحب اوس قره قولی خولۍ چه چا کور کورۍ بلله او چا پپاخه ، دا یې پرېښی وه او لونګۍ یې تړله . خو ترڅو ده ته د لونګۍ د تړلو چل ور ته دوه اخترونه تېروو . د لونګۍ تړل هم ځانله طریقه لری او د هر سړی سبک هم بیل

دی چه بیا یې اولاده هم همداسې تږی هو ددې کاله تېرېدو مارک شی . میرزا صاحب شبک هم بالاخره پوخ شو . لونګی یې داسې تړله ، لکه دچرګ چرخول جګه سو لکه یې وه او دده سر یې هغې هم دچومبې په شان نری و نو لونګی وربانديې داسې ښکارېده لکه ختیکی چه په اوږ دوږي په سربانديې کیږدی . میرزا صاحب هم دنورو تقاعدیانو په شان چه په یوه کال کې دننه مری ، په ملاکړوپ شو .

ورو ورور زموږ ماشومانو هم ور پورې حیانه کېده . کله چه هلکانو دسپرلوغونډه ( یو قسم توپ بازی ده چه توپ یا مرغی هواته وولی او که حریف ونیو بیا په توپ وهونکی سپرېږی ) او چه دی به تېر شونو خدازده داد چا ابتکار وچه ټولو به غږ کړ « نرکیشکر ، مات یې وزر » .

ورو ورو داخبره خپرېده چه حتی لویانو به هم پس شامیرزا صاحب نرکیشکر باله . دی خپله خو خدای بښلی اوساده سړی و خو دده کورنی ، غالباً دهغه ګړنګن زوی ، چه هیچا به په لوبه کې نه پرېښود او دی به ګوروم ، تریو تندی دمیدانه بهر ناستو ، خپل پلار ته کیسه تېره کړې وی . موږ پوهېدو چه دی پوه شوی دی ، ځکه چه کله چه به دی تېرېده ، نو موږ به لاکیش نه وو ویلي چه دده به په ماته ګوډه پښتو دمور ښکنځلې راته کولې او ګامونه به یې چټک کړل چه غږ مو وانه وری . اوس پوهیږم چه دا څومره سخته ده چه سړی دکلی د خندا شی . ثنا ولا کاکا دکلی ټوکمار و او خلکو به دده هرې خبرې ته خندل ، په دې کې باک نشته ، ځکه کلیوالو په دده ، بلکه دده سره خندل ، خو نرکیشکر خواره کی دخلکو دملنډوشی . داټوکه هم ورپسې شوې وه چه د میرزا صاحب ښځه هم دملا په درد اخته او شله شوې وه . او چه په جومات کې خلکو دهغې پوښتنه کوله نو دده ویل « شکر اوس ښې دي ، لکل ( لکړ ) په ځی » او داسې وخت راغی چه زیاتي جومات ته هم نه راووت . بیا به مونو دده دزامنو او لونو نه کسات اخیسته او لا به له کاله وتلی نه وو چه موږ به د کیشکر ترانه ورپسې روانه کړه ، ان تردې حده چې دکښشکرې ښکاربه مو وکړ او بیا به مو مړ کښشکر ددوی ددروازې پورې وتاړه . دزنانه وو پسې به مو هغه دراد یو بدله ویله چه وایی . لیلا ولاړه ، سره لاسونه نری غاړه ، تور کجیر نری یې غاړه ، هو ، لیلا لاړه . موږ به د تور کجیر په ځای نر کیشکر ویل :

ورو ورو دمیرزا صاحب او کلی رابطه شلېده او حتی ماشومان یې هم چه په مکتب کې وو نیغ مکتب ته او بیا نیغ کورته ننوتل .

څه به مو سر خوړوم ، د خدای کړه و ، پاچا ګرځشي شوه او کمونستان راغلل . ورسره زموږ مکتبونو ته سره بیرغونه او خلقي ترانې راغلې . د میرزا صاحب هلکان د ترانو کپتانان او د مارشونو مشران شول او نجونو یې رنګین پاچ ټکري اغوستل او اتڼونه به یې کول . د خلقیانو او له غونډه د کلي په جومات کې وه او میرزا صاحب ور ته په فارسي لویه پر پره ولوسته چه موږ یې په مانا پوه نه شوو خو لکه چه د مشرانو خوښه شوې نه وه .

کال و سر همدا مامله وه . ترانې ، مارشونه . خلکو لا هم پروانه کوله او ځینې لا په دې خوشاله و چه مځکو د ویش فرمان به د ګاونډی د زمکه دوی په برخه کړي .

زموږ په کلي کې یو داسې معلم هم و چه خلکو به ویل خلقي دی او کوم وخت یې د حفیظ الله امین وروړ پخپل کور کې میلمه کړی هم و .

په همدې کې آوازه شوه چه کابل روسانو نیولی دی . موږ یې نوره نښه نه لیده خو هغه د کلي خلقي تری تم شو په کلي کې یو څه ترور تیا خپره شوه . یو خو د اسلام او کفر خبره وه ، بله دا چه روس د قدیمه په خلکو کې د نجس او خنزیر په صفت پیژندل شوی و چه د خلکو له وینو بوره جوړوی ، د ماغزونه یې تیل وباسي ، په زنا کې هم تیار خوکان دی چه نه وخت پیژني نه نا وخت ، نه مخ پیژني او نه څټ .

خلک له میرزا صاحب نه ویرېدل . موږ یې د نر کیشکر د ترانې نه منعه کړي وو او چه به میرزا صاحب یا دده اولاد څوک تېرېده ، چا به سپین نه شو کولی ، بلکه مشرانو به په ادب سلام ورکاوه . دده په شونډو به د تېر ېدو په وخت یوه نری موسکا ناسته وه چه کلیوالو به ویل ددې مانا داده چه خدا که به یو رانه خلاص شئ . میرزا صاحب بیرته جماعت ته راتګ شروع کړ او د مازیګر تر لمانځه وروسته به یې کلیوالو ته د کابل احوالات بیانول ، ځکه ده رادیو لرله او بي بي سي او د امریکې غږ رادیو به یې اورېدله . څه پښتو کړ کیچو او څه خبرې زموږ د پوهې نه اوچتې ، موږ پرې سم نه پوهېدلو خو یو ماښام یې د مقتدا صاحب په نامه کوم شخص یاداوه چه ویلې جهاد یې اعلان کړی دی .

بله ورځ دخالص مولوی نوم یاد شو . د امریکې نوم یاد شو چه روسانو ته یې ویلي چه نا حقه په افغانستان ورغلئ او د کوم انګریز نوم یې یاد کړ چه د روسانو مشر ته یې ویلي وو چه تاسې بایده دی چه زموږ نه پوښتنه کړې وای چه د افغانانو نه لاس په سر شوو . خو چه میرزا به نه و نو لویانو به موږ هلکانو

ته ویل چه پام دا خبرې چاته ونه کړئ او بیا به یې یو بل ته خبر داری ورکاوه چه د میرزا صاحب سره د زړه خواله ونه کړو ، ځکه چه هغه د خلقیانو ځری دی هغه خلقي معلم نور ورک و خو موږ ټول خلقیان بلل .

خو خدازده ځنګه چل شو چه یوه ورځ د خلقیانو یو جیپ جومات ته راغی ، یو په کې کابلي و او دوه نور سره روسان. خلک یې را ټول کړل او یوه اوږده وینا یې وکړه . وینا روسی کوله خو ترجمان یې پارسیوان و او موږ چندانې پرې پوه نه شوو ، خو دشمن دشمن یې ډېر وایه . کلیوال غلي او هوښیار ورته ولاړ ووخو خدازده چه سر یې خلاصېده که نه .میرزا صاحب هم ګوټ کې ولاړ و او د کلیوالو د اتیکل خلاف د ښه راغلئ مقاله یې نه لوسته .

د ولاړې مجلس و ، کلیوال په مخکه او راغلي خلک په جیپ باندې ولاړ . په آخر کې ترجمان غږ کړ چه که څوک پوښتنه لري . یوه کلیوال ووېل چه خدای پاک دې دین دولت پهٔ اسلام ولاړ او بر قراره لري . ترجمه په روسي ښه ونه لګېده او ویې ویل چه دولت د خلکو دیٌ د ملایانو او نهٔ سود خورو دی .

یا به ترجمان د ځانه دا ویلي وی . روسي نورو ته کتل او خوب خوب یې لړل چه که بله پوښتنه یا تبصره نه وی نو دوی روانیږی . په همدې وخت کې میرزا صاحب غاړه صافه کړه او ترجمان ته یې وویل چه د سر مهندس صاحب نه دې پرسان وکړ چه تاسو څوک افغانستان ته دعوت کلي دی ؟ نا څاپه لکه د یو برق کمزوری جریان چه په یوه نری مزی کې تېر شي او دا مزی بیا په ټول مجلس کې دهر چاپه ورمېږ ولګیږی ، یوه جټکه ، یوه سابندی او یوه کرختی خوره شوه . ترجمان په ژړ ویلي او توره لهجه د میرزا صاحب خبره حلاله مرداره روسي ته ترجمه کړه . روسي کلیوالو ته ځیر و چه په بې نوره سترګو یې پاس د آسمان کټ ته کتل .

دا یې لا څه چه میرزا صاحب پخپله ځانته ځواب ورکړ ، "حفیظ الله امین که روسان دعوت کلي وی نو مانا یې دا شو چه " نوره یې په فارسي کړه ، "خر ګرګه بګویه که بیا قرض با بیته بګی ."

روسي په ترجمه پوه نه شو ، یوائې یې خر خر تکراراوه او سر یې ښوراوه . بیانو دخپل جیپ او ترجمانه سره یې خدای پاماني لاړ .

چه کلیوال بېرته جومات ته ننوتل نو میرزا صاحب یې هم د ځانه راووست . موږ هلکان په برنډه کې ورته ولاړ وو . د میرزا صاحب زوی هم چه ایله اوس یو

څه د لوبو شوی و زمونږ نه لرې د برنډې په ستنې ډډه لګولې وه او مونږ ته یې نه کتل . د روسی راتګ ټول وارخطا کړی وو . لویان په جومات کې وو او مونږ یې حتی د ګونګوسی د اورېدو نه منع کړو . ماښام ملا راووت او آذان یې وکړ ، نو مونږ هم د لویانو په وروستی صف کې په جمه و درېدو .

په هغه شپه په کور کې زما د پلار او مشر ورور تر منځه څه پس پسی و او بیا مې ورور د کور ه ووت . چه سهار مکتب ته لاړو ، چوک چوکه شوه چه د میرزا صاحب واړه نه دي راغلی او بیا وروسته خبر شوو چه میرزا صاحب د کورنۍ سره لادرکه دی . مونږ ماشومانو یې په کور برید ورو او څه زاړه زرګوړی چه وو هغه مو چور کړل ، په دې کې مو د ماشومانو د لوبو شیان ، د لېندۍ شلېدلی ربړ ونه او نانځکې هم بیا موندې .

یو هفته پس روسی د خپل ترجمان او جیپ سره بیا راغی او بیا کلیوال لکه پسو نه ور ودرېدل او بیا روسی وینا وکړه چه ترجمان یې چه پښتو یې نه وه زده ماته ګوډه ترجمه کوله ، او خلک بیا پرې پوه نه شول .
بیا ترجمان وویل چه که تاسو څه پوښتنه لرئ . خو هیچا څه ونه ویل . داځلی د کلی ملا غږ کړ چه ورته وو ایه چه هغه زمونږ میرزا صاحب مو څه کړ ؟ ترجمان روسی ته ترجمه کړه او روسی موسک شو ، ترجمان ته یې څه وویل .
ترجمان هم موسک شو او ویې ویل چه شوروی مېلمه وایې د هغه د شرنه خلاص شوئ ، اوس دا کلی د میرزایانو او سود خورو نه دی ، ستاسو په شان د بزګرانو او خواریکښو دی . ملا بیا وویل چه په هغه خو د چا زړه نه سوزی ( او بیا یې کلیوالو ته په غرور وکتل چه مانا زه داسې کم عقله نه یم چه به د میرزا صاحب صفت کوم ) خو دا جایداد یې د چاشو ؟ ترجمان د روسی په حواله وویل چه مځکه د هغه سړی ده چه کری یی ؟ مګر ملا قانع نه شو ، ویې ویل ، د نرکیشکر ، تیا یې خبره سمه کړه ، میرزا صاحب سره شرعی قواله وه نو اوس تاسو چاته د هغې قواله ورکوئ ؟ ترجمان او روسی دواړه سره موسک شول . ترجمان سر وښوراوه او روسی ته یې څه اوږده غونډې تبصره وکړه .
وروسته یې وویل ، "اوس خلقی شریعت چلیږی او مځکه د خلکو ده "هغوی روان شول او کلیوال بیر ته جومات ته ستانه شول . هیچا څه نه ویل او نه چا بله ورځ یا بله میاشت د مېرزا نوم اخیسته . یو ترخه د ژمی غرمه وه چه په یوه موټر کې د میرزا صاحب کورنۍ راغله خو نرکیشکر ور سره نه و .

د ښځې سره يې ورور او بې غيرې او غوره په کاله ننوتل . بيا نو يې ورور هم جومات ته نه راته او نه يې د خلکو سلام ته عليک وايه .

# د مرفی قانون

## "Anything that can possibly go wrong, will go wrong.."

که د کوم کار د خرابېدو امکان موجود وی نو خامخا خرابېږی.

د مرفی قانون په ظاهره ساده او د توکو ښکاری خو ډېر کله رښتیا خیژی.

اوله خو خرابی دده په نامه کې وه. سور گل هم نه و، بلکه سورمل و. سورمل هغه وابنه دی چه، لکه گفتور ته شوی وی د پولو په سر را زرغونیږی، ځوکه یې د برچې په شان، نه بلکه د مشکنی یا دروی په شان تېره وی او پښې یېلی بزگر کوږنجوی. سورمل یعنې سره مله. مله هغه د گندنې په شان اوږد وړی وابنه دی چه بزگران یې د شولو د پټې نه د للون په وخت کې بیرته کوی..

البته د "مل" په مانا خو د نظار ملیشه نه پوهیدل مگر د "سور" توری دده د مرگ د ټاپې د پاره کافی وو.

دویم دده ژبه وه چه د کلا په ځای ورته بلا گرځیدلې وه ده به چه هر څومره خپله قطغنی پاړسی ورته سپر کړه خو هغه به له ورایه پلاستیکی ښکارېده، ځکه ده به که ډېر کوشش وکړ بیا به یې هم د" مه رفتم، مه گفتم" په ځای •ماروتیم، ماگوتیم" ویل.

دریمه بلا دده پوزه وه، د دیوال په شان جگه او وچه، د باښې د مشوکې په شان لینده او کوز را ځوړنده. دا بلا د وحدت د تنظیم د پرې کولو وه. نو کله چه سورمل حجرې ته راغی په آب وتاب یې دد غو ټولو بلاوږنه د خلاصون کیسه را ته وکړه.

دا خو د سورمل خبرې وې مگر مانه منلې او نه مې ردولې، د سورمل په شان ذهنیتونه مې حتی د آفت د لسیزې نه د مخه هم لیدلی وو چه په سلو کې اتیا ددوی خپلې انگېرنې او خیال پلاو، نونس فیصده د نورو د کیسو غلا او یو فیصد رښتیا به په کې وو. زموږ کلیوال به چه کله په جشن کې کابل ته لاړل او را ستانه به شول یا به د حج نه بېر ته راغلل، نو د شور بازار او لاهور د کچنیو کیسې به یې کولې چه څنگه یې دوی ته سترگکونه وهل، د گنېکپانو کیسې به یې کولې چه څنگه یې د دوی واسکټ په نیمه کونه اچولی و. د

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

حضوری چمن کیسې به یې کولې چه ځنګه به یې سره شنه برقونه او کاسه ماتاوی په آتش بازیو کې لېدلې. د للمې اوزبک، مولبصمد
(ملا عبدالصمد) خو تل همدا یوه سرینده غږوله چه "همی کابل، کراچی بندر ده، خان آباد، کابل ده مانده ایستاده" کالونه پس د هغې په معنی پوه شوم چه وایی د کراچی ښار نظر کابل ته دومره لوی او تماشایی دی لکه کابل نظر خان آباد ته. چه بیا به چا د کراچۍ پوښتنه ورنه کوله نو ده به سر وښوراوه او تو بی به یې ایستې "کراچی بندر، شار نمې شدنی بوده.!
اوس نه پوهیدم چه سور مل ته د پوزې غوڅېدو او نورو نا خوالو ګواښونه په رښتیا شوي وو او که مشهوره افسانه وه.
د یوه پښتون په حیث زما زړه پسخېده چه دا داستانونه ومنم، د تاجکانو او شیعه ګانو قسم خوړلی دښمن شم، مګر بیا به مې د پاړسیوان دې متل ته پام شو چه "از یکسو بادو باران از یکسو ظلم اوغان" د پښتنو غچ اخستلو ته به مې پام شو او ویل به مې چه خدازده پښتنو څومره ظلمونه کړي دی.
څولسیزې د مخه، په پوهنځی کې، ما د کوچیانو او هزاره ګانو په روابطو څېړنې کولې. کوچی ته ورشو په کاروه چه رمه په کې وڅروی. هزاره ته مځکه د کروندې د پاره په کاروه او دواړو ځانونه مستحق بلل. نژدې دوه کاله مې د رخصتۍ میاشتې په کېږدیو او تکیه خانو کې تېرې کړې د کوچانو کالنی بازارونه لکه د "ګوماو" او "آبُل" مې و لیدل او وڅېړل او د دواړو خواو په یو بل باندې د ظلمونو کیسې مې ثبت کړې. نو اوس چه کله په قومی ناکراریو فکر کوم پخوانۍ تجربه مې د بیړې قضاوت ته نه پرېږدی.
د سور مل کیسه به د منلو وه یا به نه وه، خو ما فکر نه کاوه چه دده خپله دې وی. نه یې پوزه غوڅه وه او نه غوږ بوچی. زما تجربې دا هم ښودلې وه چه دا مازې سریزه ده او اصلی خبره وروسته راځی. ما ته اوس هم چه د دوستانو او خپلوانو لیکونه راځی نو وروستۍ کرښې یې لولم، ځکه دا د سر خبرې په رښتیا هم سریزې وی، په آخر کې معلومه شی چه څه شی درنه غواړي. او سور مل هم په دې دومره بندو واز نه و چه د کیسې او له برخه منم که نه، بلکه مطلب یې د کیسې د پای خبرې وې چه تک پولی ته ناست دی او د پیسو تمه لری.
خوما سره پیسې نه وې او د مهاجرت او وزګارۍ شپې مو تېرولې او یوه خچنه

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

حجره هم گویا د خدای په حکم چلېده . یوه میلمه ویل چه " تنظیمونو اته امیران په ټول افغانستان کښې نه ځاییږی او موږ اته تنه په همدې تغر هم ځای شوې یو . " بس موږ و او د سهاره تر ماښامه حجره . د نا بلدی او پاکستانی ملیشو له ویرې دا سې سره یو په بل پورې نښتی وو لکه شیشو نکي ( د تسپو ددا نو په شان د سارایی بوټو یوه ببره دانه ) چه د پسه پورې ونښلی . سهار چای او ګوډه ، غرمې پیتی ، شپې د سنډا ښوروا . د حجرې وطنداړانو له ما او له یو بل نه کومه لویه تمه نه دړ لوده . لکه د شپې په کوم کاروانسرای کې ، دوی به د خپلو اوږ دو مزلونو او لوږو تندو کیسې کولې او ما به اورېدلې اندرابی عبدالرشید د خپلې مېرمنې ، ما بیکې سره راغلی و . اندرابیانو به په منې کې زموږ شولې به پایکوټې اخیستلې ( په یوه خروار شولو به یې ځلوېښت منه وریژی را کولې ) مېرمن یې زموږ د ښځګلو سره وه او عبدالرشید په حجره کې . کله چه دوی د تښتې په وخت کې د اندراب د خونړي سیند نه تېرېدل . دا سیند مالېدلی دی او ښایی سعدې د همدې په باب ویلی وی :

سهمگین آبی که مرغـــابی درو ایمن نبودی
کمترین موج آسیاسنگ او کنارش در ربودی

ما بېکې ښځګلوته ژړل چه دې خپل دوه کلن زوی په تکری کې په شا پورې تړلی و . چه د سیند نه پورې غاړه واوښتل ، ما بیکې که هر څومره ددې په ژبه " چادرامه تکاندم . بالا دوېده کافتم ، پایان دویده کافتم ، بچیکمه نیافتم . رومه سوی دیرا کدم ، فریاد زډم "جان خدا ییییییی !" خپل څادرۍ او څنډه ، ماشوم په کې نه و ، پاس مې منډه کړه ، دی مې ولټاوه ، کوز مې منډه کړه دی مې ولټاوه بیا مې نه موند . مخ مې سیند ته واړاوه او کریغه مې کړه چه واخدای یار دی ! " دیرا بدر خوردش "ایسته سیند خوړلی و .

د حجرې د ټولو وطنداړانو زړونه همدا سې ډ ک وو. دوه درې میاشتې به ما ستنول چه یو څه روحی کراری بیا مومی ، غمونه او دردونه به مې ورسره سپړل او کوشش مې کاوه چه د زړه تناکې یې یو څه وچوی . بند شوی بړاس یې یو څه ووځی . یو څه به مې د تصوری دنیا نه مځکې ته کړل . ددوی لویه ستونزه هم همداوه چه دا په وطن کې درانه افغانان اوس د مهاجرت د خونړی سیند نیزوړی گرځېدلی وو او دربدری یې د هویت آیینه داسې ماته کړې وه چه

اوس ورته خپل شخصیت مات ګوړ ښکارېده . د نس لوږه خو په راشن یو څه مړېده خو دروحي تندي غمباړه د هغې نه لا زورورة وه او ما کوشش کاوه چه په دې کې یو څه لاس ورکړم .

د عفوې بین المللی کمیټې په سړنی رپوټ کې د افغانستان د حالاتونه یو څه پرده لرې کړې ده. هغوی افراطی شهادتونه او بیلګې را اخیستی دی ، د زبر زنا ، لواطت ، د مړو د غوږې خورول ، د بامه لوېدل ...... دارپوټ د سور۔ مل د خبرو پخلی کوی . خو د عفوې د کمیټې په رپوټ کې د مابیکې کیسه نه وه .

په حجره کې د یو څو میاشتو د لرو بر کېدو نه پس ، سورمل لادرکه شو . په دې کې تقریباً یو کال تېر شو . یوه ورځ چه ما خپل په ماین لګېدلی ورور په رکشا کې د مصنوعې پښو د قالب د پاره د حیات آباد د معیوبانو روغتون ته بیوه یوه پچیرو رانه تېره شوه او بیا یې فلمی بریک وواهه او په ریورس شاته راغله . ګورم چه بیرتنۍ دروازه خلاصه شوه او سورمل د څو نورو سره را ښکته شو . بر ګرندی یې را سره چسپه وکړه او بیا یې نورو ته معرفی کړم . ټول پاړسیوانان او ده ته یې آمر صاحب وایه . سورمل په دوی امر وکړ چه زما مریض د رکشانه را کوز کړی او په پچیرو کې یې کینوی . ارابه۔ یې چوکۍ یې هم شاته کېښوده .

په شفاخانه کې چه فرانسویانو په مرسته جوړه شوې وه او اکثر عمله یې پنجشیریان وو، پخوا معمولاً موږ ته د دړو څلورو ساعتونه پس وار را ته . داخلی نبغ په نیغه ډاکټر ته لاړو او په لږ وخت کې یې د پښو قالب واخیست .

بیا نو سورمل په خپل موټر کې کور ته را وستلو . دوی ډوډۍ ته پاتې نه شول او زه یې د سودا سره پرېښودم . دومره مې شک راغی چه سورمل لکه چه د روزی سوره د کوم تنظیم سره موندلې وه . یو څه پریشانه شوم چه هسی نه چه یوه ورځ د کوم پنجشیری ورته غونی زیږ شی او ایسته یې په قرصک والوزوی . نه پوهېږم څومره وخت پس یو ماښام بیا سورمل را پیدا شو .

موټر یې بهر درولی و ، خو ګوښی و . د شپې مو د یارانو سره د سنډا په ښورو اکې ډوډۍ وره کړه او سورمل هم زړه نا زړه زموږ سره شخوند پرې وواهه . دده ډرایور ته مو ډوډۍ همالته موټر ته یووړه . د چای په وخت کې مې د هغه د نوی کار بار پوښتنه وکړه . خود هغه خبرې بل وړ وې . ویل یې " د

استاد سره کار کوم . " زه نه پوهېدم چه دا استاد بې لا څرک دی چه دی یې دومره په آب و تاب یادوي ، خو ماویل پرېږده ، خپله به خپل مس معلوم کړی .

دی دهمدې نا معلوم استاد سره د کوم نا معلوم سړی سره چه ده ورته "مولوی" ویل ملاقات ته راغلی و . بیا بې نو ځېنې نور داسې توری استعمال کړل چه دده د استاد تاپه پرې لګېدلې وه . د تنظیمونو مشران هر یو ځانله داسې اصطلاحات لری چه په هره وینا کې یې لږ ترلږه یو ځل کاروی . د خالص " تاند وهل" د حکمتیار" توانېدل، انسحاب (انصحاب؟)" ، د ګیلانی "ان شا الله دده چخه به قدرت واخلو" ، د قاضی صاحب امین " اتحاد باید انضماجی (اندماجی ؟) وی " د ربانی " وخت ای ګپا ګیدشت" د مجددی "سوګند په خداوند چه ماڅو څوځلی د افغانستان ملت ، بلکه درست جهان کې ویلی چه موږ به دا ملحدان تول ګُل وکو . " د محمدی " ما اصحاب حاجت حستیم ، درحال حجرت حستیم . " او داسې نور . نو ما او دحجرې یارانو د مدرسې د شاګردانو په څېر د سورمل تبلیغات اورېدل هیڅ مو ځکه نه ویل چه دا بنیاد او مرکه نه وه ، رسا یو اږخېز لکچر و . چه زړه یې ښه تش کړ نو بیا پاڅېد ، خو پخوا تر روانېدو یې د پخوانی شناخت په پاس ماته کړل چه که هر څومره پیسې مې په کار وی نو په ده غږ وکړم . یو بنډل د کلدارو لوټونه یې هم را وایستل ، خو یا به یې زما کاته نه وی خوښ شوی ، او یا به خپل کار ورته سپک ښکاره شوی وی ، په خندا وویل " دا خو د استاد پیسې دی . خو زه خپله هم یو څو روپی لرم ، که په کارموي ، تر سر مو جار . زه ورته موسک شوم " خیر دی چه په کار مو وی ، بیا به دربانديې غږ وکړو".

د سورمل د موټر غرهار د کوڅې نه لا نه و ورک چه د حجرې یوه میلمه ، چه د مزار و وویل " ددغه سړی نه ډار په کار دی . " یوه بل کوچی میلمه وویل "دده نه ډار نه دی په کار ، په ده ډار په کار دی چه ځان ژوبل نه کړی ، "

میاشت لا نه وه تېره چه څلور تنو په خولو لت پت ، پښې یبلې مهاجرو سورمل په کټ کې راوړ . د حجرې یارانو کوټې ته رانننه ایست . د ماښام په ګونګه خړه کې مو دده په وجود ګوتې را ښکلې خو نه پښه ماته او نه لاس غوڅ .

زګېروی یې کول او سر یې په پګړۍ پیچلی و . سخا بوی ترې خوت . چا لالټین بل کړ او دده مخ ته مو ونیو . د تنفس هوا د سپږ مو په ځای د پوزې د

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

پاسني کرپندو کې و ، هغه مو راوست . د هغه په کسپت ( د کسب بکس ) کې هر څه و . د ډاکټر په اشاره مو د سورمل لاسونه ښې ټینګې کړې او ډاکټر ورستو غوښو په غوڅولو او د زخم په پاکولو پېښه وکړه . د سورمل زګیروی په بغارو بدل شول . وروسته یې پټۍ ور باندې کېښودې او په آخر کې یې د خوب یوه پیچکاري هم ورکړه . د حجرې اندرابی یار ډاکټر ته ویل چه "همی پیچکاری ره چرا اول نه کدی که از جغ و غش خلاص میشدیم ." ډاکټر کټ کټ و خندل " عقل او غان پسان میایه ."
تر دې پس نو ټوله ورځ موږ وو او د سورمل زګیروی . د ورځې به یو ځلی ډاکټر را ته او پټۍ به یې بدلولې . د حجرې یاران لیواله وو چه د سورمل له خولې حال واوري . هر چا به د هغه د خوشال ساتلو کوشش کاوه . چا به یې د زګیروی پېښې کولې او چا به د ډاکټر نه پوښتنه کوله چه امریکا کې مسنوی (مصنوعی) پوزې نشته چه پښتنو مهاجرو ته یې بسپنه ور کړي ؟ دا ټولې د سورمل د خندولو او خوشاله ساتلو د پاره بیضرره ټوکې وې سورمل هم په ښه کېدو و . یوه ورځ چه سورمل ، تیمبوزک وهلی په کټ کې ناست و او په کاچوغه یې ښوروا سرپوله ، او موږ هم د تغر د پاسه په ښوروا سره راپڅېدو ، په ګنګوڼي آواز یې وویل " یره د تاسو به سخته تلوسه وي چه په سورمل دا بلا د کومه راغله . " موږ ټول د ډوډۍ نه لاس نیولی شو و چه ایله به مو اوس زړونه په کرار شي . خو د هغه ځواب تر اوسه پورې نېمه خوا پرېښی یم . ده ویل " وایي پلار دې سپرو مړ کړ که پلو ، ده ویل ، زما د ښې یې وا یسته ."

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

# غر په غره نه ورځي...

په ځينو ځايونو کې هېڅ بې هېڅه يو خېل نومونه باب شي. په خوګيانو کې ولا جان، دواجان په کابل کې زلمی او ايزمري. د پکتيا لوری ته، حکيم خان (اريوبي، تنيوال، کتبه وازي). حتی د يوه نسل او ميلان تيا په هم له نومونو ښکارېدلی. زما د منګ خلکو په خپلو زامنو د خوشال، مېرويس، اجمل، ايمل او نورو نومونه ډېر لورېدل. په ميدان کې بيا خاتمه په الله ډېره وه، عزيز الله، حفيظ الله، عصمت الله.

زما د کابل د تحصيل په وخت کې، بسم الله جان کاکا او زه د زنده وانانو د پوستين دوزو په کلی کې په يوه وړه خونه کې چه دوه کټونه په کې نه ځائېدل اوسېدو. دا يوه بېله کيسه ده چه يو خان آبادی د يوه ميداني سره څنګه خدای د قبر په اندازه يوه کوټه کې اچولی وو. زه خط وبريت محصل وم او هغه د ځلوېښتو کالو، د ګمرک کاتب.

په هغه وخت کې چه په پوهنتون باندې د کمونستی او الحاد څپه را روانه وه، د بسم الله جان کاکا ما ته يوه ګټه ورسوله او يو تاوان. د کمونستی افکارو نه يې بچ وساتلم او په چېلم يې روږدی کړم. دده سره د چيلم تازه کول، هغه هم د ووژې په ماښام مفته خبره نه وه بلکه خاص مراسم ور سره مله وو. دده په نزد تمباکو پېژندنه لوی علم و او ډېر کله ده اعتراف کاوه چه دی هم په دې علم، دده په ژبه، حاوي نه دی. ده به ويل تماکو ځانله رنګ و بوی، نشه، د پاڼو لويوالی، زيږوالی او د لاس د ورغوی په شان د پاڼې د رګونو شمار او ليکی لري. د تماکو ازميښل او سرويل روژه ماتی نه مخکې شروع کېدل او بيا د تراويح تر لمانځه پورې روان وو. د يوې کڅوړې سر به يې خلاص کړ او د هغې سيمبل به يې وازمييه، که خوښ به يې نه شونو په بلې کڅوړې يې همدا نخرې کولې، بويول، په ورغوی کې سرويل، د پاڼې کچ مېچ او حتی په ژبه ځټل. زه به د چيلم د خمار دلاسه ده ته په غوسه وم چه ولې يې ځنډوی. يوه ورځ مې ورته وويل، "کاکا دغه ازميښت ولې ماز ېګر نه کوو، چه هر څه روژه ماتی ته تيار وی.؛ ده را ته په قار وويل، " لکه چه کمونستانو دې

عقیده در خرابه کړې ده . په ماز یګر خو ددې مردار بوټي بو یول څه چه د کڅوړې د سر خلاصول هم روژه مکروه کوی . " مګر زه دده په خبرو قانع نه وم ، ځکه مالېدلی وو چه ګېي تماکولر او بر کول او هم یې د چیلم او به تازه کولې د سرخانې تو کی به یې په خپل شش و چار چاقو توړل . دا مي هم لېدلی وو چه تازه اوبه به یې د چیلم په دروی کې په نفس را ښکلې ،چه کنګال شی ، او څوک څه پوهیږی چه کومه پرخه اوبه یې ستونی ته نه وې ور الوتې ، مګر د بسم الله جان کاکا په کار کې د چا د شک مجال و . پس د روژه ماتی به لمونځ واو بیا به مو په بیړه په ننګولو ناتار ګډ کړ او ، دا خوړل نه وو، نغرل وو. یو خو ډوډۍ نه وه ، تیار د طالبانو توک وچه د کور د خاوند له خوا مفته راتله او موږ دواړه ترو ته غوندې وو ، او بل د چیلم لیوالتیا وه . بیا به نو ده چیلم سر کړ او هو څو پاخه کشونه به یې چه ور کړل ، نل به یې ما ته را واړاوه نری نری لوګی به ترې خوت . بس په هماغه اوله دړه که کې به دواړه سر بداله شوو ، هر یوه به خپل بوغبند ته تکیه وکړه ، سرونه به مو د لاتیو په شان چور لېدل او اوږدې شیبې به پر کاله پراته وو . په همدې حال کې به هم د بسم الله جان کاکا نه یوه نری رنځور وزمه سونګا راتله " سبحان الله ، څه عیش دی ! "

بسم الله جان کاکا د تیوریو ګوډی و . یوه تیوری دا وه : " سر کاتب نظر کاتب ته ډېر شکسته نفسه وی ، مامور نظر سر کاتب ته ډېر شکسته نفسه وی ، مدیر بیا نظر مامور ته هم ډېر شکسته نفسه وی . " ما پوښتنه وکړه ، " نو رئیس څنګه ؟ " پس له یو څه فکر نه ده وویل " رئیس خو مانه دی لېدلی خو ضرور به شکسته نفسه وی . "

بله تیوری د شجاعت د تعریف په باب وه ، چه ده تل دش په ځای س وایه . د شجاعت په باب یې ویل " سجاعت د سر نه تېرېدل نه دی بلکه ډوډۍ ورکول دی . یو سړی چه دومره سجاعت ولری چه له خپل مال نه تېر شی نو ضرور له خپله سر نه هم تېرېدلی شی . "

یوه بله تیوری د تجارت په باب وه . لکه چه په ګمرک کې یې دا خبره اورېدلې وه چه په تجارت کې یوه عرضه وی بله تغادا . ده به تقاضا ته تغادا ویله . دوه ځلی یې پخپله هم تجارت ته زړه ښه کړی واو دواړه ځلې ناکام شو . یو یې دګوړې تجارت وچه ده کیسه کوله چه د ننګرهار په سره رود کې یې په

وړیا بیه‌واخیسته او کتغن ته یې یو ووړه چه ده ویل په‌هغه کال هلته د بغلانو د قند فابریکه پر چاو وه‌او ده فکر کاوه چه‌ښه گټه به‌وکړي . خوهلته د سرای په کوټه کي چه ده د ژمي امبار کړې‌وه ، هغه‌ټوله ویلي‌شوه ، ځکه د کتغن د هوا لمڼبل زیات دی ، دي‌خو نه‌و خبر ، ځکه درسته‌ورغ د سودا گرو پسې گر ځېده خو هغه هندو چه ده‌کوټې لاندې یې‌دوکان و ، خبر ورکړ چه گوړه دې کوز په موږ را څڅیږي . چه‌دی کوټې ته‌ننوتلی و نو گوری‌چه د گوړې‌ډېری‌هواره شوی‌او نژدې‌و دی په کې‌ونښلی شي .وایی هر څه‌مې پرېښول‌او په‌هماغه‌شپه مې کابل ته‌را خپلې کړې .

دویمه‌همداسې‌تجربه یې د انارو سره‌وه . دی‌هم د نورو تاجرانو په‌شان لاړو چه‌د کندهار نه‌کابل ته‌انار راوړي . ده‌ویل نورو تاجرانو هغه‌انار اخیستل چه هم یې پوستکی پرېړ دی‌او هم ترو سکن لگیږي . خو ما کاغذی انار واخیستل چه‌زما په‌فکر د کابل په‌خوږو خوږوکې د هغې خریداران‌زیات‌وو. خو چه‌د کابل گمرک ته‌نژدې په یوه میدانی کې یې کوز کړل ، زیاتره یې مات‌شوي‌وو او ځوښه یې هرې‌خواته بهېده . دوه‌ورځې چه تېرې شوې نو میدانی د ځوښې تروش‌بوی په سر و نیو . د تنظیفاتو عمله‌راغلل ، ده ته یې د توقیف گواښ وکړ او انار چه لا دوخته‌وراسته‌وو، هغه‌یې په‌لاړېو کې کوم‌ډېران ته وچلول .

د بسم‌الله‌جان کاکا یوه بله تیوری د کابل د ژمې د بې‌پیره سړو د شپو په‌باب وه . زموږ په‌تابوت‌وزمه‌کوټه کې نه‌د بخاری ځای و او نه‌د صندلۍ . نو بسم‌الله‌جان کاکا دوه‌شمعې لگولې ، خو اول‌به‌د گړونج په‌شان داسې کښیناستو چه سغې لگېدلې خو زنگنو نه‌جگ‌او گویا موږ به‌خپله صندلۍ شوو . بیا به‌نو هریوه یو پټو د ځانه چاپېر کړ او شمعه‌به‌مو د پټو لاندې ونیوله . په‌رښتیا چه د لاندې خوا تول‌وجود به‌تود شو . خو مشکل دا و چه دغې‌گرمی به‌سست پر کال کړو او خوبجن به‌شوو . شوشو ځلې خو مانژدې ځان‌سوی و . ددې مرکز گرمی بل نقص دا وچه زنگنو نه‌به‌ستړی شول . ما یوه پرېړه بړستن لرله‌او بسم‌الله‌جان کاکا دوه‌نری شړی په‌دې عقیده‌وو چه‌د یوې بړستنې نه ، که‌هر شو مره درنه‌او د مالوچو ډکه‌وی ، دوه پټوان‌ښه‌دی . په‌ثبوت کې یې دا متل‌راووړ چه د یوه لال نه‌دوه پچې ښې دی .

وررو وررو د کمونستی عمومیات په‌مشخصاتو بدلېدل ، خلق‌راغی ، بیا د

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

هغې نه پرچم پیدا شو ، بیا وکیلان شورا ته ودرول ، مظاهرې او ترټ و لغت ، په چړو او ځر دمونو وهل ډبول ، ګواښونه ، بې لینن درود ویل ، مخالف او موافق اخبارونه ، په شورا کې اوږدې پر پړې ، دا راغلل . بسم الله جان کاکا ته چا ویلی وو چه روسان راځي او مځکه درنه اخلي ، بچیان دې روسیې ته بیا یې او هلته د خوک غوښه ور باندې خوري چه نفس یې مردار شي او لینن د پلار په حیث و منی . دی به تل په چرت کې ډوب و او له مانه یې د ورځې د حالاتو پوښتنه کوله . یوه ورځ یې پس له چیلم نه ، سوړ اسویلي وکښ، " یره د ولیانو دې هم ملاوې ماتې شي ، که نه دوی ته خو آسانه ده چه دغه د دین نه غیر خلک د سترګو په رپ کې له ځېږمې تباه کړی . " بیا به یې ځان خوشالاوه ، " خدای چه قرآن را لیږلی نو ور سره یې دا ضمانت هم کړې چه پخپله به یې ساتی . " بسم الله جان کاکا به په دې باب آیت تېر کړ خو د نورو پښتنو په شان هغه هم ظ ته ظغې ، ط ته طخې ض ته غضات او حافظون ته حافیغظون وایه . دف سره خو د ټولو پښتنو تربګنی ده . یوه ورځ یې له مانه وغوښتل چه انګریزی وروښیم . په مقابل کې ده د جزبوت ریاضی را ښوده چه هلته د ابجد په تورو ضرب او جمعه په آسانه کېده خو باید د سړی دا یاد وای چه دَح دحِ دا دَح دحِ ددو کده . په انګریزی کې که به fat cat ran راغله نو ده به پېټ کېټ لوستله . بیا به کټ کټ په خندا شو ،زما انګریزی یا خپل تلفظ ته نه ، بلکه د انګریزانو ساده توب ته چه درس یې به پېشو شروع کاوه نه په احمد چه محمود یې وواهه . ده به ویل «ها ها ها ، نو دا چې سه ، پېشو چا خه ده او منډه یې وکړه ، نو دا چې سه . » مانا دا څشی شو ، څه ترې جوړ شول او پېشو څه سپی ده چه په کتاب کې یې نوم راځي . ؟ . په هغه کال چه بسم الله جان کاکا کندهار ته تللی و ، یو قسم زخه یې په پوزه باندې شنه شوه . کندهار یان دې ته سالدانه وایی او زیاتره یې په مخونو باندې تر آخره داغ پاتې شي . خو د بسم الله جان کاکا نینه کې پس له یوه کال نه هم ښه نشوه . بس پټری یې نیول او دا ده مشغولا شوه چه درسته ورځ به یې ترې شکول . خو درد یې نه کاوه ، فقط خاربنت و . یوه شپه مې ترې پوښتنه وکړه چه ستا سو په نظر دخدای لوی نعمت څشی دی؟ ده بې له فکره ځواب راکړ ، « پزه » .

دده زما د پاړسېوانو ملګرو سره جوړه نه وه او تل به یې ماته ویل ، « دا څه

سپکه ژبه ده ، میکونی نمی کونی . » دده هم فارسی زده وه خو چه ویله به یې لکه پارسیوان چه پښتو وایی ، په لهجه کې یو قسم ملنډې هم ورسره غبرګې وې . د دوی سره به یې چه توکې کولې ټول به د کابلیانو په ښځه نوکو عادتونو وې . یوه هلک ته یې چه اوس یې واده کړی وو ویل « بالیشتک زیر کمرش هم در جهیزش بود ؟ » یا به یې د ښځو د جمعې د سهار د حمام خپل مینځې مرکو پېښې کولې ، « ولا ، آغای پلانکی جان دیشو مریض بود ... » کله به یې زما کابلي ملګرو ته نصیحتونه هم کول . « بخیر که زن گرفتی پامت باشه که کناوه پای باشه ، سپل پای نباشه ، » هغوی به ورنه پوښتنه کوله « چه فرق داره ؟ » . ده به ویل « زن اصیل که راه برود فقط پنجه و کُری اش در خاک پل میماند . این قسم زن اصیل و وفادار و پاکدامن است . سپل پای ، مثل شتر تمام پایش ده خاک میخورد . سپل پای به یک کنډک مرد هم یخ نمې شود و از تو یک وخت خواهند گریخت . » بیا به یې ددې از- میښت لاره هم ورښودله . « یک سطل خاکستر از تندور هر روز در پشت دروازه اش پاش کن . و هر وخت که او بر آمد تو ببین که کجای پایش پل مانده است . » زما ملګرو به هم په خوش طبعۍ دا خبره نوره ورسره چېړله ، زنهای ما مردم پای لچ نیست ، از پل بوت چه بفامېم که دختر کروی ( کناوه ) پایست یا سپل پای ؟ » ده په خندا ورته وویل . « ما که میگوییم که کابل بد است خو همین گپف است . »

سره له دوو لسیزو اوسېدو ، مونږ دواړه په کابل کې لا هم پردي وو . دواړه د خوشال‌خان د لیسې د هلکانو په شېر په خپل پایتخت کې جلاوطنه وو . البته بسم‌الله جان کاکا ډېر ، او زه لږ . دده پارسو خو تر مانه هم خرابه وه . هیڅ وخت یې « مه رفتم » نشو ویلی ، بلکه د جرمنی ژبې د apfel د تلفظ غوندې یې « ما رپفتیم » ویل . زه وایم چه دده به هم د نورو پښتنو په شان رشید دوّستم ته « روستم » ویلی وو . زما مشکلات بیا داو چه پارسومې قطعنۍ وه . کابلیانو به ویل « ده گل افتادم تنبانم گل آلود شد ، آلې خشک شده . » ما به ویل « ده لای غلتیدم ، ایزارم پر از لای شد . آلې قاق شده ، » . نو هلکانو به را پورې خندل . د هغه خلقي خواره کې بیوزلي مې سترګو ته دربېږي چه د زر نګار په پارک کې یې مظاهره چیانو ته وینا کوله . په همدې کې یوه خوله ورپرچمی دده نه لږ لرې په رساغږ خپله آتشینه وینا شروع کړه .

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

کتل مې چه نندارچیان یو یو د خلقی د غونډې نه وتل او پرچمی ته ور تلل . نو خلقی هم شعارونو ته زور ور کړ او چه څومره یې د لاسه کېدل زنده او مرده یې باد کړل ، خو بیا هم دده غونډه ړنګې کېده او خلک د پرچمي غونډې ته ترې ورتلل . لکه چه د خواره کی د شعارونو کڅوړه تشه شوې وي په ډېرې نا امیندۍ یې خپل وروستی شعار ورشتې کړ ،« مرده باد کُلا دارها » چه زه یې تر اوسه په معنی پوه نه یم ، او بیا نو را ښکته شو او په خپله مخ لاړ . نقص داو چه خلقی پښتون و او په متېه یې فارسی ویلی وه . که دغه دواړه حریفان په پښتنی سیمه کې واې بیا به پرچمی د خلقی د قلقلې ننداره کړې وای .
وروسته ، لسیزې وروسته ، نورې ما ملې را غلې ، هغه د پوستین دوزانو کلی چه مور په کې اوسېدو ، بولدوزرونو په بل مخ واړاوه او مکرویان یې په کې جوړ کړ . ما هم د قلم کرواړې شروع کړې وې او یوه وظیفه گۍ مې هم لرله . بسم الله جان کاکا د گمرک نه استعفی هم ونه کړه او موقوف هم نه شو ، لکه ډاینا سار چه د خپله انده سر باری شی ، د بولدوزرو نو په دوړو کې ورک شو . بې مقدمې یې یوه ورځ کالی په جوالی بار کړل ، زه هم د کوټه سنگی تر اډې ور سره لاړم او بیا مې کالونه ونه لېد .
اوس نو ما واده کړی و ، د مکرویان په څلور کوټه یې اپارتمان کې ، بېدو په هماغه کې چه زه اودی اوسېدو ، په گرو کړی کور کې اوسېدم . اوس نو نه چیلم و نه نسوار ، بس سیگرټ مې څکول . کله کله به چه د بسم الله جان کاکا عجیبه تیوریگانې ، انگیرنې او کارنامې را په زړه شوې هم مې ور ته موسل او هم د هغه ساده او بیباکې دنیاگۍ ته چه زما په ژوند نی یې د افغانستان نه کېه کوله چرت وړلم .
د ژمی د روژې یو ماز بگر نا څاپه د کور زنګ ووهل شو ، گورم چه پخپله کاکا ولاړ دی . لکه چه سړی ته په تیاره کې ډېوه ونیسی دنیا را باندې روښانه شوه . ما غوښتل چه د ځان غوښې پرې وخورم ، خو په روژه کې کور به نیمه خوا وی . زموږ رواجی مراسم را په یاد شول . د پخوا نو وختو په یاد مې دی په خپل موټر کې بازار ته بوته ، پنځه شپږ ډوله تمباکو مې واخیستل او یو ښکلی د ژېړو چیلم مې هم واخیست او بیرته راغلو . اوس نو په خپل کور او شتو ویاړېدم او غوښتل مې چه بسم الله جان کاکا ته ور وښیم چه د تبوک او شمعې د مرکز گرمۍ نه خدای دې حال ته رسولی یم کور والا ښه پرېمانه او

رنگ رنگ خواړه د روژه ماتی د ټولو ننګولو لکه چتنی ، خرما ، سلاتې او شربت سره تیاره کړې د پخوا په شان مو روژه ماته کړه ، دده پسې مې لمونځ وکړ او بیا چیلم ته کښیناستو . چیلم نوی و نو په اول کې یو څه وچ او بې خونده لګېده ، خو ورو ورو یې ونښولو . بسم الله جان کاکا پاکې ګلدارې پښتۍ ته تکیه وکړه او خپله همیشګی بونګیدا یې شروع کړه ، « سبحان الله څه عیش وی . » چه موړ په سد کېدو ، ددستر خوان په سر خواړه ، نژدې ساړه شوی وو . بسم الله جان کاکا ډوډۍ په خوند او زما په اټکل له اندازې زیاته وخوړله او بیا نو د شنو چایو لوېې چاینکې ته ددشو .

پس له کالونو چه سړی څوک وینی نو په اول کې یې کړه وړه یو څه بدل ښکاری . دده هم توره ږیره اوس شنه شوې وه ځرزو رنو سترګو یې یو څه ځلا له لاسه ورکړې وه ، رنګ یې هم تور بخون و چه پوهېدم ده په کلی کې پخپله کرونده کې کار کاوه . د پوزې زخه یې هماغسې وه . په خبرو کې هماغه پخوانی سړی و . اوله خبره یې داوه چه « شکر دی چه اوس د هستۍ او چوچ پوچ څښتن شوې . د تعلیمیافته خو بلا ورکه وی . » بیا یو څه غلی و . ما دده د آل آیل پوښتنه وکړه ، « ولا ، شکر دی یوه مړۍ ډوډۍ را رسیږی ، خپله یې کرم خپله یې ریبم . فیض الله خو را نه بې سواده پاتې شو خو عصمت الله مې مکتب کې اچولی او که خدای کول د تا غوندې قابل سړی به ترې جوړ شی.

په موړ خو لاړه راغله . پرېږده چه ددوی ژوند ښه وی ، سبا ته خو به دعا راپسې وکړې . » بیا یې نو زما د کابلی ملګرو پوښتنه وکړه او په دې ډېر خوشال شو چه هغوی دده نصیحتونه منلی او تل یې یادوی . ورو ورو مې د سترګو فوکس برابرېده او بېر ته هغه پخوانې بسم الله جان کاکا ترې جوړېده . د نابلدۍ پرده هم لرې کېده او هر څه سم شول . ده ویل « هغه چه ما درته ویلی وو ، اوس رښتیا وختل . د ډوډۍ ورکولو نه دې ښکاری چه اوس شکر هم سجاعت لرې او هم چه زما غوندې فقیر سره لا هم ناسته پاسته کوې نو ددې نه دې شکسته نفسی ښکاری . »

سبا بیرته روان شو . د خدای وسې مې وکړې چه د موټر کرایه په ماده خو ده و نه منله ، په آخر کې ددې د پاره چه خپه نه شم د بیګانی اخیستی چیلم او د تماکو د کڅوړو سوغات یې ومانه .

دا ترڅو میاشتو د مخه پورې زموږ وروستي دیدنو . په افغانستان باندې

آفت راغی او ما د وطن نه پښې سپکې کړې. هلته په پېښور کې خبر شوم چه د قوماندان بسم الله په نامه یوه سړی د وردګو په چک کې ولسوال را ایسار کړی و. ډېره ګروېږنه مې پسې وکړه خو چا یې درک ونه لګاوه. بیا نو پېښور هم په ما مېړتون شو او ایسته امریکا ته راغلم.

سږ کال چه زه د پېښور د سفر نه بیرته امریکا ته ستون شوم، کور والا را ته ویل چه کوم پښتون دی، په تلفون کې ګرمه ګرمه پوښتنه کوی خو خپل نوم نه ښیی. ماویل کوم څوک به د پېښور نه د خپلوانو احوال غواړی، خیر دی. بیا به تلفون وکړی. خو یوه ورځ چه له کار نه کور ته ورسېدم ګورم چه څوک په باغچه کې لګیا دی للون کوی. چه ورغلم، بسم الله جان کاکا و. بېواره مې چیغې کړې، «سبحان الله څه عیش دی.» یوه خوږه هفته مو سره تېره کړه. د ترکانو د دوکان نه مې چیلم واخیست او دواړو ساعت پرې تېراوه. معلومه شوه چه دده زوی، عصمت الله چه اوس ډاکتر عصمت الله و او د کولوراډو په ایالت کې اوسیده، دی امریکا ته را بللی و.

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

# د کاپر کونج اتل

کاپر کونج د ځایي خلکو په اجماع، یو خدای وهلی، رسول شرمولی، چار یار رټلی ځای دی چه ټول آفتونه همدلته سره جرگه کیږی. په ټیټه پروت دی نو د پاسه، د خان آباد د ټولو شولګرود اوبو وروستی تم ځای همدا کاپر کونج دی.

دا اوبه د ملاریا د ماشو او شګو سره راځی شګه پوړ په پوړ را غونډیږی دغه راغلې اوبه زغمی. چه د بنګی سیند یا نری یاغی شی نو د خړې، کبانو، مردارو شوو ښارویو او نورو ګندګیو سره په همدې ځای ختمیږی. برې خواته دهقانان ګیلو یا لای کوی، مانا په جګ پټی کې ویاله جوړوی او بیا اوبه پرې سپروی او په یا مه باندې د پټی خاوره ورکی بهوی چه ویاله یې کوز پټی ته یوسی او مځکې سره برابرې شی. نو خړه ان تر کاپر کونج پورې ورسیږی. کله لا بزګر د خپل پټی شګې په نهر کې اچوی چه دده نه بچ شی او د کوز ګاونډی خواته لاړې شی هغه یې هم په همدې رقم له ځانه شړی او لکه د جمعې مړی یوم په یوم، کلی په کلی کوز ځی چه ان تر کاپر کونجه فرار شی. په کال کې یو ځل چه پاس بزګران د ویلو او نهرو نو د تازه کولو اشر کوی، بایده خو داوڅه د نهرو نو شګې پاس په څنډو وغورځوی خو ځینې بیا ناغیږی کوی او د خپلې مځکې د برخې په اوږدو کې نهر شګې په اوبو کې ویلی کوی، مقصد د ځانه یې چپوې، چه د هغې خاتمه هم په کاپر کونج ده. په وچ کالی کې اوبه په نوبت وی. کاپر کونج په ټیټه پروت دی او بزګر خواره کی د خپل نوبت د اوبو د پاره مجبور دی چه ان د نری تر سهنده ښار او د نورو سره اخ وډب وکړی. نو چه وچ کالی شی د کاپر کونج برخه خواره ده. دایې دښار د خوانه راتلونکې آفتونه. د کاپر کونج شاته د للمې غونډۍ دي چه له هرې خوایی شیلې او خوړو نه په کاپر کونج را سپاره دی. چه پاس د باران ټک شی، په کاپر کونج د سیلاو شرپ شی. بل آفت دادی چه د خان آباد په هر ځای کې چه څو ک خون یا بله بیشرمی وکړی نو کاپر کونج ته ودانګی، رسا، وزیرستان کورمه ترې جوړه ده. دغه سپېره پراریان کاپر

کونج ته څکه راغلی چه خان آباد یوې کاسې ته ورته دی چه چاپېره ترې دغونډیو او تپو کړی چاپېره ده ، نو خامخا به فراری دمینځ نه ژر ته تښتي .

ددې ځای نه به کوز دخان آباد شولګره ښاری چه دده پسې کله او دکوم لوری چیغه راوځی او چه را ورتله نو دی به په همدې ژر ګرځی چه وګوری په کوم کنډو بیرته کوز په شولګره پا جوار ګره ورکوزېدلی شی .

دکاپر کونج دشګلنې خاورې نه دشولو تمه نه کېده ، صرف سپېده کاری په کې کېدله او په دغو کې هندوانې او خټکي نامی تولیدات وو تردې چه دکاپر کونج دلومړنی ټولګی یکې یوشاګرد چې یې ځان تر فاکولتې رسولی و او بیا خلقي شو ، داشعر په نوروشاګردانو ګرداناوه :

ای دهندوانو خاورې تاته موسلام دی
ای دخټکو خاورې تاته احترام دی
ستازینه زمکه کې اوسی دبزګر بچی
ستا ښکلې شګلنه کې اوسی دکارګر بچی
خیرکه اوبه نه لرو ، مورږ خپل آب ساتلی دی
نورموکاپر کونج بولی ، خو مورږ خپل پټ پاللی دی
هریو خټکی دې من ، کله لا دوه منه وي ،
ستا دهندوانو سور مغز ، ښکلی له ګلشنه وي .
ای دخټکو خاورې . . .

دخان آباد میراو ، توخته بای ، په بدفعلی او بیکاره ګی مشهورو . د خلکو نه به یې سړی په سرلس منه شولې په درمنده اخیستې . خو بیا به هم هر کال دنری بند وران و او دخلکو شولې به مړاوي ډنډرونه دګرمو غارمو ته پاتې وو . که شوله په دې وخت کې دوه ورځې بې اوبو پاتی شي ، نور نو دبزګر تمه لنډه بویه . همدا دوه هفتې ددهقان دګټې یا بایلات ازمیښت دی . دتوخته بای یو نقص داو چه ازبک اصلاً دشولې کسب نه کوی ، په زغرو ، کونځلو ، پنبې او نورو وچو پسلونو کې ، چه دوی ورته سفېده کاری وایی ، تکړه دی خوشوله داوبو شی دی او یواځینی پسل دی چه په للمه کې نه کیږی . شوله د پښتنوسره کتغن ته راغلې ده . دتوخته بای طریقه داوه چه دولو او توتانو ځانګې به په اسونو راوړلې کېدې او بیا به دا په خو تیرانو چه داوبو په مینځ کې ښخ و ، پېرل کېدې او دې ته به یې بند ویل . خو دې بند حتی یو پسل هم کار نه ورکاوه او چه دنری دسیند اوبو به زور وکړ ، تیران به دګوګړو دپلتو په شان مات شول اوبه به لکه پخوا دکندوز پلو روانې وې خلکو توخته بای نه ملامتاوه ، ځکه ده ته دپلار نیکه نه همدا میراوي ورپاتې وه او تل به یې ویل چه داوبو او اور سره لوبې نه دي په کار ، داتول دجادو او ملایکو په امر دي . د

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

اشر په ورغ به چاری پسونه حلال شول او وینې به یې په نری کې ور تویېدې چه گوندې ددې خونی سیند په دې قربانۍ تا تول وشی . د جوگیانو او فالبینانو سره به یوه هفته مشورې کېدې چه په دې ورغ یې په کار شی . د ښار مجذوبان او لیونی سوالگر به را ټول شول او د پوزې په سر به ورته تیل پولاو کوتې شو مخورو ته به همدا تیل پولاو په تغرونو باندې انبار شول . د سپیلنو لوگی به توپه کی توپه کی په پینهو تاویدل . اشر گر به تر لوړ مازیگر په اوبو کې لگیا وو او د چار یار د نارو سره به یې د سیند په فنځ شوو تیرانو کې د ولې او توتو څانگې پېرلې . په آخر کې به د سمندر خان د مدرسې مولوی څو آیتونه تېر کړل . دی بند به څو هفتې دوام وکړ ، او خلکو به د عاوې کولې چه د شولو په اولو څلوېښتو ورځو کې وران نه شی ، ځکه چه په دې څلوېښتو ورځو کې شوله د کب په شان په اوبو ژوندی ده . مگر بیځایه نه وه چه خلکو نری د بنگی زوی باله . ډېر سر کشه او ناړامه سیند و او ډېر کله به لکه چا پروگرام ورکړی وی . د شولو د نهال کولو په دویمه هفته یاغی شو او د میراو توخته بای کړې خواري به عبث لاړه .

دا خبره مې د ولی محمد پورې کوله چه د کاپر کونج بزگر و او دی هم ، د بند د ټړلو اشر ته ورغلی و که څه هم چه دده برخه خو د ازله خواره وه . د هغې ورځې په مازیگر چه د سمندر خان د مدرسې مولوی خپله دعا وویله نو ده د بزگرانو دډلې نه په جگ غږ وویل ،« توخته بای بیا نری په اومړي تار وتاړه . چه زه د نری د سر کال مستی ته گورم نو ولا و الم که بند هفته پوره کړي . دا خبره په ټولو بده ولگېده او یوه بزگر ناري کړې ،« کاپر کونج گوره او خبرې یې گوره ! »

خو قسمت و ، په رښتیا هم په پنځو ورځو کې بند اوبو وړی و . بیا اشرگر را ټول شول . توخته بای دا ځلی پوښتنه وکړه ،« بیارین او اوغان لافو که بیرین که بنده بسته کنه . » ټولو ولی محمد مخکې تیل واهه تر څو توخته ته مخا مخ ودرېد . توخته بای په ملنهو وویل .« بگیر نې ؟ حالي تو بستېش کو ، امروز تو مېراو مقرر شدی . » . ولی محمد یو څو شیبې غلی و او د ځانه سره یې فکر کاوه . بیانو د سیند غاړې ته ورغی او لر بر یې جاج واخیست . په دې هم ونه شو ، کمیس یې وایست او سهند ته یې ودانگل ، نری په مستی کې و او دی ډېر کوز په لامبو هغې بلې غاړې ته ووت هلته کوز او پاس گرځېده او

سیند ته یې کتل . بیانو د محب الله خان په پله بیرته اشر گرو ته را تېر شو . دا پول یوه اوت خیل پښتانه د یوه جومات سره یو ځای نیمه پیړۍ د مخه جوړ کړی و . یوه گاډۍ بې چوخسه پرې تېرېده او اوس نو خلکو لارۍ پرې تېرولې چه تېرونو یې د پله سمتی دیوال د پیازو د پوټکی په شان په سولولونړی کړی و . ولي محمد توختهبای ته مخامخ ودرېد او ویې ویل ، « میراوی ، خدای به تو مبارک کنه . ما دهقان مردم استیم ، آو کار داریم ، میراوی چه به سر میزنیم . » توختهبای په ملنډو وویل ، « چطور اوغان جان ، بیگی ای بنده تو بسته کو . » ولي محمد بزگرانو ته وکتل چه ټول پښتانه و ، اوزبک او هزاره خو پاس د للمې خلک و او یوائې توختهبای یو څه آوی مځکه لرله . ولی محمد توختهبای ته وویل ، « دو صد باردان و صدر یسپان سُنډی کار است»

باردان په کتغن کې دلوخو او درگونه اوبدل شوي یوې لویې کجاوې ته وایی چه په هغې کې غله دانه خوندی کوي . باردان دومره لوی وی چه په اول کې د دوو نارینه وو غېږ چه ترې چاپېره شی ایله یې د گوتو سرونه سره ولگېږي خو چه د غنمونه ډک شی بیا څلور نفره هم غېږ نشی تر چاپېرولي . توختهبای خلک د آسونو سره منډې ته واستول . او باردانې یې راوړې . بیا یې نو اشرگرو ته وویل چه د سیند له غاړې تیږی ، شگې او کانی را ټول کړی . ټولې باردانې ترنیمایی ډکې شوې د خان آباد د بازار په سودا پسې راغلو خلکو چه د باردانې د راوړلو خبر اورېدلی و ، د بند په غاړې را پنډ و او ددې نوې صحنی ننداره یې کوله . چه ټولې باردانې د سیند په غاړه قطار نیمایی ډکې شوې ، ولی محمد پاس توختهبای ته ورغی او ویې ویل ، « آلې تو باز بنده بسته کو»

توختهبای وخندل ، « آخر سپل ماندی اوغان جان ؟ » محمد ولی وویل ، « تو امروز همرای ونې غنې بند بسته کو ، کار ما سبا شروع مېشه . » ننداره چیان نیمه خواتیت و پرک شول . ولي محمد و بزگرانو سره یوه گوښې لنډه جرگه وکړه او بیا هر څوک خپلو کورونو ته روان شول .

په سبا یې ، پنجشنبه د بازار ورځ وه او غرمه مهال چه ولی محمد داشر گرو د کار بند و بست کاوه بیا د ښاریانو او اطرافیانو گنه گونه جوړه وه . ځینې په خره ، ځینې په آسونو . ځینې هسې جره ولاړ وو . اول ولی محمد د یوې باردانې ته پړی تاو کړ ، بل سر یې په لاس پورې ټینگ کړ او سیند ته یې ودانگل . په وچه ورته نور اشرگر ولاړو ، هغوی باردانه سیند ته وښویوله

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

اوبیا نو دوو دوو بزگرانو هماغه یو دباردانه ، په سیند کې کشکود داوتر تیاکلې ځایه یې رسوله . د توخته بای پرونی بند یوځه داوبو زور کم کړی و .

بارداني په نوبت راتلې او قطار درېدې . اوس نو توخته بای هم یوڅه نرم شوی و . چې دادوه سوه خلاصې شوې نورې یې راوغوښتې . او هماغلته یې له کاڼو نیمه ډکې کړې .

ولی محمد دانوې بارداني دزړو په سر کېښوې . گوبا د تېرو باره یې جوړه کړه .

اشرگراونندارچیان ټول سره راغلی وو او هر چالکه حاجیان چې شیطان په کاڼو ولي باردانو ته گتې اچولې . ترلوړ مازیگره کار روان و . بیا نو ولی محمد د توخته بای پرونی بند ته ورغی او دهغه دورانولو امرېې وکړ . چې غنې بیرته شوې نو نری په غرمبهار دولی محمد بند ته راشېو دشو . دهقانانو په بېړه غاړې ته په لامبو ځانونه ورسول . د سیند اوبه دباردانو مخې ته ډب شوې او ټولو ساوې بندې کړې وې چې بند به ټینگ شي او که نه . چه یوڅه اوبه د دوو باردانو تر مینځ چاودنه راووتلې توخته بای په وارخطایی ولی محمد ته وکتل چه زما بند دې هم خراب کړ او تاهم توره ونه کړه . مگر دولی محمد هغه ، فکر په سیند لاهو و .

اوبه په نخرو نخرو راجگیدې . بوده باردانه خو ورکه شوه ، د بلې تر نیمایې را رسېدلې وې او را اوچتېدلې . ولي محمد په خلکو غږوکړ چه نور کاڼي راوړی . خلک لکه مېږی ورتوی شول او داوبو سره دمنډې مسابقه جوړه شوه .

بارداني چه ترنیمایی له کاڼو ډکې وې اوس تر خولې ډکې شوې . دهغو په سر دباردانو بله لړی هم کېښودل شوه او هغه هم ډکې شوې . اوبه راختلې او چه دمېنځوی لړی دسرنه یوه لویشت کوزې ورسېدې بیا یې پاس ختل بیخي وروشول او گویا په ځای ودرېدې . او ددریم پوړ بارداني هماغسې وچې پاتې شوې . دهرې خوانه دچاپار ناري جگې شوې .

توخته بای په لوړ غږوویل : « ای مردم خان آباد ، پس ازی میراو شما ولی محمد است ! » ولی محمد ، بې پروا ، یوم په اوږه کا پر کونج ته روان شو . له هغې ورځې ، دده نوم ولی میراو شو . هغه بند اوس هم پخپل ځای دی او د ده په نامه یادیږی . وایي چا دولی میراونه پوښتنه کړې وه چه دبند د ترلو چل دې له کومه زده کړ ؟ دده ویلي وو داچل د توخته بای هم زده و خو هغه للمی و ، داوبو نه وېرېده . که اوبه طلسم لري نو بنیادم هم خالي نه دی . چه غاړه ورنه کړې ، څنگه به یې را پریباسی ؟

# د قرآن ویـــــره

د پېښور په مهاجرو کې د خپل زوی د پاره ښځې پسې ګرځېدم . په حیات ـ آباد کې پریمانه وې ، دوولسم پاسانې ، فاکولته لوستې ، پیمخې ، نازې . ټول خبر شوی وو چه سړی د امریکا نه راغلی ، زوی یې هماغلته ستېزن دی ، کاربار یې جوړ دی ، موټر لری ، پلار د زوی ویډیو کیسټ هم راوړی ، په ونه جګ دی ، خوږه خندا لری .

زما درې خوېندې چه پېښور ته زما د راتګ نه خبرې شوې وې بیچاره ګانې ان د خان آباد نه راغلې چه پس د دیارلسو کالو مو په ژوندونی یو ځلی دیدن وشی . د مشرې خور چه ټولو د هوښیارۍ نه « ببه » بلله ، چندانې صحت ښه نه و او ویل یې ، « وارۍ دې شم وروره زه راغلې یم چه هم خیر ټول کړم او هم وکړم دیدنونه ، هم تا ووینم او هم مې علاج وشی . » هغه نورې خوښې وې ، د ګنډې والاوو په شان د پېښور او کابل او پېښور تر مینځ لړې برې کېدې خو مشره خور مې په اول ځل د خپل لیون غرتی زوی سره پېښور ته راغلې وه .

بس پنځه واړه په کوز تهکال کې اوسېدو . د ملک نه بهر نظر خویندو ته زما شناخت ډېر و ، د افغانانو په دفترونو ، د پوهنتون په استادانو او د لرې او برې پښتونخوا په لیکوالو کې منلی وم او میلمستیاوې ډېرې وې . کله به مې خپل ناړامه خوریه هم د ځان پسې قنجوغه کړ خو هغه یوائې د خوړلو ټاکو و او نور به همداسې غلی ناست و او ډېر کله به خوب یووړ . زما ، د پېښور په وینا « واقفان » ټول په دې خبرو چه زه د زوی د پاره د جوړې په لټه کې یم . داسې را ته ښکاره شو چه زیاتره لور والا خلک په تمه وو چه زه به یې وریاده کړم او ځینو خو به په لوی لاس خبرې همدې لور ته ور کړولې . د مهاجرو د پاره په عزت سره د لور له غمه خلاصېدل لوی نعمت و او ځینو داسې خلکو چه په وطن کې یې په پوزه مچ نه پرېښود داسې افغانانو ته چه په کلی کې چاسیالان نه ګڼل ، لوڼې ورکړې وې .

زما ټول تال د اوسېدو پروګرام اته هفتې و . په اولو دوو هفتو کې مو د پنځو شپږو پیغلو درک ولګاوه . هسې خو چتې پریمانه وې او د امریکا د تګ چانس

لا زیاتې کړې وې خو خویندو به مې چه هسې په بهانو وروستلې ، هغوی به بیا د شپې چه زه کور ته راتلم ، په کې نوغې وړیستل . پوزه یې بېدرکه جگه ده ، سترگې یې د خندا په وخت کې چونگې کېږي ، د ډېرو نخرو چه خبره کوی نو خوله ورسره کږه کړي ، کنډاسه ده ، گڼ ، تقریباً پنځوس غاښونه لري ، شونډې یې داسې دي لکه د کلال د څرخ د پاسه چه د کنډولی خوله ورانه ورانه کېږي . پښتو یې کړکیچو ده ، نر ښځه کړی ، ښځه نر ، ویتکی ده ، پخه پتیره ده . پوهړه ده . دا تماشایی خبرې به ډېرې زما کشرې خور کولې چه د ټولو نه پتنه وه او خدای بښلې مور مې اور اوره کې بلله . یو څو تنو ته مو خو رو یبارانې هم واستولې . زما یو تره چه په وړکوني پېښور ته راغلی او همدلته مړ شو ، د هغه د کورني خلک په دې پسا تونو ښه پوهېدل ، هغو هم په دې ، د کابلیانو په ژبه « کمپاین » کې فعاله ونډه اخیسته ، په تېره چه د کوزې پښتونخوا د پیغلو تو خبره به وه . خو اور اوره کې به ویل د پېښور د نجونو نه به تېر شو . د هغې په نظر پېښورې پیغلې دوه لوی عیبونه لرل . یو خو په وجود نرۍ او په سپین تابه کې بیا ژېړې لگېږي ، لکه چا یې چه د پوټکی لاندې کور کمن شیندلی وی . بل نقص یې د پښتو سره د انگریزی او اردو گډول و . په دوی ټولو کې مې مشره خور ځیرکه وه . د هغې پېښوریانې خوښېدې او ویل یې چه دوی ته خدای د جمال سره کمال هم ورکړی دی .

ما به هفته کې دوه ځلې په امریکا کې خپل کور والا او زوی ته په تلفون کې د خپلو منډو ترړو بیان کاوه ، دغه مخابره دومره اوږده او تکراری وه چه حتی د پېښور د اکسچینج په مرکز کې هم یو دوه تلفونیان چه د امریکا نمره یې را ته وهله پرې خبر و او یوه خو یې تل را ته ویل ، « جی ، نن بیا د کومې چټې لمبر دی ؟ » په همدې تلفون کې یو ځلې زوی مې را ته وویل ، « ابا تر اوسه پورې خو تاسو او ترینډې مې داسې خبرې کوئ لکه سړی چه ښاروی اخلی ، غاښ یې داسې دی ، لکۍ یې داسې ده ، ښکر یې داسې دی ، د اخلاقو ، لوست او نالوست او کورني یې هېڅ نه وایئ ؟ » او اوره کې خور مې په تلفون کې ورته ویل « ترور دې واری شه ، د زړه او اخلاقونه یې خدای خبر ، چرگې خو نه دی چه مور یې په نس کې د ننه هگۍ په گوته و ازمېیو ، بس مور یې ظاهر کړه وړه درته وایو ، رنگ یې درته وایو ، خوند یې مور ته نه معلومېږي » بیا یې په خندا وویل ، « غم مه کوه ، مور کتغنیان ختکی د رنگه پیژنو ،

حاجت څکلو ته نشته . »
یوه شپه سترې ستومانه چایو ته سره ناست وو . مشرې خور مې وویل ، تول پښتنو مو ورپسې لټ په لټ کړ او دا د انځرګل په لاس را نغی ، زه وایم یو ځلی د مهاجرو کمپونو ته هم سر وربنکاره کړو . په سبا مو بیا پښې لوڅې کړې . په کچه ګړې کې دوې پیغلوټې پیدا شوې خو هغه چه زمونږ د مدعا وه هغه د کوم مجاهد په نامه وه چه هغه هم د درو کالو راهیسې لادرکه و . نجل ورته ناسته وه .
بیا نو ناصر باغ کمپ ته شوو او هماغلته و چه خویندو مې د ارم ښاپېرۍ یوې خیمې کې بیا مونده . درسته شپه یې راته د هغې صفتونه کول . ځنې یې تورې بیا په تور کې سورچکی ، ترزنګنو را رسېږي ، هر چوتي یې ، لکه د غنمو د ورو ګوروت ، په یوه لاس کې نه ځاییږي .
سترګې نه ترخې شنې نه تورې ، یوقسم ته ځرزې چه د طلایی کېږو بنو لاندې لکه ویلی شوی سره زر ځلېږي . مخ ، یې نه اوږد وری او نه ګرد ، ښه برابر ، رنګ یې نه داسې سپین لکه پوڅه او نه تور لکه چوارې . مخ د انارو د پوټکي په شان غارمو سور کړی خو په اصل کې د رنګه سپینه ده ځکه لیچې یې غوښنې او سپینې وې . مشرې خور مې ویل « خو لرې » ما وویل چه خو څنګه لرې ؟ نورو خویندو په اشارو منعه کوله خو هغې وویل ، « پتهوځ یې ولې ؟ نجلی نالوستې ده ! »
ما وویل ، « ښه به په امریکا کې ګوزاره وکړي .! نو ګویا ستا سو دا ډېر صفتونه چه کولې مو پرې وشکېده ، هسې بابیزه لاړل . » خو مشرې خور مې عجیبه خبره وکړه ، « وروره ، لوستو او فاکولته یانو عجبه توره وکړه چه دا به یې ونه کړي ! » نو ولې په امریکا کې کومه فاکولته یې سره بیزو نه ورته ګورې ؟ » ما وویل « د دې سودانه تېر شئ ، بله را وګورئ » خو مشرې خور مې وویل یو دوه ورځې به خبر همدلته پرېږدو . » . ما هم ومنله . په دې کې یوه هفته تېره شوه او ما هم په تلفون کې زوی او کور والا ته دا وروستی پېغله یاده نه کړه .
په اصل کې زما سفر امریکا غږ ته د مرکو او خبرونو د تولولو د پاره و . کړی ورځ مې رادیو د پاره مرکې کولې او کیستې مې بیا شه د ځانه سره ساتلې او شه مې په تلفون کې واشنګټن ته مخابره کولې او دا پخپله داسې سر خوږی

وچه د نورو خبرو څه چه ا ن د خوښندو سره چه یوه نیمه لسیزه سره لرې پاتې
وو ، د زړه د خواله وخت کم پیدا کېده . د تنظیمونو مشران خو په دوربین کې
هم نه میلاوېدل او د نن د مرکې وعده یې هفتهٔ پس هم نه پوره کوله . ددوی
دلبار ته ورتګ هم د خطره خالی نه و . مایې د جېلخانو او په بوجیو کې
اچولو او سیند ته ګوزارولو کیسې هم اورېدلې وې .
چه به دلبار ته ورسېدې هم د مرکې څه ضمانت نه و . قوماندانان او نورې
ږېرې به لړ او برې کېدې او د مشر په غوږ کې به یې واچوله چه دا زما د ګسه
کولو بند و بست کوی که څنګه . په مرکې کې به هم ځینو پوښتنو ته د مشر
تنده تروه شوه نو کوم کوم بېړا خبر یال به و چه پوښتنه یې بېر ته نه اخیسته او
معافی یې نه غوښتله . د قوماندانانو آرګا او ډپ د دوی نه هم زیات و او بده
یې لا دا چه اکثر یې په خبرو نه پوهېدل . تا به د ستنګر د موثریت پوښتنه کوله
او ده به اسلام ، انقلاب ، سپاه حق ، پر پره در پسې را وایسته او چه به دې را
ټینګ کړ نو ویل به یې « وروره ، ستنګر څه سپی دی ، د جهاد برکت دی چه
زموږ سره کانې وی د دوی په اوریګون زوروروی . » او که په دې مجلس کې
کوم نیمچه ملا موجود دی نو سمد لاسه د پیل والا ابرهه او توتکیو کیسه
درته کوی . ځینې مرکې به امریکا ته په سپک او سپورو یا شکست کفار ،
غلبه د اهل اسلام ختمېدې . دغو مرکو نو ډېر کار غوښت . چه د چچګر په شان
یوه نیمه د کار دانه ترې راوښکل شی نو هله بیا واشنګټن ته د مخابرې جوګه
شی .
یوه شپه چه ستړی کور ته راغلم نو ښایسته د ګندنې پیره کی او پرنډې مستې
تیار ې وې ، ما هم کمی ونه کړ ، شندې مې پرې وکړې او د وطن د هوسانو
مینه مې پرې ماته شوه . ورپسې شنې چایې راغلې . بیا مې نو بستر ته تکیه
وکړه : مېنځوی خور مې چه په ټولو کې غلې او مهربانه وه ، راغله او پښې
مې یې کښېکاږلې . بیا یې نو په کراره را ته وویل « لالا ، هغه د ناصر باغ
نجلۍ خو بدو کې نه ده ، ولې مې وراره نه را غواړې چه هغه یې پخپله یو ځلې
وګوری ؟ » په همدې کې اور اوره کی ددې غږ واورېد او خبره یې ور کې وچه
کړه ، « ته وایې چه بدو کې نه ده . زه وایم چه په ټول پېښور کې یې ساری نشته
خو لالا مې د لوست او نالوست په غم کې دی . زه وایم نجلۍ وړه ده ،
هوښیاره ده ، د سترګو په رپ کې به هر څه زده کړی . »

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

ماهیښ ونه ویل ، خو په بله شپه مې کور والا ته په تلفون کې کیسه تېره کړه او د هلک د راتګ خبره مې هم وکړه . هغې وویل ، هغه هم پېښور ته در تلل غواړي ، خو د کالج د امتحان ورځې چه بله هفته خلاصې شي بیا به یې بندو بست وکړو . پاسپورټ خو لري . ویزه به واخلي.

بیا یو دوه هفتې بوخت وم . د روسانو د وتلو هنګامه تووده وه ، تنظیمي مشرانو او قوماندانو هر یوه خپل ځان د روس په ایستلو کې د مار لالا شریک بانې باله . د مې میاشت او ورسره . ګرمي ، د مچانو او میاشو بڼ شروع شوی وو . چه میرویس را ورسېد نو زه پوهېدم چه پېښور به یې سا به په مالګه کړي . موږ خو د نورو په شان د نل او به څښلې ، شنه پیاز ، سرې مولۍ تازه ګندنه ، او نور مو بېدریغه نغرل خو ده ته مې یو لوی کرېټ د چینې اوبه اخیستې وې . یو بوتل به په فریج کې تیار ایښی و . سا به به مو څه ایشول او څه به مو به پتاس او نور و بلا وو کې پریولل ، خو دی ټینګ و چه زموږ په شان خوراک څښاک وکړي . جامې یې هم وطنی کړې . مشرې خور مې یوه ورځ وریاندې خلی مات کړ ، لاسونه یې ځو ځلی په سر ور وګرځول او بیا یې په خپل تندی ووهل ، « شوله میرویسه ، بلاګۍ دې په ترور شه! د پېښور پیغلې دې ړندې شی چه په تا پسې نه تښتي . »

میرویس به د شرمه سور شو ، یو خو دا قسم ناز ور کول ده ته نوی وو او بل په امریکا کې د لسو کالونو د تېرولو نه پس لا هم دی ، د ښځو په برخه کې ، د یوه زړه پښتون په شان حیانا که و . په امریکا کې چه به افغان مجاهدین زموږ کره راپېښ شول نو د او داسه د کوزې نه نیولې تر جالمازه پورې هر څه به میرویس برابر کړي وو . کبابونه او نورې هوسانې به ده پخپله پخولې ، د سترګو په رپ کې به یې حلاله غوښه راوړه او که نه موږ خو ، څه درواغ ووایم ، هماغه غوښه خوړله چه په دوکان کې خرڅېده . خو میرویس ته د حلالو غوښو دوکانه معلوم و . د امریکا په باب به یې معلومات ور کول ، د خپلې خونې په کمپیوټر کې به یې د افغانستان په باب د انټر نیټ خبرونه ورته لوستل ، په ټول واشنګټن به یې ګرځول . هېڅ مې نه هېرېږي چه څو کاله د مخه یوه ورځ یې مولینا خالص ته چه زموږ کره راغلی و ، وویل ، « ډېر مې زړه کېږي چه تاسو سره لاړ شم جهاد ته . » خالص چه په ټوکو او حاضر جوابۍ کې یې جوړې دی وویل ، « ولې ځان ان تر افغانستانه پورې زهیروې . همدلته په امریکا کې

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

هم جهاد شته ، ولې هغه نه کوې ؟ » چه هغه تري پوښتنه وکړه چه دا جهاد به نو په امریکا کې چېرته وی ، نو خالص وویل ، « بس همدلته په خپل کور کې درته ناست دی ، همدا خپل پلار دې مړ کړه ، هم به دې جهاد ثواب وشی او هم به د تګ را تګ کرایه در ته پاتې شی ! ».

چه ترور ګانو به د هرې نجلۍ څه او ځنګه ورته بیانول ، دی به چوپه خوله ناست و . اور اوره کې یو ځلې وریاندې به غوسه شوه ، « د ډېرو خبرو او بیان نه زموږ په ژبو وېښته شنه شول او ته بوت سمه نوت غلی ناست یې ، نه خاندې ، نه ژاړې ، نه هو وایی نه ، نه . » میرویس ورته موسک شو او ترور یې ویل ، « مادې د ښکلې خندا نه جار کړې ، څه خو ووایه ؟ » هغه ووېل ؛ « عمه جان ، ما مې ابا ته ویلی چه اول خو زه د ښځې پسې دومره لیواله نه یم چه بیا یې وکړم نو پښتنه کوم . ښایسته کوم ، او هوښیاره کوم . زه نور شرایط نه لرم . خو دلته ډېر پټ پټونی دی . چه زه یې ونه وینم او خبرې ور سره و نه کړم نو ځنګه د هو او نه ځواب در کړم . » اور اوره کې د خندا شنه شوه ، « دووس خانه دا امریکا نه ده چه نجونی په پړو نه ایساریږی ، که په زور یې پټوې ځان لوځوی . دلته ښځې لکه د مار په سر تېکول شوې دی ، هسې د نارینه د سیوری نه ترهیږی . » مشرې خور مې پرې غږ کړ ، « ولې هلک ډاروې ، د حیات آباد د نجونو او پېښور یانو او فاکولته یانو لېدن خو آسان دی ، د هماغوی نه به یې شروع کړو . »

نو بیا یو څو ورځې ، بلکه پوره هفته زه د شمشتو ، نصرت مینې ، کبابیانو او ناګمان تر مینځ لکه د جولا نیچه لروبر کېدم . خارجی هیئتونه وچه د تنظیمونو په دفترونو یې غومبر جوړ کړی و . کامرې وې ، مطبوعاتی مرکې وې او خبریالان د تېپوسانو په شان په مرداري را ټول و او هر یوه به یوه ترانګه ورنه بیلوله او خپل وار به یې په نورو ړومبی کاوه . ګډوډی وه ، اکثر به مشران په اسلام آباد کې و او خبریالان به یې چه د پېښور دفترونو ته ور تلل نو امیر څه که امیر زاده به هم ور مېلاو شو ډېره وه . په یوه دفتر کې خو مې یو جاپانی خبریال ولېد چه د مشر د ملازم سره یې د مرکې صحنه جوړه کړې ده . ملازم په کرسی ناست و او جاپانی نه یې پوښتنه وکړه چه دا څوک دې را ګیر کړی ، ده وویل دا هماغه جنرال دی چه روسی جنرال ګروموف یې په څاپېره وهلی دی . ملازم را ته سترګه وټومبله او ما هم هېڅ ونه ویل ، « پرېږده چه په جهالت کې

مړ شي . »

د میرویس په باب کوم داسې زیري یا پرمختګ نه و راغلی چه د سړي زړه دې پرې ښه شي خو ما په تلفون کې کور والا ته د خویندو د مایوسۍ څه نه ویل .

یو ماښام چه ما د خویندو نه د خیریت د احوال پوښتنه کړله نو مشرې خور مې اقرار وکړ چه دا تیر وتې وه ، د فاکولته یانو ، پوهنتونیانو او د کمپونو د ځوانو تر مینځ دومره فرق نشته او مخ لوڅی ، سواد او عصري توب هسې ګپ دی . میرویس دغه ځوانې لیدلې دی ، ځینې یې خوښې کړې هم دی ، خو چه بیا یې کوشش کړی چه ګوښی ورسره وغږیږي هر ځلی یې هیله په توره تیږه لګیدلې ده . نو په دې ماښام یې ماته ویل ، « ابا ، هغه تپې او لنډۍ چه تا یې ترجمه ماته راکړه ، په هغو کې خو پښتنې ځوانې بیخي آزادې دی ، ګودر دی منګی دی ، خوله ور کول دی ، په مړوند خوب کول دی ، سینې یې غوټۍ سپړلی ، هلک نری چنار دی ، لالی در بوله بیا یې مه پریږده چه ځینه ، . نو چه اوس یې وینم دا خو نورې بلاوې دی! ».

ما ویل ، « بچیه د تپو او لنډیو خبرې دبې وسۍ خبرې دی ، » هغه وویل ، « نو دا رښتیا ده چه آرټ ، به پښتو کې څه ورته وایی خو زموږ معلم ورته sub-limationاو ویل ، مانا که کولی یې نشی ، ویلی خو یې شي . » ماویل « زویه ، پښتو کې خپله ښه تپه ده ستا تر سبلیمیشن یې بهتره وایی ، په تصور مې ځان پاچا کړ + چه سر مې جګ کړ د دوهی ملنګه ومه . په لنډیو او تپو کې د بې واسې اعمال شته چه د پښتنو په ژوند کې د وینې بوی ترې راځی . »

اور اوره کې په خندا وویل ، « که غر لوی دی په سر یې لار ده . خدای به هر څه سم کړي . »

یو ماز یګر چه کور ته راغلم کوټه د ښځینه میلمنو نه ډکه وه . یوه هغه فاکولته-یې هم په کې وه چه خویندو مې یاده کړې وه عجیبه داوه چه میرویس هم ، یو څه لرې ناست و . ټولې را پاڅیدلې ، سلام یې واچاوه ، او د سرسري شان جوړ تازه نه پس ، زه لاړم خپلې کوټې ته .

پس له دې نو میلمستیاوې وې ، کله زموږ کله د نورو په کور کې . د موټرو او رکشو تګ راتګ و . یو دوه ځلې خو زه هم د دغو خلکو کره د خپلو خویندو

او میرویس سره میلمه شوم . گویا د ښځو راشه درشه او خورینگتوب شروع شو . زه پوهېدم چه دا ټول د اور اوره کۍ دسیسه وه چه میرویس د نژدې نه نجونې ووینی او د نجونو هم سترگې وربانديِ خوږې شی . معمولاً به میرویس ځو شیبې د دوی په مجلس کې ناست و او بیا به ، مثلاً د شربتو ، یا میوو اخیستلو په نامه بهر ته لاړ ، په راتگ به بیا ځو شیبې ناست و او بیا په بل نامه به پاځېد . گویا دا انگیرنه یې ورکوله چه زه ستاسو په مجلس کې نه یم ، هسې . در پېښ شوی یم .

په پېښور کې زما د استوگنې وخت مخ په ختمېدو و او د اور اوره کۍ پلان هم کار ور نه کړ . مشره خور مې میرویس ته گورېده چه ،« ته نو د سلیمان پیغمبر د چتکی (چتي) په شان داسې لښته غواړې چه نه سمه وی نه کږه . زموږ دې په پخلی او د پلار دې د مېلمستیا او رکشو په پیسو ستړه وایسته او ته لا هم خپل مدعي نه پیدا کوې . » میرویس خو له جینگه کړه ،« عمه جان ، تاسو خو د کوم کمپ د نجلۍ خبره هم کړې وه ، هغه به یو ځلی را باندې ونه گورئ؟ » اور اوره کۍ په کې را ودانگل ،« ولې نه ، ترور دې جار شه ، بس دوه ورځې پس مې ننداره کوه ! »

همداسې هم شوه ، دوه ورځې پس چه د کاره راغلم ، ډېرې تور کمیسې ، ناستې وې ، پلوونه نیمکښو ، ځینې پاځېدې سلامونه یې وکړل ، ځینو یې مخونه پټ کړل او زموږ د مطلب نجلۍ هلته لرې نغری ته ناسته وه . ما دشونډو په سر ستړی مشی ورکړه او بیا مې اور اوره کۍ ته وویل ،« سترگې دې وخورې ، په مېلمنې باندې چای جوړوې ؟ » میلمنه پاځېده او پس له سلامه یې په خندا وویل ،« نه لالا ، هسې مې د خورینگې سره لگیا یم . » چه د خریدارۍ په سترگو مې ورته وکتل ، په ربښتیا خدای په خپلو گوتو سازه کړې وه . مگر د میرویس درک نه و ، چه خپلې کوټې ته لاړم کتل مې چه هغه په کتاب بوخت دی .ما په موسکا ورته وویل :

هلکه خدا که به ملا شې + په کتاب پروت یې یادوې شینکی خالونه . »

میرویس له شرمه سوز شو . د کړکۍ پردو ته مې پام شو چه نیمکښو وې . د واشنگټن نه مې په تلفون کې یوه میاشت بې تنخوا رخصتی واخیسته او د نجلۍ پلار ته د جرگو او طلبگارۍ هلې ځلې شروع شوې . میرویسؤ لکه چه د خپلو ترینډو په دلالۍ د نجلۍ سره کومه نیمه خبره هم کړې وه ، د نجلۍ پلار

راضي معلومېده خو د نجلۍ مور نخرې کولې . نېمچه ملا هم وه او د کفار و ملک ته د خپلې لور د لېږلو سره رټه مخالفه وه . خاوند یې هم د هغې خبره منله او په دلیل یې بیا وروسته پوه شوم . یو څو جرګې چه د ننګرهار د سپین ږیرو ورغلې هغوي ته یې ویل چه که هلک را سره خوګیانو ته ځی ښه او که نه نونه . هسې اتفاقی خبره وه چه یوه ورځ میرویس پخپله یاده کړه چه ولې مو لوی صاحب خالص په جرګه نه ور ولې . هسې هم میرویس په خالص ګران و . څو ځلی یې په شمشتو کې میلمه کړی و .

بس نو د خالص ورتګ و او د نجلۍ د پلار رضا دوه هفتې پس مو هماغلته په کمپ کې نکاح کړه . . کور والا ته مې چه په تلفون کې زېری ور کړ نو هغه په ژړا سر شوه چه ،« زه مو ولې ونه غوښتلم چه په درنګ و درنګ مو په هوټل کې واده کړی وای ، جوړې وای ، ګانې ، خپلوانو ته جوړې ، زما نږور ، زما د خواږه زوی ناوې تاسو ته داسې خواره ښکارېده چه د راشن خورو مهاجرو په شان مو په سپېره کمپ کې نکاح کړه . » د تلفون اکسچینج کې تلفونی زموږ دا ټولې خبرې اورېدې ، ځکه مایی د نفس راښکلو ستما اورېده لکه چه هغه ته هم طاقت پاتې نه شو ، غږ یې کړ ،« جی کور والا خو رشتیا وایی ، خیر دی په امریکا کې په ښه مست واده ورله وکړې . » ما ته خندا راغله چه پښتانه هر چېرته پښتانه دی ،لر دی که بر دی ، د بل پښتون په کار یې غرض دی . کور والا ووېل ،« دا څوک نېک سړی و چه مایې غږ وا اورېد ؟ » ما ووېل « دا تلفوني وو . دلته په پېښور کې په ودونو کې ساز سرود ، ډول اتڼ بند دی . نه مو دلته سیال شته چه سترګې مو ورته تیتې وي او نه شریک . چه په خیر امریکې ته در شو بیا به داسې واده در ته جوړ کړم چه په افغانانو کې نوم پاتې شی . »

دا د هغه وخت کیسه وه اوس میرویس او صبرو یو درې کلن زوی لري . کله چه زموږ کره راشی نو کور ته یې تادي وی ، او چه موږ ورشو نو دغسی سره لوبې کوو او مېږه اور ته چندانې زموږ سره د باندار شوقیان نه دی ، پخپلو کې سره ورک دی . صبرو مو په مکتب کې داخله کړه . د خور خبره مې رښتیا شوه ، دومره ځیرکه وختله چه هر کال یې دوه صنفونه لوستل او سږ کال د دوولسم ټولګی نه فارغیږی . دوه اول کالونه خو یې د خارجیانو په خصوصی مکتب کې ولوستل او چه انګلیسې یې چالانه شوه نو یو یو صنف یې د امریکایانو

سره په شریکه او نور یې بیل لوستل ، په دوو کالونو کې یې بې چوخسه انګریزي زده کړه . په نمسي باندې ما د خپل شهید لالا ، ګهیځ ، نوم کېښود او مور یې ساتو .

یوه ورځ ما د صبرونه په خبرو خبرو کې د لیک لوست نه د هغې د پخوانۍ کرکې د موجب پوښتنه کوله . هغې ویل « دا ټول مې د مور ګناه ده . په خوګیانو کې یې مکتب ته پرې نه ښود لم چه هلته بیشرمي ده . ښځې معلمې خو نه وې ، هماغه د کلي ملا و چه سهار یې دیني درسونه را باندې ویل او وروسته له غر مې به د همدې جومات نوم په مکتب بدل شو . دا ددې د پاره چه په همدې نامه به یې د سرکار نه یو څه تنخواهم شو کوله . کلیوال هم خوشاله وو ځکه چه دوی ته خدای مفت ملا ورکړی و . یوه ورځ همدې ملا معلم ، یوه نجلۍ قفپایی کړه ، د نجلۍ پښې یې تړلې ، جګې نیولې وې ، په نرۍ لښتې یې وهله . نه پوهېږم څه چل شو ، خو د نجلۍ بډه (بګه) وشلېده او یا یې خښتګ سوری و ، خو دا خبره په کلي کې مشهوره شوه . له هماغې ورځې مې پلار قدر الله وکړه خو مور مې ویل زیاتي نو مدرسه په صبرو حرامه ده . . زما د تعلیم سره ډېر شوق و او خپله سیپاره او د حساب کتاب مې د ورېښمو په دسمال کې ساته . نورې همزولې مې لېدې چه هر سهار جومات ته روانې وې او کله به زه د جومات په انګړ کې کښېناستم او یا به د ونې شا ته پټه شوم او د هغوی غږ مې اورېده چه الف دو زر ان یې په جګ غږ ګردانول .

پلار مې خدای شته چې د مور نه مې ډېر وېرېده تر دې حده چه ډېر کله به مې پلار چه کوم سوالګر به راپېښ شو یا د همسایه کورنۍ یې چه وړې لېده نو وچه ډوډۍ یې د څادر لاندې پټه هغوی ته وروړه . یوه ورځ مې مور زموږ ټولو په مخ کې ورته وویل ، « نه شرمېږې ، لوی سړی ، د کوره ډوډۍ غلا کوې ؟ » ابا مې کل هم ور ته ونه کړ او د شرمه یې موږ ته و موسل او جومات ته روان شو . هغه تل د تعلیم او مکتب طرفدار و ، بلکه په خپل کلي کې ډېر عصري و نور هېچا ګرا فون او راديو نه لرل ، موږ لرل . تر دې چه د کور څنګ ته په خوړ کې یې یو ماشین ګی لګولی و چه کور ته یې د برق مزی هم راتېر کړی و ، بس یو ګروپ یې درلود چه زموږ د ناستې په کوټه کې به و ، یوه هفته خو یې یو څه تته رڼا هم کوله خو بیا مات شو . نو مور ته مې یې زاری وکړې چه که نور نه وی د نجلۍ سره خو قرآن وایه .

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

مور مې نېمچه ملاینه وه . دا یې ومنله خو داسې چه هر مازیګر به یې د لمانځه نه پس ، همانحلته په جالماز ور وغوښتلم . یوه لویه لښته یې هم د ځانه سره کېښوده ، او بس دې به ویل او ما به ورپسې ویله . چه لږ به په زور او زیر کې خطا شوم نو د لښتې ګوزار به یې را باندې وکړ او که به مې ابا حاضر و نو پټ به یې په کوناتی و سکو نډلم چه چاته یې د ښودلو زړه هم و نه کړم . هر مازیګر همدا حال و ، او هر مازیګر چه به دې لمونځ خلاص کړ زما به زړه په رېږدېدا شو

د سبق او قرآن نه مې وېره کېده ، تر دې چه د کاغذ او قلم نه مې کرکه راتله »

ما وویل ، اوس څنګه ؟ هغې په شرمنده کې خندا وویل ، « اوس ، دې خدای تاسو ژوندی لري ، ګهیځ ګی را ته ساتئ . ما د وختنه کالج ته د داخلې فورمه ډکه کړې ده . » ما ځوروله ، « تا ویل د قرآن نه وېرېدم . اوس هم وېرېږې ؟ » هغې وویل ، « اوس په بل قسم وېرېږم . د لښتې نه نه ، په ځان او په « آبل » وېرېږم . » صبرو به میرویس په نامه نه یاداوه ، کله به یې د ګهیځ پلار ویل او کله « آبل » . ما وویل . « آبل ، در سره ښه سلوک کوی ؟ » هغې بیا وخندل ، « تاسو به یې پېژنئ ، نور ښه دی ، خو درسته ورځ په دفتر کې ورک وي او خوارکی چه ماښام راشی نو زما د مکتب کتابونه را سره وایی . » ما وویل ، « نو چه دې کالج ولوست بیا څه کوې ؟ » هغې وویل ، « بیا نو د آبل خوښه . دی خو وایی چه بیا زما غوندې ته هم کار وکړه ، چه ځانله کور واخلو . »

ما وویل ، « ته په کې څه وایې ؟ » هغې خپل ساعت ته وکتل ، ګهیځ ته یې په بیړه کالې ور واغوستل ، او چه روانېده ویې ویل ، « د آبل خوښه ! » .

# د بنګی غاړه

زموږ کلی ته دوې لارې وې . یوې ته به یې خلکو د ښې ورځې لار ویلې . دا د سرکاری سړک نه چه دوه میله لمر خاته ته پروت و په شوا خوان ، زموږ کلي ته را تېره شوې وه . کلیوالو په اول سر کې د هغې په جوړولو آمنا وکړه خو چه د اشر ورځ راغله نو لارې ته ورځرمه خلکو نا غیرې را واخیسته . چا به هغه پورې خوا پوله ښودله چه لاره دې ورباندې تېره شي ځکه چه دده پټې ژوبل نشي . چا به بانه کوله چه دده مځکه په اصل کې د صغیر ده او دی شرعي حق نه لري چه لار ورباندې پرېږدي . چا به ویل چه څاروي به د لارې څنګ پټېو ته ور ننوځي .چا به ویل دده کلا لارې ته نژدې ده ، تور سرې به بیا سابو ته نشي راوتلی.

ایساک اکا چه د کلي فیلسوف و،ویل ،« سرک دې ورک شي ، ګاډی دې لا پسې ورکه شي ، بایسکل دې ورک شي ، کور کوري (قره قلي) خولی دې ورکه شي . دا ټول کلي ته بیغیرتي راولي ، ماسل راولي ،حاکم را ولي ، ګرافون راوړي ، مکتب راولی . تېر شئ ددې سودا نه . »

د ایساک اکا خبر رښتیا وخته .د پسرلی ختې وې او د آسونو او خرو منډونو د لارې نه حلوا جوړه کړه ، په اوړي بیا یو زنګون خاورې وې . بیا اشر جوړ شو او د پورې للمې نه مو ورته شګې او کاڼي را وچلول . کال پسرلی ، لا یو څه د ګوزارې وه خو چه اوړی راتلو نو د سرکاتب ستار بګی چه تر اوسه په ښار کې چلېده د اول ځل د پاره کلي ته راغله : د څاروېو ستونزه لا حل نه وه . موږ چه به مازیګر مالونه د پادې نه بېل کړل نو په لار کې به خرونو او غواوو هر طرف خولې اچولې او شولې اوغنم به یې سر کپ کړل . بیا به نو جرګې وې ، هیاهوی به و . د دوو خرو په کې لکی غوځې شوې او د ګلوارې ببو د موره یو زوی، محمداجان ګل ، د قادر ماما دیامه په ښته بو څه زخمي شو . بیا اشر شو او دلارې دواړو خواوو ته د ختو دیوالونه چه تر نامه رسېدل جوړ شول . لار به چه د هر چا په مځکه تېریده ددېوال جوړول د هماغه کار و ، نو همدا وجه وه چه دېوال ټول یو برابر نه و . چالا د اغزنو سنځلو څانګې د دېواله په سر لګولې

وې چه پسل د ځارووّ نه پنا کړي ، خو دا بیا په اوله دړه که کې ، چه لاشنې وې خرو وخوړې او باقي نور ، په مني کې هغه وخت تاشوې چه کوچیان د اوښانو سره د کتې ( د میو د پروړې ) پسې کلي ته راغلل.

خو ددې ټولو ستونزو سره ، کلیوال په خپلې دې نوې دارایۍ خوشحال وو او چه به د جمعې یا اختر په ورځ د کلي په جومات کې ډله جوړه شوه او کلیوال به بیا په جمه ، د ښار خواته روان شول ، نو چه سرکاري سرک ته به وختل او د نورو کلو د خلکو سره چه هغوی به هم جوړې جوړې له خپلو کلو سرک ته را ووتل ، یو ځای شول ، زمږ کلیوالو به په ویاړ خپله لار په هغوی پاسلیله.

مرزا ستار خو به دورونو سره په بګۍ کې سپور روان و. د آس د ګاڼې ګونګروګان به یې شرنګېدل او د ګلاباتون ځوندیو به یې پړه کاختله او کله به یې یو نیم سړي ته ست کولو چه دده سره سپور شي. دا د کلیوال د پاره هم افتخار و او نورو لارویو ته به یې کتل چه ګورئ ، خدای په تاسو ټولو کې یوائې زه دې مرتبې ته را وستلم ، خو ورسره به یې یوه شر مېندوکې موسکا هم په شونډو وه چه کلیوال داسې ونه انګېرې چه دی میرزا ستار ته خوشامندې لري. دا ځکه چه زموږ کلي هم د خبرو او غیبت ګوډې و ، په تېره یو ځو کلیوال خو بېدو د خبري آژانسونو په شان د هر کور د غوټو غوړېشونه خبر وو ، چه څوک څومره روپۍ لري ، څومره پوروړی دی ، څو یې په ګروی اچولي ، څو لوڼې لري او څوک یې شوقمن دي.

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

# د موچنۍ میرزا

آوازه شوه چه د ژرندې ګړي پاینده خان زوم د جوکان نه راروان دی. عجیبه داوه چه زموږ کلیوال د نیمې پېړۍ راهیسې دلته په خان آباد کې اوسېدل خو بیا یې هم وطن نه باله. دوی ټول د ننګرهار او د کابل د توابونه راغلي، اولا هم د خپل اصلي ټاټوبي په ارمان کې وو. اکثریت ځانونه ساپي بولي او دي د لغمان. دویم قوم د کړو خېلو دی چه که څه هم چه په شمار لږ دي خو په ساپو زورور دي. پاینده خان د جوکان و، چه چېرته په ننګرهار کې ګوم ځای دی. زموږ د کلي یوه ژرنده وه چه همده چلوله. د پاینده خان لونې ټولې په ښایست مشهورې وې، خو دا اوس یې چه جوکاني ته ور کوله بېدربغه پیمخې وه.

کله چه جوکانی راغی په کلي کې ګونګوسی شو چه سړی میرزا دی او په جیب کې یو نه، دوه نه، درې قلمونه ګرځوي. قرص خولۍ، زرې څپلۍ او بله جوړه زرې موچنۍ، په مریو جړ او څادر، دا ټپخپله زموږ د پاره نوي شیان وو، خو میرزا یې یې بیخي یو نوی شی و. زموږ خلکو پښتو ویله خو کالي او کړه وړه یې ټول د ترکستان و. چپنې، جبله کې، قاقمې، ماسۍ، موزې، چموسې، حتی د خلکو بریتونه هم دا زیکو په شان زوړندوو، نه شخ او کوراخ. زموږ په کلي کې رباب نه و. کوم چاکره به یوه دوتاره دمبوره وه. غیچکې هم لا هغه وخت نه وې، ځکه ټیم یا فلزي پیپ لا رواج نه و چه د غیچکې د به ترې جوړه شوې وای.

چه میرزا راغی درسته ورځ به د ژرندې نه بهر په یوه چوتره باندې د چنار لاندې په تغمه کې ناست و او څه شی به یې لیکل. د کلیوالو به تلوسه وه چه دده سره مرکه وکړي او انس جنس یې معلوم کړي، خو چا کله دومره زړه کولی شو چه د یوه لوستي میرزا سره همخبرې شي. ټول واده ته سترګې په لارو، چه واده راغی نو ایله خلکو په ماړه نس میرزا ولید او خوښ یې نه شو. میرزا کلیوالو ته په سپکه سترګه کتل او یوه ورځ یې قادر ماما ته چه د ټر تکړه دهقان او لمونځ ګذاره سړی وو منت کړی و چه ددې کلي په خلکو کې نه کمال شته، نه پښتو. میرزا زموږ په هر شي پورې خندل او دا بدله یې را پسې جوړه کړې وه چه:

د تورو تیلو دې خوړدن دی اوږده چپن دې اغوستن دی
په ملک د کتغن کې که تېرکې څو کلونه

کلیوال ورته لا جوابه وو . تردې حده چه دده دواده سندرغاړی ، یوسف چه ډېر نامي سازي وو ، او دا بدله ور پورې جوړه شوې وه چه:

طوره جانم طوره چي یوسف دمبوره چي . هغه هم پس د یوې پنځې سازنه نور غلی شو ، ځکه چه میرزا کلیوالو ته منت شروع کړ چه «دا څه ساز دی ، چه نه رباب شته ، نه منګی او بس د توت لرګی یې ترخ کې نیولی او لګیادی چه : بنجخې او بنجخې . » یوسف خواره کي خپله دمبوره واخیسته او په مخه لاړ .

کلیوال هم وشرمېدل او هم په غوسه وو . څو ورځې وروسته خلکو پاینده خان راګېر کړ چه دا نوی خښښ غلی کړه موږ درګرده تړتي . دی پوه کړه چه همدا موږ یو او همدا مو رسم و رواج ، دلته همدا د دمبورې کسب دی او موږ اوس چېرته ستا زوم ته د جوکان او اشپان نه رباب راوغواړو . خو داسې ښکارېده چه د پاینده خان هم هوا بدله شوې وه ، ځکه چه خلکو ته یې نصیحتونه کول چه د میرزانه سرپتوب زده کړي .

یوه میاشت پس د کلیوالو لاس په میرزا بر شو او دا د کال هغه ورځې وې چه شولې د نهالو لونه لس ورځې پس ژېړې شي ، او دا کار په لوی لاس پخپله دهقان کوي چه شولې تږې شي . ګویا وخت یې وي چه شپه او ورځ په پټي کې اوبه ډنډ وي . دا نو د شولګرې سختې ورځې وي ، په تېره چه موږ پانیاب وو او اوبه چه تر موږ را رسېدې ، د ډک نهر نه به یونرۍ لښتې جوړ و چه د کلیوالو په اصطلاح چندخو په کې تیبون ( تیمم ) واهه . اوبه به په نوبت شوې او دهقان به د هغې په هر څاڅکي ځان واږه . څو کلو به په ګډه سره یو چکباشي یا د اوبو د وېش مشر درلود . د اوبو غلا هم په دغو شپو کې کېده . د ویالې لاندې به یې لغم وواهه او لنډې به یې خپل پټي ته واړولې . د کوتکو او یا مونو جنګونه هم په همدې میاشت کې پېښېدل . دهقانانو به د بند نه د لرګیو مېوړې را وایستل او سره کېل به یې . په اوبو کې د یو بل منډل د جنګ یوه معموله طریقه وه . د بند لاندې ځای تل د ویالې د نورو ځایو نه ژور وي ، هلته به سره ونښتل او تر هغه و چه د بل دهقان سر تر هغې د اوبو لاندې کړي چه بوږ بوکی د اوبو سر ته را ووځي .

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

په همدې بده میاشت کې د کوز ، کاپر کونج نه یوه ډله دهقانان راغلل او د پاینده خان د ژرندې وتې یې وواهه . دا کار زموږ کلیوالو ته په اوله کې ناروا ښکاره شو ، ځکه چه ژرنده خو بې ضرره شی دی او د هغې او به یې ته په نهر ورګډېږي ، مګر وروسته بیا ټولو ته معلومه شوه چه پاینده خان تګي کړې وه
اوبه یې د وتې په بر سر کې دمه کړې وې ، مانا چه په ژرنده یې سپروم خو د ویالې لاندې یې بلولونه او نلکې خنبې کړې وې چه بل سر یې ان دده مځکې ته رسېده . نتیجه دا شوه چه دوه ژرندې اوبه وتې ته راتلې او ها بل سر ته چه تېرې شوې یوه ژرنده اوبه به پاتې وې . ځو ځو ځلې د کاپر کیونج دهقانانو ورته ویلي وو چه په دغه میاشت دې ژرنده پرچاو وي ، خو ده ویل چه تاسو ته څه فرق کوي دا اوبه چه د ژرندې نه تېرې شي هم هماغه اوبه دي. ایله سږ کال
د هغوی سر خلاص شو چه پاینده خان تګي کوي.
خلک راغلل او بند یې نړاوه چه میرزا د چوترې نه ولېدل . وریسې ورغی او په یوه باندې یې د موچنې ګوزار وکړ . بزګر هم ور ودانګل او د ببل په څټه یې تر هغې وواهه چه میرزا کوز بند ته پریوت او که چا نه وای را ایستی کوز د ژرندې ناوې ته لوېده . میرزا پوره دوه میاشتې بیا چا په چوتره باندې ونه لېد . په کلي کې دا خونْدور خبر د ټولو د شخوند ختکی شو او وروسته له دې خلکو هغه ته د موچنې میرزا ویل . کالونه پس چه هغه میرزا یې پرېښوده او د نورو په شان ترکستاني بزګر شو نو بیا یې نوم یوازې موچنه پاتې شو .
ګویا دی هم زموږ په شان شو . چاروقې په پښو ، ډَرَوی په غاړه ، بریتونه ځوړند ، وزیکي چپن اغوستې ، د دمبورې شوقي .

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

# میږونه ، درمندونه

دا تکي په تکي د قادر ماما خبره ده چه دی پنځوس کاله پخوا د پلاره سره خان آباد ته راغلی و . نور څه نه و ، یو لوی مردار ډنډ و چه په ځینو کې یې اوبښ ډوبېده . په دغو مردارو اوبو کې درګې او لوخې ولاړې وې او د اوبو په تل کې توره بوټیاکه ختېده .

دا خبره د ژمي به یوه شپه کې هغه وخت را بر سېره شوه چه پاس د للمې نه دوه اوزبک وروڼه تورسن او سورسن د کلي په جومات کې مېلمانه وو . سورسن د خپل پلار له خولې تو که کوله چه یوسهار چا خبر راوړ چه د کوم نا آشنا ځناور د پښو پل لېدل شوی . د خوک او ګېدړې خو مو پېژندل ، مګر دا منډنه و ، سه په لې (سپلې) وې . څو ورځې ورپسې ګرځېدو چه ناڅاپه مو (اوغان) و لېد چه څپلۍ یې په پښو دي . پوه شو و چه منډ د همده دی . د اوغان سپلپای سره غمونه ، دښمنۍ اوغالمغال دا ټول راغلل او موږ په تېښته للمې ته وختو . ټولو و خندل بې د قادر ماما نه چه جدي و . ده ورته کړه چه « سور سمبیه (کلیوالو په توکه دغو دواړو وروڼو ته سور سمبی او تور سمبی ویل ) دا ترکستان په پېړیو پېړیو د تا سو سره و ، د تا سو سره هم نه چه د خوکانو او ګېدړانو سره و ، نو ولې مونږ آباداوه ؟ تر څو خدای خان د ننګرهار نه راوست چه خان آباد یې در ته جوړ کړ .

قادر ماما ووېل ، « همدا خر ښادري ، تلې چاودي ، چپلیپایان وو چه اوس یې د اوغانستان د غلې کندو ترې جوړ کړی . بیا یې د خپل هلکتوب کیسه وکړه چه څنګه د خپل پلار سره د لغمان نه راغی او دلته یې څنګه واړول . ددغې منطقې نوم هغه وخت جنګلباشي و ، د کوم بزرګ امسا به کې ورکه شوې وه او هغه ورته ګفت کړی و ، چه تل دې ځنګل یې (جنګل باشي) ، ټول د لوخو ځنګل و او خوسا او بویې عالمونه په سر نیولي وو . کوز ترې یکه توت و او له هغې کوز بیا چارتوت و او د ټولو نه کوز ، چه بیا نو للمه شروع کېده ، کاپر کونج نومېده ، چه دا نومونه پخپله د سیمې د تاریخ کیسه کوي .

قادر ماما خپل تېر د سلم ځل د پاره لوڅ کړ او موږ هلکان پوهېدو چه بیا هغه

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

اوړده ، شنه موږه رابښيي چه وحشي خوک په تیرو نیښونو د ګروپ نه دنامه تر کوزسره پورې دده په سینه جوړه کړې وه.

«اول موزابرونه او ویالې وښکلې چه یو دبل نه سل سل قدمه لرې همداسې غبر ګې تلې . بیا مو یو لوی ژور نهر وکېښد او دزابرونو ورخ مو ورمات کړ چه په دغوزا برونو کې زیم او خوسا اوبه راټولې او یا نهر ته ورتوېږي شي. په همدې رقم مو هر کال یو څه مځکه وچوله . کال ته موزا برونه بیا تازه کړل چه داوبور ګونه بیا خلاص شي . ورسره مو په وتره مځکه په یمونو برید ښخ کړ . دهغې نه پخوامو ، دروي او لوخې ترې ریبلي وو. دپابیل په وخت کې به دورځې څوځو ځلې دریبل شوو دروو تیره خنډونه لکه خنجر په پښو کې راننوتل . ډیر خلک په ترکستان کې همدغو خنډونو وژلي دي ، ځکه چه دخوسا اوبو او چینجو سره به په پښې ننو تل او بیا به پرهار په بده واوښت.

«پوره درې کاله مو دازمکه په یامه اړوله ، ځکه چې دقولبې او یوې امکان نه و . دسپارې کره کې په ختو کې ننښته ، فقط یو بیل زمکه وتره وه ، دهغې نه کوزتوره او بلنه ختیه وه »

«اوله دړه که کې فیصله شوې ، دلوخونه مو مزُښې موچنې جوړې کړې او په هغې مو پرده کوله ، درې کاله مو ځنګلي شوله وکرله او په څلرم کال مو یوه پرې سپره کړه او په دې کال مو هغه شولې وکرلې چه تخم یې موږ دلغمانه راوړی و. دخدای حکمت و ، مستې شولې مو وشوې . اوبه مو دهمدغه لوی نهر نه چه تر خولې بهیده په پټیو سپرولې .مګر په پنځم کال زابرونه وچ شول او دخدای هیلې ته پاتې شوو. همداو چه یو څو کوره د هر ځایه سره اشر شوو او پاس دبنګي دسیند په سر مو یو وړو کی بندو تاړه او بو نری لښتی مو چار توت ته راکش کړ . اوس دهغه نه مست سیند جوړ شوی خو لاهم په خلکو کې په نري سیند مشهور دی . دغه بند په یوه کال کې په شوا خون جوړ شو .

قادر ماما سور سمبی ته په افتخار ووېل « اوس چه داځنهورې شولې وینې چه دتابزکش آس هم پکې پټیږي داهندوانې او ختکی چې څاورې بې خورې ؛ دا جوار چې په یوه وړې یې دچا خبر دوه ازبکه مړیږي. . . . . داټول » قادر ماما خپل لستوڼی ونغاړه او تورې نری متې یې وښودې چه بې دهډوکو او ځوړند پوستکي بل شی نه و« دهمدغو متو برکت دی . تا چه بزکشی کولې ، موږ دلته دخوکانو سره په جنګ اخته وو. »

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

# زما بادام ډېر خوږ دي

د کلي دفیلسوف ، ایساک اکا ، پېشګویي رښتیا وخته . سر کاري ماسلان راغلل او موږ هلکان یې را پنډ کړو او نېغ یې ښار ته ، مکتب ته بوتلو . د چا خو پلرونه هم خبر نه وو . هلته یې چهلدر ته نژدې ، چه د ښار مرکز و د مکتب په انګړ کې د یوه لوړ څنار لاندې د صفې د پاسه په یخه مځکه کېنولو . د صنفونه د هلکانو زوږ راته چه د معلم پسې یې ویل « زما بادام خوږ دي ، زما توت ډېر خوږ دي . » تر مازیګره هماغلته نهر . خپه . په بده ورځ ناست وو او ځینو ژړل . بیا نو د مکتب زنګ ووهل شو او هلکان مو ولېدل چه جو په جو په را ووتل او ټول په لین کې ودرېدل . یوه هلک چه د نورو نه اوقي ښکاریده او بیا وروسته پوه شوو چه کفتان یې بولي ، د ټولونومونه لوستل او هر چا به د خپل نامه په اورېدو ویل « حاضر صاحب » . بیا نو دوه هلکان د صف نه را ووتل او د لین مخې ته ودرول شول او یو لوی سړی راغی او هر یو یې په لاسو په لښته واهه ، او چه هغه به لاسونه د درده په تخرګ کې پټ کړل نو به یې په ډډو واهه . موږ د وېرې د لاسه رېږدېدو ، چه اوس به زموږ وار راځي .
بیا نو ټول هلکان همداسې فیل فیل رخصت شول او هغه لوی سړی لاړ خپل د فتر ته .

په همدې وخت کې د ځینو هلکانو پلرونه را ورسېدل او موږ ټول ورنه چاپېر شوو . دوی ته مو چه حال ووایه نو موږ یې پرېښودو او په دفتر ور ننوتل ښه شېبه وروسته را ووتل او موږ یې په مخه کړو . دا اول ځل و چه زه بازار ته راغلی وم ، موږ ټول نابلد وو او خولې مو هر شي ته خلاصې پاتې وې . د بازار کوز سر کې ، چه زیاتي نو زموږ کلي ته سر ک ځي یوه کلیوال موږ ټول د یوه دوکان مخې ته په چوتره کینولو . دا سماوار و . دوکاندار د هر یوه مخې ته یوه ګردی ډوډۍ ، یوه بې لاستي زېکي پیاله او په دوو کسو یوه چاینکه شین چای کېښوده او بیا یې یوه کاچوغه بوره په هره پیاله کې واچوله . د سترګو په رپ کې مو وخوړه . دوکاندار بیا د هر یوه مخ ته یوه ترازه للمي ختکي کېښود . موږ چه دا دومره د خدای خواره خوړل ، نو یو بل ته سره

موسک وو او لارویو ته مو کتل چه آیا زمونږ عیش گوري که نه .
په بله ورځ ، ماز یگر د کلي د جومات په صفه کې جرگه جوړه شوه . جرگه به
تل په ماز یگر کېده ، چه دهقانان به له خپشاوې وروسته د وښو د پنډ سره را
ستانه شول ، او خپل پنډونه به یې د غوایانو د اوړي پنډ ځای ته چه معمولاً د
ویالې څنگ ته د توتانو د ونو لاندې به و ، راوړل ، نو به د ویالې په غاړه د
استنجا او اوداسه شړپ او شړوپ و او ملا به په کراره آذان وایه او بیا به وړو
وړو محراب ته روان شو ، په وړو وړو به یې د لمانځه قامت وایه او دې خوا ها
خوا به یې کتل چه کلیوال را ورسېږي ، پخوا تر الله اکبر نه به یې بیا شا ته
وکتل چه څوک پاتې نشي . کلیوال به لامده خیشته د پوزې په سر ورپسې
ودرېدل او د مار به شان به یې پشهار خوت . د ماز یگر تر لمانځه وروسته به
بزگران یو څه سو که شول . چا به د پښو نه اغزي ایستل ، چه به چاودې پوندې
د وربښمو په سپنسي گنډلې . ستن به د تار سره دده په خولې کې موجوده وه .
چا به لور په بیلو اچولی و او چه وچ به شو لاړې به یې ورباندې تو کړې او بیا
به یې تر هغې په بیلو سو لاوه چه د لور غږ به د خر خر نه پش پش ته ورسېد .
بیا به یې د لینگیو په وبښتو واز میبه چه خرېې یې که نه . چا به نسوار اچولي
وو او د خپلو پټیو د پاسه به یې د چنچنو سېل ځاره چه دده د پټي له سره
تېرې شوی که نه . د ځینو بزگرانو مرستیال ، یا پا سره کار به هماغلته د پټي
د مینځ . درمنځای ( درمند ځای ) کې شوا روز اوسېده ، مرغۍ او مالونه یې
شړل . د نورو به ځامنو او حتی لونو د چنچنو د ترولو د پاره شور ماشور جوړ
کړی و . د چا سره به مچنو غزه وه چه په هغې که به یې د ختیو نه جوړ کړي مرده-
کي کېښول او د مرغیو د سېل خوا ته یې ورتو غول . ځینو به شوقان واهه . دا
یوه اوږده مترو که یا قمچینه وه چه د توت د ونې د پوټکي نه جوړه شوې وه او
به سر کې یې د سونډو شمله تېنگه شوې وه . سرې به د مرغیو د سېل د لېدو
سره سم هغه د سره تاو کړه او بیا به یې په دې بل لوري شړ ک ورکړ ، د توپک
په شان غږ به ترې خوت .
جرگه د مکتب په باب وه او جنجال جوړ و . د مخالفانو لوی دلیل دا و چه هلک
د پلار له بنې ویاسي ، په تېره د کروندې په فصل کې . میرزا ستار ویل چه دا
څه بها نه ده ؟ په اوړي کې خو هلکان بې هغې هم رخصت وي . د کلي ملا ویل
چه نور خو لا څه کوي چه هلته د جغرافیې په نامه یو کتاب وربانده لولي ، چه

شرعي مجاز نه لري . قادر ماما په يوې کې هم نه و ، ويل يې چه « هلک چه مکتبي شي نو پپاخه (قره قلي خولۍ) په سر کوي او لرې دې له مخې استنجا په صابون کوي . د هغه نه بيا د ښادۍ تمه مه لرئ . »
ايساک اکابيا خپله پخوانۍ خبر د کليوالو په مخ وويشتله چه د سرک سره دا نورې بلاوې خامخا راتلونکي وي او ده يې پخوا خبر داری ورکړی و .
د موچنې ميرزا گوابش کاوه چه خپل زوی بېرته خپل وطن ، جوکان ته استوي چه د مکتب نه بچ شي . دی او ميرزا ستار يوائني کليوال وو چه مکتب ته يې مختب نه وايه . هغه ويل « دين دنيا په قلم کې دي . داگاډی او جايداد خدای ماته د قلم په برکت راکړی . که دا هلکان ليک لوست زده کړي . والله چه اول تاسو ورته روپۍ نېسي ، چه واخله ، کار مې اجرا کړه . ملا ويل ، « د قلم نه علم ښه دی او علم په مدرسه او جومات کې دی . علم قرآن دی ، حديث دی ، تفاسير دي ، دا نور مازې گمراهي او شيطاني وسوسې دي . د کلي ډم ، سخيداد ماما تجويز وکړ چه « خير دی ، دا نور سبقونه دې ووايي ، خو هغه چه ملا صاحب ياد کړ ، هغه نجومي کتاب ، هغه دې وربانديې نه وايي . » مقصد يې جغرافيه وسخيداد ماما به تل د سولې او روغې خبر کوله . ده ويل چه هلکان دې هم مکتب ووايي او هم دې د ملا صاحب نه سبق ووايي .
آمنا په دې شوه چه مشران دې په سر معلم دا ومني چه جغرافيه دې په کې نه وي ، او هر پلار به د زوی د پاره سپاره اخلي چه د ملا سره يې ووايي .
ايساک اکا مور هلکانو ته کړه ، « که خدای کول ، کبوتئ مردار ډنډ ته . »
دده پيشگويي بيا رښتيا وختله .

# د مناني خوسی

میرزا ستار د درواغو ګوډی و ، نا خبره کلیوال یې غولولي وو چه ګونډې مکتبونه د اوړي رخصت وي . چه معلومه شوه چه رخصتي د ژمي وه بیانو کار له کاره تیر و او موږ په دویم صنف کې وو .

مکتب ته تګ خو آسان و ، ځکه چه د سهار په خړه کې به مو یو کپ وچه ډوډۍ په طبراق کې واچوله ، د کلي اته تنه هلکان به په جومات کې راغونډ شوو او مخ په مکتب به د خان آباد ښار ته روان شو و . ټول پښې پیله تلو ، خو د هر چا په طبراق کې به یو څه وو ، ګاولي ، موچنې ، مزریني څپلۍ ، چاروقې ، چموسې . چه مکتب ته به ننوتلونو هغه به مو په پښو کړې . د سرک اوږده خاوره لا یخه وه ، خو کله به چه کورته راتلو نو لمر به د سرک خاورې د خوړلن په شان سرې کړې وې ، او په پنځو سم قدم به نور امکان نه و ، د سرک د غاړې ویالې ته به مو ورودانګل . که به ویاله لرې وه نو د شولو پټي ته به مو چه د سرک په دوو غاړو کې به وو رټوپ کړ . د هغې اوبه به هم سرې وې ، خو بیا یو څه سود ګي وه . د مکتب او کلي تر مینځ اوه پلونه وو او کوم تکړه هلک به و چه ځان د یوه پول نه بل ته په یوه ساورسوي او هلته به د کالیو او طبراق سره په اوبو کې لاهو شو .

چه زه کورته ورسېدم ، طبراق مې د کور د مینځ د صفې د چنار په ونه ځوړند کړ او تناره ته لاړم . مور مې یوه تاوده ډوډۍ په شکاره کې ایښې وه زما د غرمې ډوډۍ معلومه وه او بل چا لاس نشو وروړی . په زړوکي کې به تاو وه . زموږ کور یوه وړه دروازه هم لرله چه په باغ ور خلاصېده . د کلي ویاله هم په باغ کې تېره شوې ، خو لوړد ېوالونه ترې راتاوو وا و د کور ښځو به اوړی ، د باغ مینځ صفه باندې ، د څلورو څنارونو د یخ سېوری د لاندې ورځ تیروله . نور نګولی خو نه و ، تاوده و چه ډوډۍ وه او د باغ مېوې ، یا سلاته او یا هم شړومبې چه هر چا به په کنډولي کې د متې نه را اخیستې .

د باغ په یوه ګوټ کې د شا توتو په یوې زړې ونې باندې د انګورو مېلوې ختلې وې ، خو د کور د هلکانو بېډې په دې مېر وه چه ښځې او جینکۍ په ونه

ختلی نه شوې او ابا ته مې شرم ښکارده چه په ونه وخیژي . نو ره به ډېرو ډېرې سره په ونه وختم ، پاس ، ډېر پاس ، په هغه ځای کې چه دلمر وړانګې نیغې په وړولګیږي ، انګور به خواږه وي ، هماغلته به مې دهرې مړې سره په انګورو شخوند واهه . دانګورو دانې به په دوړو پټې وې او کله به زما او غومبسو په یوه وښکالي جنګ و .

بوه همداسې ورځ وه او زه دونې نه را کوز شوم او غوښتل مې چه لاړ شم ، هلته د باغ په بل ګوټ کې د آلو دیوې تیتې ونې لاندې ، چه زما دورځې د خوب ځاله وه ، په نرمو شګو تر ماز یګره چه د پادې نه د مالونو دراوستلو وخت و ، ویده شم . چه مې پام شو مور مې د دواړو میرو (زما د پلار درې ښځې وې) سره پټ پټ غږیږي . کله سره مسکې شي او کله لاسونه خولې ته د یوال کړي چه څوک خبره وانه وري .

وروسته مې بیا مور ټولو خویندو ورونو ته چه په صفه باندې وو اعلان وکړ چه «نن به څوک د باغ نه نه وځي او د ننه حویلی ته به نه ورځي ، تر څو مور د ر ته نه وي ویلي »

مور کمکیانو هم د صفې په بل ګوټ کې خپله حلقه جوړه کړه او د دې خونده ورې معمی حل مو لټاوه . ټول په جذبه کې وو . چا به ویل زمور کور کې ښامار لیدل شوی ، چا به پړانګ یاد اوه . چا به ویلې ، اذې مې خوب لیدلی چه نن زلزله کیږي او ټول کور نړیږي . مینډتې (زردالو) دهر چا مخې ته خرې خرې پرتې وې ، زر زر مو نغرل او زړي مو یوې خواته کینبودل چه د نو رو ټولو کړو زړو سره یو ځای کړو ، بیا ټول ، پوست کړو او په تار کې به وپیرو ، امیل غاړې ته واچوو او یوه یوه ترې وچیچو .

لوړ ماسپښین و چه پلار مې باغ ته راغی ، لکه بابنه چه د چنچنو په سیل راشي ، ټول غلي شوو او ودریدو ، ښځو دهرې خوانه پلوونه په مخ واړول . د صفې په سر نور ټول ، ترکمني تغرو ، بر سر ته ، څنار ته نژدې یو وړه نیالیچه وه چه څنار ته تکیه وه . پلار مې کیناست . خورمې د رنګه ګلدارې خمتا کالی وغوړاوه ، په بوه مسي قاب کې یې بینډۍ دهغه دیګي نه په کې واچولې چه د صفې نه لاندې دویالې په غاړه داوسپنې د نغري په سر ایښی و . یوه غوټه پیازبې دیوې ګردې ډوډۍ سره د قاب تر څنګ کینبوده ، څوېلي شنه مرچ یې هم په ډوډۍ کینبودل ، ما دسږوبي منګــــي نه چه دویالې په غاړه په شـــــګو کې ایښی و او خـــــوله یې په زړو کې تړل شوې وه په کنــــــډول کې سړې او به ورته راوړې ، او بیا نو

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

ټول د صفي په کوز سر کې چوپ کیناستو .

مور او میرو مې ور بوزونه په ټکري پټ کړي وو تیمبوزک وهلې پلار ته مې مخا مخ ناستې وې او پټ پټ ور ته لګیاوې . لکه د برق مزی چه تېر وي ، ورو ورو د دوی هېجان ابا ته مې هم تیرېده . لاس یې د ډوډۍ نه ونیو . خور مې چلمچي او کوزه را اخیسته خو پلار مې پاڅېد ، څپلۍ یې په پښو کړې او په لاره کې یې د هغې تسنمې تړلې ، د باغ په ویاله کې یې لا سونه په اوبو خیشته کړل او په بیړه مخ په حویلۍ روان شو . ما هم غوښتل چه ور پسې روان شم خو میندو په یوه غږ بېر ته را وګرځولم . مشرې خور مې د شکایت به ژبه وویل ، «یا ربه ، خلک په خپل کور کې بندیوانېږي ، خو موږ په باغ کې بندیان یو»

کومه لوبه، کومه تماشه لوبه روانه وا او موږ ترې بې برخې وو . په همدې تلوسه کې وو چه یوه غیبې مرسته ، د یوې ثورۍ مرغۍ په بڼه راغله ، د صفې نه کوزه په وښو کې کیناسته ، او تغ تغ ، تېق تېق یې شروع کړ . غوله که (ربړي لینډۍ) مې له غاړې وایسته ، د کمیسه جب مې د ګاټو ډک و . دا ګاټې موږ د مرده کي به اندازه له ختو جوړول او بیا مو لمر ته کېښودل چه مرغۍ پرې وولو ، ځکه چه په خان آباد کې تیږه او کانی یوائې په سر کاري سرک کې پیدا کېده او هغه هم هغه وخت چه حکومت به په هرو دوو کالو کې یوه پېره په بېګار په خلکو باندې له کاپر کونج نه په خرو را چلول . نور خان آباد او پره خاوره ده . زه د صفې نه په کراره د مرغۍ پسې ور وښوییدم ، خو هغه والوته ، د منې په ونه کښېناسته . زه چه ور رسېدم دا والوته او لږ لرې د بهي په ونه کیناسته ، له یوې ونې بلې ته ، لکه چه ما ته بلنه راکوي ، ان د کور تر دروازې یې ور وسولم . شا ته مې صفې ته وکتل خو د هغوی را ته پام نه و ، نو ما هم په یوه منډه حویلۍ ته ځان ورساوه . ما فکر کاوه چه هلته به لویه تماشه وي ، ډب وغړپ به وي او وینې به بهېږي ، خو هېڅ هم نه و . کوټې مې ولټولې ، خو آرامه آرامي وه . زموږ یوه د تناره کوټه وه چه د ژمي مو پخلی په کې کاوه . له هماغه لوري څه زوږ راغی . دې کوټې یوه وړه دروازه لرله او یوه توره د رونڅه . د دروازې شا ته ودرېدم . یو غږ مې د ابا و ، بل د کوم بل نارینه . داسې ښکاریده چه څوک مې ابا ته زارۍ کوي او ابا مې ورنه په شمېر لې غږ پوښتنه کوي:

«داولې ؟ پښتړن خو داسې نه کوي ؟»

«د خدای پار دی ، ماخلاص که »
«جلی چېرته ده ؟ »
«پخپل کور کې ، د خدای د پاره ......... »
«ته غلی شه ، ځان ټول کړه ، حقیقت را ته تېر که . »
«گوره صاحبه ، ډېره به دې ونیسم ، پښې به دې ښکل کړم »
« درته وایم چه د نور شي غم مه کوه ،کیسه را ته تېره کړه . »

ډېر مې زړه غوښتل چه یو وارمې دا سرې لېدلی وای چه څوک دی ، څه غواړي خو زیاتي مې تاب رانه وړ او په تراټ باغ ته لاړم . میندې لا لگیاوې ، سرونه یې یو بل ته نژدې نیولي وو ، په گونگوسي بوختې وې .
ماز یگر لمر د شولو نه په را ولاړ شوي بړاس کې زېړ چکی په غړ غړ وو چه زمونږ په خوبجن کلي کې هیا هو جوړه شوه . نه تنه بریتور پردي ، په آسونو سپاره زمونږ د کور مخې ته ولاړ وو . وربوزونه یې په پگړې ترلي وو او د چپنو لاندې یې د کارتوسو گردنی ښکارېدې ،دچپنو لاندې ، کین اړخ ته پړسوب ښشکه چه تمانچې وې . مست آسونه ، ځگونه او رواني خولې یې د لرې سفر ، ځغاستې او ستړیا بیلگې وې. ابا مې په جومات کې و او زه لگیا وم ، غواوې مې چه د پادې نه بېلې کړې وې ترلې ، خو سترگې مې په همدغو خونخورو سپرو خښې دې . د ډاره رېږدېدم او نه پوهېدم چه څه خبر ده . د یوه را ته پام شو او په قارېږي را باندې غږ کړ ، « اې هلکه ، دلته راشه ! » دوی لا هم سپاره وو او د آسونو ناکرارو پوندو یې د کلا مخې ته دوړې جوړولې.

« ته د کازي برام الدین زوی یې ؟ »
« هو »
پلار دې چېرته دی ؟ »
« جومات کې »
« ورځه ور غږ که ! »

په تراټ جومات ته لاړم . ملا ماما جمعه خلاصه کړې وه او ټول په دعا ناست وو . ابا مې د سترگو له گوټه راته وکتل ، خو لاسونه یې لا هماغسې په د عا

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.

جګ نیولي وو او د کپچه مار په شان یې سر د ملا ماما د دعا سره ښوراوه . نه پوهېږم ولې زه پوه شوم چه ابا په هر څه خبر دی او حتی په دې هم پوهېږي چه بهر یوه ډله خونخواره ور ته ولاړ دي . کله چه ملا ماما لاس په ږیره راښکه او تول پاڅېدل نو ابا مې او ملا ماما د کور په لور روان شول او زما د وینا حاجت پاتې نشو . دواړو په سترګو کې یو بل ته څه سره وویل او ملا ماما لاربېله کړه او د باغ په لور او ابا مې مخ په کور روان شو . د سپرو په لېدو یې وویل « ستړي مشئ » . هغوی هما غسې غلي وو ، تر څو ابا مې د کور لویې دروازې ته ورسېد ، بیا یې وویل « ستړي مشئ ، را کوز شئ چه حجرې ته لاړ شو » په سپرو کې یوه ، خپل وربوز خلاص کړ ، لنډه کې ږیره یې وه او د آس داوزار نه یې ښکارېده چه د ډلې مشر دی . ویې ویل:

« مور راغلي یو چه زموږ سړی را وسپارې . »

ابا مې به تعجب وویل « کوم سړی ؟ څوک یادوئ ؟ »

هغه وویل ،« منان یادوم ،زموږ مدعي . » پلار مې وویل « د منان په نامه خو څوک نه پېژنم ، خو تاسو راکوز شئ ، لږ دمه وکړئ او بیا به[ما] په خبره پوه کړئ ، » شین ږیري په زهر خند وویل ،« موږ د ډېر لرې ځایه راغلي یو ،اَن د قرغزنه . د ډېرو پوښتنونه پس مو دا کور پیدا کړ . پَل ستا سو د کلي پورې را رسېدلی او بیا د شولو په پټې کې ورک شوی پَل د کلي نه بهر نه دی وتلی . زموږ آمنًا په دې راغله چه سړی ستا په کور کې دی . بس هغه په لاس راکوه او د حجرې ست پرېږده . » پلار مې هم ور ته موسک شو ، « اول خو تول خان آباد د شولو پټې دی ، او دانا شو نې ښکاري چه تاسو به پَل د قرغز نه اَن تر دې سیمې را رسولی وي .

بله دا چه چار توت خو یو کلی نه په سلهاوو کلي دي ، څنګه زموږ په کلي را برابر شوې . دریم دا چه زموږ کلی خو هم د کړو خیلو نه نیولې بیا ترسا پو پورې پروت دی ، څنګه دې زما په کلاشک راغی ؟ » شین ږیري وویل « پَل خو ښشکه چه د سړک نه په دې کلي راغلی او په دې کلي کې یوائې ته خوګیانی یې » پلار مې بیا وخندل ، « وروره دلته غونډ پښتانه اوسي ، ساپي ، کړو-

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

خېل ، ټول پښتانه دي. » شین بریري وویل « پښتانه خو ټول دي ، سمه خبره ده ، خو مونږ چه ګروېږنه کړو ، نو منان به فکر کوي وي چه راځه په خوګیاني ننواتې وکړه ، چه پلرو یې یو وخت خوګ ته پناور کړې وه ، ګوندې بېرته دې ور نه کړي . » . زما پلار په یو څه جدي غږ ویل ، « تاسو د رَمل او فالبیني خبرې کوئ. فرض که دا د خوګیانو بد نامي یې بولئ که نیکَنامي ، دا در سره ومنم ، خو دا پوښتنه کوم چه منانی څه پوهېده چه دا کور د ساپي دی او دا د خوګیاني . د تاسو د وینا د قراره خو هغه په تېښته کې و ، نو هغه خواره کي کله دومره وخت درلود چه آن دلته د شولو د پیکالونو او د دومره کلو په مینځ کې ، یکې یو کور ، د خوګیانو پیدا کړي . ستاسو خبرې د تېرو زمانو دي ، اوس د ساپي او خوګیاني څه چه دا زیک او پښتون فرق لا نه کېږي. »

شین بریري په بې حوصله ګی خپلو نورو سپرو ته وویل ، « هلکو تاسو د کور او باغ چار چاپېره ودرېږئ ، چه زنده سری درنه ونه وځي ، » بیایې دوو زلمو ته اشاره وکړه « تاسې زما سره پاتې شئ . » هغه نور شپږ سپاره لاړل . د باغ او کلا نه چاپېر شول .

شین بریري ووېل ، « که ستا خبره صحیح ده ، نو ورپرانیزه چه مونږ دې کور ولټوو ، که زمونږ مدعي نه و ، بیا به خپله لار کوو . »

پلار مې وویل ، ډېره ښه ده . زنانه خو په باغ کې دي ، تاسو کور ولټوئ. »

شین بریری او دوه یاران یې د آسه کوز شول ، پلار مې د کور دروازه خلاصه کړه او په ارام او درانه غږ یې وویل « دا تاسې او دا کور خو یو شرط . په کې دی . »

شین بریري پښنه ونیوه ، « څه شرط ؟ » ابا مې بیا په هماغه شمېرلي او آرام غږ چه ټولې کورنۍ ته معلوم و او ورنه وېریدو ، وویل « که تاسو خپل مدعي پیدا کړ ، نو د هغه سره زما د غه زوی هم په ناغه در سره بوځئ ، او که مو پیدا نه کړ نو خدا که یو هم ژوندی را نه لاړشئ. » شین بریری تکنی شو او په ځیر ځیر یې زما پلار ته وکتل . ډېره شیبه دواړه سترګې په سترګې وو . بیا یې په خندا وویل ، « تاسو مه خپه کېږئ ، مونږ هسې پېشرو کولو چه زمونږ نفر به دلته وي او که نه ، او هسې نه چه تا سو پنا ورکړې وي . د پَل خبره هم تو که وه خو خبره داده چه منان مونږ ته شرم را اړولی او بې مرګه یې نه پرېږدو . » بیا یې خپل نور سپاره ور وبلل او بې له خدای پامانۍ د کلي نه بهر روان شول .

ابا مغ په جومات روان شو او زه هم سانیولی ور سره ځغستم. کلیوال څوک د

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.

جومات په برنډه کې ولاړ و موږ یې څارلو ، څوک د پولو په سر جومات ته را روان . حیراني دلته وه چه د تولو سره وسله وه .زنګن توپک چه خلکو د وطن نه ترکستان ته را وړي وو او بیا یې نو لکه تبرک شی په تورو لوګنو کوټو کې له چت نه ځړولي وو او په عمرونو وریاندې ډزنه وشوی . قادر ماما خپله زنګ وهلې توره چه سېلاوه یې بلله د زاړه تیکې سره لکه امسا په مځکه لګوله او جومات ته را روان وو . دا تول په یوه سلا زموږ مرستې ته راغلي وو . داسې ښکارېده لکه پلار مې چه د ماز یګر د جمې په وخت کې کلیوالو ته حال ویلی وو او تولو د مقابلې تابیه نیولې وه . قادر ماما خپلو زامنو ته غږ کړ چه ختیکي را وړئ ، د هغه مځکه د جومات سره لګېده . د سترګو په رپ کې نبي او حسین څلور غټ ختیکي چه هر یو د بالنبت کدر لوی وو ، برنډې ته را وخیژول

قادر ماما پخپلې سېلا وې و څیرل او تول ور ته په پوزې کېناستو او پلار مې په خوند خوند د مناني کیسه تېره کړه . تول راضی او خوشحال ښکارېدل او قادر ماما ویل « بلا وه برکت یې نه و . » د دوی د خبرو نه دومره قدر ته پوه شوم چه منان کومه لویه ګناه کړې وه او بیا زموږ په کور کې پټ شوی و ، خو په دې حیران وم چه ولې نو موږ بهر ته خلکو ته په لاس ورنه کړ ، چه د خپلې ګناه ، غلاوه که بیلمازي که هره بله بلا ، سزا وویني . موږ خو به چه ګناه کوله پلار او مور څه چه کلیوالو به چه هم ګېر کړو په مخ به یې تسونه راکول، نو دا مناني ولې بې سزا پاتې شي ، او کلیوال لا خوشاله هم وو، لکه لویه کامیابي چه ور په برخه شوې وي ، او په برنډه کې یې د ختیکو جشن جوړ کړی و . تول خوشاله برېښېدل او حتی د ځینو بروسو کلیوالو ګونځې هم یو څه هوارې شوې وې . هېچا په ماچرت نه خرا باوه چه که خلکو دا مناني پیدا کړی وی نو زه یی هم په ناغه کې ور سره روانولم . کلیوالو یو د بل وسلې ازمیېلې ، ناوه یې ، زېروښی ، دره وال ، یوولس ډزی ، خو تول زنګن ، د تولو پوښونه وچ کلک او لوګي وهلي ، لتهونه په آسانه مه ښو رېږه ، د ګردنې څرمن یغه بڼغه ، د ډېرو نلیو په پټاکو کې وړې وړې زخې ، لکه چه یو څو ځلي د لټ ستنه وریاندې لګېدلې او غل شوی وي . دا د کلي توله جبه خانه وه چه په ودونو او دغسې ورځ به میدان ته را ووتله . د تولو سره نا آشنا لګېده ، ځکه ما کلیوال تل د لور او یوم سره لېدلي وو . یوائځنی سړی چه توپک یې ښه غوړ او پر کنده ، ګردنی یې په مریو او زوندیو جړ اوه ، هماغه د موچنې میرزا و چه لا یې د خان آباد

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

نمجني هوا او پستې مځکې سابه نه وه په مالګه کړي .
په همدې کې ملا ماما هم د توپک سره را ورسید او داسې پوه شوم چه هغه د حجرې د بام په سر پهره کوله .
د ماښام له لمانځه پس چه را ووتلو ، دوه زین کړي اسونه ولاړ و . پلار مې کور ته د ننه شو او چه بېرته راووت ، د یوه بل سړي سره چه لوخ سربېی و ، بېرته جومات راغی . دا منانی و ، شلېدلي کالي ، پڼې بیله ، او ږیره دېده . پلار مې را ته وویل چه کور ته ځه او یوه جوړه جامې ، د پګړۍ او پټو سره راوړه . هغه مې په تراټ راوړې .
منانی جومات ته ننوت او جامې یې واغوستې . بیانو هر کلیوال ، خداوهست یو څو روپۍ منانی ته ور کړې . د ملوارې مور په یوه زاړه ، چنبرې دستر خان کې څه ډوډۍ را لېږلې وه. زما پلار وویل ، « او دل منانه ، کار خودې وران کړی او نژدې دې مور هم سټ کړې وو ، اوس نو دا آس واخله ، دادې د ماله خوا تا ته بخشش وي . نبي به دې ترپاس للمې پورې بدرګه کړي او بیانو ورځه ، شاته مه ګوره او مخ په کابل درومه . » .
منانی د نبي سره لاړ . څه شیبه مور تول ولاړ وو . کلیوالو مې ابا ته کتل او دا له هغو نادرو وختونه را یاده ده چه کلیوال مې د ابا د شاهکارۍ په احترام چوپ ولاړ و او په سترګو کې یې شاباسی ورکاوه .

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

# گرافون مات شو

پښتانه د نومونو سره هم لج کوي . میر خان میروگی کړي ، انځرگل انځری .
نه یې لوریږي چه بل پښتون په درانه نامه یاد شي ، هرو مرو یو څه سپکاوی
ور ته کوي . که په ده یې زور ونه رسیږي نو نوم یې سپک یادوي . د مور ناز
خوږ نومونو په بدلولو کې بله بلا ده . د ما چینجنه زویه ، د ماگړنگنه زویه ،
د مانیشتو کیه بچیه . چه هلک لوي شي همزولي یې بیا په همدغو نومو یادوي
بل بدلون هغه دی چه د نورو ژبو نه په اخیستل شوو نومونو کې راځي . در
خانم درخانۍ شي ، عفیفه اپیپو ، رعنا رانۍ ، نصرالله نرسولا . که نور هیڅ
نه وي نو د پښتو نون خوشته ، کفتره بی بی کونتره شي .
میرزا محمد طَیِّب هم (چه بې هغهې هم پښتانه د ط سره . خ او واو زیاتوي او
مثلاً طاهر ، طخاهر او کله لا طخواهر بولي ) خلکو په اول سر کې ، طخویّب او
بیا نه پوهیږم ولې شخوه یب باله. هغه هم لکه د میوچنې میرزا زمونږ په وختو
کې د لغمان نه راغلی و اول کې د خان آباد په ښار کې کاتب و او بیا یې زمونږ
په کلي کې د ارباب سامو ( حسام الدین ) لور وکړه .
میرزا شخیب اول سړی و چه هم یې وشتین سیکنډش ساعت په لاس تړلی و او
هم یې گرافون درلود . دروژې په ماښام به ملا ماما د همده اشارې ته کتل .
ځکه چه د توپ غږ د ښار نه نه راته . په تېره چه آسمان به وریځ و .
گرافون یې په سراچه کې ایښی و چه موږ ورته قوشخانه وایو . او کله به چه
دده میلمه راغی نو موږ به د کلا د شانه د بدلو غږ واورېد . دده د گرافون سره
یواځې دوه ریکاټونه و چه یو یې پښتو و او د کوټی د زلزلې قصه وه « مځکه د
مکې به زنگېدله لکه تال - په شان د زلزلې به خوزېده امر د رَب » د ریکاټ
په بل مخ کې د میړه او میرمنې جنگ و چه د خاوند نه یې سنگلیټ (سن لایټ)
صابون غوښته او حمام ته تله او میړه یې نه پرېښوده . دا بل ریکاټ د کومې
بلې ژبې و چه « دنیا دیوانې ، دنیا دیوانې » یې ویلې . میرزا شخیب به چه د
اختر پاښادیو په ورځ هغه غږاوه نو پخپله به یې معنې کوله چه « واینی چه دنیا
دیوانه ده او خلک یې هم ورپسې دیوانه دي . »

هر څو میاشتې به دا ګرافون مات وا و د میرزا ستار په ګاډي کې به بازار ته وړل کېده . میرزا شخیب به ویل چه په ګرافون کې عیب نشته خو فنر یې ناکاره دی . د مېلمستیا وړپه وخت کې دده د زوی کار داو چه هماغلته ګرافون ته کښېني او کوک ورکړي ، ستنه یې بدله کړي ، چه بیا وروسته پخپله میرزا شخیب دغه ستنې یوه یوه په هغه بیلوتیرې کولې چه دده په جیب کې به وا و د جومات په برنډه کې دده ساعت تیرې هم داوه چه د ګرافون ستنې په بیلو واچوي .

د کلي پښ ، استاد مندالي (محمد علي) یو څو ځلې خواري وکړه چه د وسپنې فنر ورته جوړ کړي ، خو کله به فنر پرېږو چه دچا زور به یې په کوک کولو نه رسېده او یا به دومره نرې ، خرسن ، وچه د کوک سره به مات و . دا ګرافون موږ ترهغې اوربده چه د ښار نه منتسر (محتسب) په دوره راغی .

د اختروړځ وه او میرزا شخیب ګرافون د کور نه بهر صفې ته را ایستی و . زه مې د پلار او د کلیوالو د ډلې سره هماغلته وم چه منتسر صفې ته را وخوت . د اختر نوبت په کلي کې معلوم و چه اوله ورځ به ډله په چا ورځي ، د غرمې ډوډۍ به په چا خوري او بیا به چېرته ځي . منتسر چه راوخوت موږ ټول ورته په احترام پاڅېدو . د څرمنې دُرّه یې په اوږو اچولې وه چه ښایسته لرګین لاستی یې وو. موږ ولاړ وو ، خو ده هېچا ته و نه کتل او نیغ ګرافون ته لاړ .

ریکاټ دنیا دیوانې ، دنیا دیوانې ویله چه ده دُرّه پرې را خلاصه کړه . خپله یې حساب کاوه ، یو ، دوه ، درې ......... دېرش ، نور نو په ګرافون کې څه نه وو پاتې او د ریکاټ تو کړې د هغو ښنکو په مینځ کې لوېدې چه د نقل او پتاسونه ډک وو .

کلیوال هک اریان ، ژبون وهلي ولاړ وو او میرزا شخیب د منتسر د هر ګوزار سره سر ښوراوه او ویل یې « الله پزل (فضل ) الله پزل » بیا نو منتسر یې له دې چه د چا سره اختر مبارکي وکړي له صفې کوز شو او په خپل آس سپور شو او لاړ .

کلیوال نه پوهېدل چه څه وکړي . ځینو کوشش کاوه چه د مات ریکاټ ټوټې را ټولې کړي ، او چا ګرافون راجګاوه ، خو میرزا شخیب په آرام او ورزلې غږ وویل « ګرافون مات شو ، همدا سې یې پرېږدئ » د کلي ټوکمار ، ثناالله کاکا د ریکاټ یوه ټوټه را واخیسته ، سر یې وښوراوه او ورته وې ویل

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

رښتیا چه دنیا دیوانه ده او خلک یې هم پسې دیوانه دي . » وروسته بیا د میرزا شخیب نوم (مات شو ) شو او هغه هم د لغمانیانو په تلفظ چه په معروفه یا یې وایې او د (ش) نه شکیلي وباسي ، لکه مات شووووو .

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

# باړه ماما ــ دري زاړه شیان

د هدیرې لر سر ته د شنډه توت یوه ستره ونه وه چه د ډېر زړښت او لویوالي نه خلکو «شنډه بابا» بلله او د ځینو د چار توت نامه ته اشاره کوله او ویل یې چه یو توت همدا ونه ده او نور سېلا وونو وړي دي. د همدې توت د ډډنه چارچاپېره باړه ماما کوډله جوړه کړې وه، داسې چه د ونې ډډ د کوټې په مینځ کې و، د ونې په ډډ کې، باړه ماما چه تکړه ترکاڼ و، د ډېوې، قرآن شریف او نور تک وپوک د پاره رفونه جوړ کړي وو او بام یې د لوخو چوتره وه. باړه ماما د تګاو و او اصلی نوم یې خدازده څه و خو په پښه یې ژبه باړه زلمي ته وایې او جَنجه کتې ځوانې ښځې ته. دده جنجه کتې، شمایله مړه شوه او ورپسې یې زلمی زوی، جُمه خان چه زموږ دهقان و هم ځوانیمرګ شو. باړه ماما پاتې شو او د شنډه بابا لاندې دده کور او دده ټرښځ (تښه) چه د تګاو نه یې راوړې وه. باړه ماما زما د مچی ددم اُستاد و او د زېړکیو مچیو د نیولو اجازه یې را کړې وه:

کته کات، کته کات
کته بار، کَته بور
نېش زرد زنبور
وکل جال زود زنبور
بستم به مُهر سلیمان پیغمبر
به اِسمِ پیر واُستاد
به هوده ي اخوند موسی صاحب بتي کوټ.

مګر چه ماهر ځومره ګرادانو نه کَول او ځان مې وّر ته مجذوباوه خو هر وار مې چه مچی نیوله چیچلم یې. ما دا خبره پټه ساتله، ځکه، باړه ماما ویلي وو چه که ددې هو دې نه پس هم تا مچی وچېچي نو پوه شه چه په ایمان کې دې خلل دی.

دشمایلې او جُمه خان د مرګ سره نور د باړه ماما ستوری هم ولوېد. دهقاني د جمه خان سره ترې پاتې شوه او ترکاني هم دده خبره «ښه زړه غواړي. دا

تېښته نه ده چه کار کوي ، دا د باړه عقل او لاس دی ، لاس د جمه خان سره لاړ او عقل د شمایلې سره . »

د کلي خلکو به په درمنده باړه ماما ته غنم او شولې ورکولې او میرزا ستار غوري او د ډېوې د پاره تور تېل ور سره منلي وو ، میرزا شخیب هره میاشت یو پاو غوښه ورلېږله . دا کوم احسان نه و او نه باړه ماما سوالگرو ، بلکه د کلي په هر کوز کې د باړه ماما د ترکانۍ نښه وه او د ټولو ور باندې ښه کېده .

اوس به یې نو په باغونو کې خس کول او کومه پخه او خوږینه منه یا شفتالو به چه په مځکه پرېوتی و ، را ټولول او په کړشو په خوله به یې ورباندې ساعتونه شخوند واهه . د باړه ماما کتوئ به تل اېښېده او لوگی به یې ټول کلي لیده چه د شنېده بابا په ځانگو کې به نرۍ نرۍ هوا ته خوت .

شنېده بابا د توت ونه وه خو د کلي د هر چنار نه جگه وه . د هغې په سر د یوه کجیر ځاله وه ، نرکجیرو ، لکه باړه ماما ، بې جوړې او بې بچیانو چه د هغه جنجه کتې هم دوه کاله پخوا په یوه بل کلي کې چا ښکار کړې وه او واړه سوزې گوړې بچي یې یو د ځالي نه د باړه ماما په بام را پرېوتل . زوړ کجیر و چه ټول کلي پېژانده او چه ماښام به ځالي ته راغی د وزرو نو پرپهار به یې ډېر ساعت روان و چه ځای په ځای به شو .

د ژمي په شپو کې موړ هلکان کله کله د باړه ماما کوټې ته ورتلو ، لویه مشکله دا وه چه باید د هډېرې نه تېر شوي وای ، خو موړ تا بیه ورته نیولې وه اول خو دوه درې هلکان په ډله ورتلو ، بله دا چه د جمعې په شپه نه ورتلو ، چه اروا وې راکتېږي ، او بل دا چه ټولو به په جهر الحمد لله ویل او شا ته به مونه کتل .

د باړه ماما چایځوښه به خوټېده او موږ به په نوبت پیاله ترې ډکوله . باړه ماما سخي سړی و او ویل به یې ، « ښه دریغه یې څښئ ، بوې چای دی . » کالونه کالونه پس زه د بوې چای په معنی پوه شوم . دا چای نه و بلکه باړه ماما د بهې د ونې د ځانگې پوټکي او تاندې لښتې په چایځوښه کې خوټولې او د چای غونډې زېړ رنگ به یې پیدا کړ .

باړه ماما موږ ته کیسې کولې ، نا آشنا کیسې ، د تگاو ، نجراو او بُدر او کیسې ، د ولیانو ، دیوانو او لیونیانو کیسې چه ټول په پښه یې ژبه گرېدل . د میا گل جان آغا کیسه چه د مرگ په وخت یې مُریدانو ته امر وکړ چه ډېوه مړه

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

کړئ ، ځکه چه ، ماته په برستن کې چراغ بل دی . » ، د آخون موسی صاحب کیسه چه کټ بې د مارانو نو اویدلی و او هغوی په ګډه آخون موسی صاحب د مرګ ترون وکړ او داسې مار یې لتهاوه چه او به یې نه وي څښلي او په آخر کې منګري وویل ، «او به څه شی دي ؟ » ، او د ټولو مارانو په منګري سلا راغله او منګری د مبارک په ښی کنهاوه کې پټ شو او چه مبارک سهار ښی پښه په کنهاوه کړه ، منګری ټک ورکړ او مبارک ته دومره وخت پاتې نه شو چه ګوته په لاړو لمده کړي او په چیچلي پښه یې را کاږي .

د شپې به کله کله د توت د سر کجیر و منجبد او نری غوندې ششنا به یې وکړه . باړه ماما ویل چه خوبویني .

چه به کور ته ستنیدو نو یو بل ته به مو د باړه ماما د کیسې لوی ټکي ، خطرناکې پېښې او د کیسې هغه ځایونه یادول چه ډار په کې و یا د کیسې پهلوان به په دیویا ښامار باندې زور ور شو . درسته شپه به مو همدغه صحنې په خوب لیدې .

ثناوالله کاکا چه خلکو « نولی » باله یو مازیګر په جومات کې ویلې ، اې کلیوالو ، زه تاسو نه یوه پوښتنه کوم که چا یې ځواب راکړ نو زما کولنګي چرګ یې وګاټه . زما د پلار یو زوړ شی دی ، د یوه زاړه شي لاندې اوسي او یو زوړ شي یې پهره کوي . کلیوالو هر قسم ځوابونه ورکړل ، خو په آخر کې هغه پخپله ځانته ځواب ور کړ ، «باړه ماما ، د شنه بابا لاندې ، او د پاسه پرې زوړ کجیر . » .

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

# بختوره ، غولانځوره

یو ماښپښین د جوارو د پټي په مینځ کې روان وم او د خپلو لومو دوره مې کوله چه مړژ په کې نښتي او که نه . دې ته مو ړ کلو خکې ویلې او د ختو نه جوړ شوي غونډاري وو چه یوه لومه مو په کې ټینګوله . د لومې کړۍ به بهر راوتلې وه او نوره به د ختو په غونډاري کې پټه وه . دا به دیوه توپ یا پنهوس په اندازه وه چه د متې ختې نه به مو سازه کړه او بیا به مو لمر ته کښښوده چه وچه شي . د جوارو یا میو په پټي کې به مو په ببل یوه نرۍ لار (ګمه) جوړه کړه ، ګویا مړژ ته به مو سړک جوړ کړ . دا لار به نیمه لوېشت ژوره وه چه که یو وار مړژ پرې برابر شي سیخ سېده هغه بل سر ته لاړ شي . ددې لارې په هر قدم کې مو دغه کلوخکې ایښودې او ګرچاپیر به مو باره ترې جوړه کړه چه مړژ غیر له دې چه د لومې د مینځ نه تېر شي په آسانه بله لار ونه لري . د لومې دواړو خواوو ته به موړ دن او که هغه نه ونو د شمو خې دانې وشیندلې چه مړژ د هغې په خوړلو خوړلو سر په لومه ننه باسي چه بل پلوړ دن هم وخوري ، ددې خرامان حرکت سره به د لومې کړۍ هم د مړژ په غاړه کې کش او تنګیده او یو وخت به یې پام شو چه زیاتي یې مرۍ په لومه کې نښتې ده ، او چه به یې د خلاصون د پاره هوا ته توپ کړ د کلوخکې د غونډاري د روند والي به ډب په مځکه را پرې ایستله .

په دې طریقه د مړ ژنیول آسانه هم نه وه . دا یو لوی حکمت و .

د ختې انتخاب چه ونه رژیږي ، د لومې د وېښتو شمېر چه که د آس د لکۍ وي څو لړه غبر ګ شي او که د آس د ور ګ وي نو څو لړه . د لومې غړل هم یو کمال و چه څنګه مرغلین شي ، او سپم یا هغه برخه چه ول پرې ننوځي څومره پراخ وي . زمانه ډېر مړځان په دې تلف شوي چه لومه به نرۍ وه او ایسته به یې د مړژ مرۍ غو څه کړه . ول باید څومره لوي وي چه مړژ ښوی ترې تېر نشي او څومره وړوکی وي چه د سر په ننه ایستلو بېر ته پښیمانه نشي . رنګ یې باید څه خښل وي چه مړژ یې د ورایه ونه پېژني . د لومو دوره باید د ورځې دوه ځلې وشي ، یو سهار چه پرخه والوزي او مړژان د دانې د ټولولو پسې را ووځي او بل لوړ ماز یګر چه مړژ اخري ځل څري .

د مېږ نیول سخته نښه هم لري . ثناوالله کاکا به ویل «چه سړی د جوارو په مینځ کې خپلې کلوخکې شمېرې او یوه په کې کمبود وي ، چه ګورې آپلو د جوارو د ټانټې نه تاوشوې ده او مږ زد تا په لېدو لکه پېغله نجلۍ په بستر کې بر بنډه ټوپونه وهي. سبحان الله ، څه خوند یې وي . ببا به یې په خندا وویل ، کله لا کشپ په کې ګیر شي .

ماسپښین ما د خپلو کلوخکو دوره کوله ، څکه ورځ خو به مکتب کې رانه خاورې شوه او د سهار د دورې نه به پاتې شوم او چه کور ته به را ورسېدم د جوارو او میو په پټیو به مې ورهله کړه . لومه مې هم نرۍ وه او وېریدم چه مږ را نه حلال شوی نه وي نو بیره مې هم کوله . لا یوبل آفت دا و چه په همدې ماز یګر زموږ د پټیو د او به خور نوبت و او ډېر مې لیدلي چه کلوخکې د اوبو لاندې شوې او چه لاس مې ور وړی یوائې دوه تاره لومه لاس ته راغلې .

نو په دې ورځ په بیړه اول په میو او بیا په جوارو کې په خپلو لومو وګرځېدم . یو سور غړی مږ زمې ترې خلاص کړ او په بډه مې ومانډه ، یوه مږ زه وه چه هماغلته مې الله اکبر وویل او په لاس مې سر ترې وشکاوه . په همدې وخت کې مې څه ښکالو تر غوږ شوه او ځای په ځای ودرېدم . د جوارو د پټي په هغه بل سر کې د پوسته کي (دوست محمد ) درمند ځای و ، ښکالو د هماغه ځای نه راتله .

ورو ورو د جوارو په پټي کې د ښکالو په لور روان شوم . چه پولې ته ورسېدم ګورم چه بختوره کتېو په سر ، دستر خان په غېږ کې په پوله د درمن ځای خوا روانه ده .

بختوره د پوسته کي لور وه او د کلي ښځو به تل د بختورې سره غولانځوره هم غبرګوله او دا کومه د حیرانتیا خبره نه وه . بختوره د اتلسو کالو وه ، نوره په صورت نرۍ لکه لښته خو سینې یې د وړو هندوانو په شان مخته راوتلې وې چه حتی په لوی کلیوالي کمیس کې هم نه ځایېدې .

د پټي په بل سر کې ، درمند ته تژدې ورته غلی شوم او غوښتل مې د هغو آوازو معلومات وکړم چه د کلي هلکانو به ویل ، بختوره چندان په پوستب کې پاکه نه ده .

په هر درمند ځای کې یوه کوډله وه چه هر کال به دهقانانو د ونو ، غنو او درګونه جوړوله او په مني چه به یې شولې د هغې خس به یې هم د بتۍ نغري ته

اچول.

چه شولې به زیړې شوې ، ختکي به ورسېدل ، مېو او جوارو وړې راوړل نو دهقان با دهغه مرستیال (پاسره کار) شپه او ورځ په همدې کوډله کې تېروله چه مرغۍ په شولو او غله دختکي په پالیزونه لګیږي، که څه هم چه موږ هلکانو ډېر دغسې کوششونه شنډ کړي وو.

خدازده پوسته کی څوک واو څه شوخود پوسته کی زوي په کلي کې یو ناړامه سړي پېژندل کیده. نه جومات ته راته ، نه یې زکات ورکاوه. نو دکلي ملاورسره وران او زموږ کوهستاني ملا به ویل «لعنت به پوستک». دخدای کړه وود پوستکی زوی ګوزڼ وواهه او په کور پریووت. مجبور شو چه په پنج یکه ، دهقان ونیسي، څلور برخې دده ، یوه د دهقان ، غوابې ، ډوډۍ او دره وی (د دهقان دلو او لور جامې) تولې په دده.

بختورې دماښام ډوډۍ همدا اوس دهقان ته وروړله . لېده مې چه دمستو کتوه یې د کوډلې نه بهر کېښوده او دهغې په سر یې دوچې ډوډۍ دسترخان کېښوده ، بیا یې چارچاپېره وکتل . دجب نه یې یوه وړوکې هېنداره را وایستله او خپل مخ ته یې ونیوله په پیکې یې لاس تېر کړ ، بیا یې لروبروکتل چې دهقان یې صحیح کړ. آېینه یې وراچوله ترڅوچې دهغه په سترګو برابره شوه او کتل مې چې خیشت پیشت دشولودپټې نه را ووت ، دوښو پنډ یې دپولې دسر نه په شاکړ .دوه غوایه دکوډلې شاته تړلې وو ، وابښه یې ورته واچول او په کوډله ننه ووت. چه راووت خپل مخ یې په یوه زړو کې وچ کړ ، کټوبې واخیسته او کوډلې ته یې ننه ایسته چه بیا یې ماښام وخوري .

بختوره هم وریسې ننوتله .مازیګر لمر په غرغړو و او دوړې مې لېدلې چه دللمې نه زموږ دکلي په لور راوانې وې ، او وخت یې وچه زه هم ورشم او خپلې غواوې ترې رابیلې کړم ، خو بختوره لا هم دد هقان سره په کوډله کې وه .دادغویانو دپادې دسر دوړې ، لکه ګرځنده وریځ تل دپادې سره ملې وې دغویانو دورکیدو امکان نه وځکه موږ هلکان به ددوړو دوریځ نه دا معلومولې شوه چه پاده کوم ځای ته رسیدلې ده غم دسرک نه تر کوره پورې دهغو راشړل وچه په لار کې به یې دکلیوالو پسلونه سر کپ کړل.دللمې نښتو کې وچ وابښه کله دشولو دښېرازو وړو او خرسنده جوارو ټانټو ځای نیولی شي.

بختوره لاهم په کوډله کې وه او ما چه هر څومره ټمبولا او ټمبولا ، باړه ماما او

آخون موسی صاحب ته زاری وکړې بختوره غولانځوره نه راوته، او زه هم د مالونو په بیره کې وم. تلوسې دومره وار خطا او بې چاره کړم چه آخر کارته مې په ښکنځلو او حتی په ښېرا پېښه وکړه. را ووځه د سپی لورې، راوځه چه گوزڼ وهلی پلار دې را روان دی، بېشرمه سترگې دې وخورې ...... ، مگر دوی لا په کوډله کې وو. د پادې دوړې ورو ورو کلې ته رانژدې کېدې، او زیاتي نو د ډیل ځای نه وو ومې تر پلل، خو په منډه کې مې هم شا ته کتل چه که بختوره را ووځي خو دا ارمان مې ونه خوت.

د منډې به حال کې مې مړ ژ ته پام شو چه په بډه مې وهلی و، چه را ومې ایست مړ و. د قاره مې شولو ته گوزار کړ او نژدې و چه په خپلې بې وزلۍ وژاړم.

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

# آفتـــونه

زما د مکتب په شپږم او وروستي کال په خان آباد باندې پرله پسې درې خدايي آفتونه راغلل چه د دوونه يې بچ شوو او دريم يې د خلکو ستېه وايستله.
په پسرلي کې د باران په ځای سرې خاورې ورېدې. پوره يو مياشت د سره – بخنو دوړو يوه پربړه پرده لکه سره ورېځ د کورونو په سره ولاړه وه، دومره تيټه چه د جگو ښنارونو څوکې په کې پټې وې.
د خلکو مخونه، کالي او د کاله لوښي ټول زېړ و لکه چاچه کور کمن وربانده پاشلي وي. هسې په دليل پوهېدو چه لړ راختلی، ځکه چه د هوا زېړوالي به يو څه زيات شو او که نه رڼا ورځ داسې خو په اوتياره ښکارېده لکه په يوه لويه خونه کې چه يو وړوکی لا لټين لگېدلی وي.
هره جمعه به پاس په للمه کې د استسقاء لمنځونه جوړ وو. نه پوهېږم چه ولې به تل د باران د دعا لمونځ پاس په غونډيو کېده، ښايي ځکه دا وه چه وربځو ته آسمان ته او بابا غور غوري ته ورنژدې وي.
په هر خوراک او څښاک، حتی په شودو کې هم د متې خاورې خوندو. په لښتيو کې اوبه په وچېدو وې. کلبوالو په دې کې شک نه درلود چه خدای په کومې لويې گناه نيولي وو خو دا معلومه نه وه چه په کومه گناه؟ ښځو او نارينه و وربوز نه د پتکي په شمله او د ټکري په پيڅکه نغښتي و، حتی موږ ماشومانو هم د زړو کو او کله لا هم د شلخي د پانو تيمبوزکونه وهل. ثنا الله ماما به ټوکه کوله چه ټول خلک داسې ښکاري لکه د پاينده خان د ژرندې نه را وتلي وي او هلته يې جوار اوړه کول، خو چا د غسې ټوکو ته نه خندل او د خپلو کړو گناهونو او ناکړلو ،مځکو په فکر کې وو. بې هغې هم په کلي کې پسرلی د تنگسې وخت وي، د ژمي زېرمه مخ په ختمېدو وي، گوډي او جوالونه آخر ته رسېدلي وي، پاسره شوي وچ سابه، وچه غوښه او لاندی يا ختم شوي وي او يا چينجي پرې لگېدلي وي.
ځينو په جومات کې گواښ کاوه چه ببر ته وطن ته د ستنېدو په تابيه کې دي. ثنا الله خپله ببخونده خوش طبعي ساتلې وه، ويل يې چه « يره، يوه لويه

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

جارو واي او باړه ماما په اندر پایه پاس هوا ته خېژولی وای چه دا زمونږ د کلي دوړې، ایسته د کړو خېلو پلو ته جارو کړي. » خو خندا څه چه حتی څوک ورته موسک هم نشو او د دوړې برستن لا هماغسې لکه سور تجیر په کلي ولاړه وه.
حتی شمال چه تل به د پسرلي سره راته هم نه و. ښځینه و به کړې ورځ د لوښو او غولي نه دوړې پاکولې، خو چه په بل سهار به را پاځېدو، لکه په شپې چه سره واوره ورېدلې وي یوه گوته خاوره به په هرشي ناسته وه.
په جومات کې به خلکو خوبونه سره تېرول، د «خدای دې ښه کړي[1] او خیر به غواړو» تسلي زیاته شوې وه. ځینو بلاډا د آمو نه پورې غاړه د روس نه گڼله چه کومه بلا یې په اوغانستان را خوشې کړې وه. یو ماښام زما پلار کلیوالو ته وویل چه، « د خدای وسې مو وکړې، د باران په لمنځو نو مو زنگنو نه وېلي کړل، دعا او اوراد خودې همدومره شي، ژړا، زاری او بېوسی مو ډېرې وکړې، د خداي قهر دی چه اوس ختمیدن نه لري. »
زما پلار هم د نورو کلیوالو په شان د مطلب تکي ته نېغ په نېغه نه ورته، بلکه د سریزې او داسې تبصرو سره به مطلب ته ور لنډ شو چه په اول سر کې به بې ربطه ښکارېدې. د پلار ددې خبرې سره مې ثناً الله وویل « لکه چه تا هم توره ډال وغورځول او خوگیانو ته روان یې ؟ ».
پلار مې لکه چه د هغه وینا یې هېڅ نه وي اورېدلې وویل، « یاره، په ډې یوه میاشت کې خو به ما دا ډې د اخونزاده صاحب نه نیولې، د اجمېر شریف تر خواجه پورې، او د بغداد د شاه میرانه بیا د غزني تر بزرگانو او ولیانو پورې یو هم نه وی پرې ایښی، د ټولو لمن مې نیولې چه که را ورسېږي. هره ورځ مې د دوه رکعته نفل نه وروسته د استخارې خوب کړی، خو هېڅوک نه دي را حضور شوي، هېچا مې غږ وانه ورېد.
کلیوال زیاتي غلي وو، پوهېدل چه اوس د اصلي خبرې وار راځي. ابا مې د ځانه سره موسک شو او خبرو ته یې دوام ورکړ، « نن مې په زړه ختې باروه او د ماسپښین د لمانځه نه پس همداسې په چرت او سودا کې ناست وم چه پرمنبی یو وړم. وینم چه یو نوراني، لوړ دنگ سړی په یوه قبر ناست دی. د واورې په شان سپینه ږیره یې ده او آسمان ته گوري. زه ورغلم او سلام مې وکړ. ورته ومې ویل چه « تاسې څوک یئ؟ » ده وویل « حسام الدین، ستا غور نیکه یم».
ما غوښتل چه لاسونه یې ښکل کړم خو هر څه مې چه کول ور رسېدلی نه شوم

نو ما هم پلتنې ورته ووهله او خدای شته چه اوښکې مې روانې شوې.
په خوګیانو کې دی زموږ په کلي کې په ګل بابا مشهور و او پرنګیانو همالته په کودي خېلو کې، د لمانځه په وخت کې ویشتلی و. وایې چه ده په جومات کې لمونځ ورکاوه او د رکوع په وخت کې پرنګیانو د کړکۍ نه په غریبنې وویشت او ور سره ده د الله اکبر ناره کړه چه خلکوان په ثمر خېلو کې اورېدلې وه ماژول او ده آسمان ته کتل. بیا مې ورته د خپل کلي کور حال ووایه. ډېره شیبه وروسته ګل بابا وویل، «لاړشه، د کموغرو د کجیرنه یې وغواړه» او بیا نو په قبر باندې هېڅوک نه و او را وینښ شوم. چه هر څه مې سترګې پټې کړې چه یو وار مې خپل بابا بیا لیدلی وای، خو هېڅ نه وو. اوس نو زه نه پوهېږم چه د کموغرو کجیر څوک دی!»
په جومات کې چوپایې وه، هر سړی په چرت کې ډوب و. ما دیوه نه بل ته کتل چه د خاموشۍ په وجهې خبر شم، خو د پوښتنې څه چه د سړ کولو مجال نه و. ډېره شیبه پس قادر ماما په یو ځلي چیغه کړه چه «ومی پیژانده، والله که غیر د باړه ماما نه بل هېڅوک وي. که کجیر نه دی تر لاندې خو اوسي.»
د شمایلي د مرګ نه وروسته باړه ماما جومات پرېښې و او په خپله کوډله کې یې لمونځ کاوه، بلکه هېڅ یې د کلي په کارونو او محفلونو کې برخه نه اخېسته.
د ماښام تر لمانځه وروسته کلیوال په ډله ورغلل، دده بوېي چای تیار و او چه یوه به پیاله تشه کړه بل ته به یې ډکه کړه. قادر ماما کیسه ورته تېره کړه. باړه ماما د خندا شین شو. د هغه سره په کړ شو په خوله خندا د ماشوم د خندا په شان ښه لګېده. ویې ویل «تاسو کجیر غلط کړی دی، هغه پاس ویده دی، ورځئ را وینښ یې کړئ.» پلار مې وویل، «باړه ماما په موږ سخته راغلې ده که د خېر دعا راته وکړې، ثواب به دې وشي.» میرزا شخیب وویل، «که زموږ مدعې کجیر وي، هم ستا کجیر دی، حال ورته ووایه.»
د دغې واقعې نه لا دوه ورځې تېرې نه وې چه د باړه ماما د بزرګۍ آوازه خپره شوه. او جوپه جوپه خلک د نورو کلونه، د کړو خېلونه، د کاپر کونج نه، د چار سرې او ماپلیونه او حتی د خان آباد د ښار نه د باړه ماما کوډلې ته را روان وو د هغه کوډله د میوو، دانو او لوښونه ډکه شوه، تر دې چه یو ماښام باړه ماما د امسا په زور جومات ته راغی او کلیوالو ته یې خواست وکړ چه دی خپلې فقیرۍ ته پرېږدي ځکه چه دی نه ولي دی او نه بزرګ، یو ګناګار بنده دی،

خو او به له ورخه اوښتې وې . خلکو د ننګرهار ، کابل او هندوستان وليان ننګول ، اوس خدای په خپل جوش کې ورکړی و . د باران خبره پاتې شوه ، باړه ماما د وچې بزرګ شو . عجيبه لا دا چه پوره لس ورځې پس باران د باد او تالندې سره راغی او په سبا يې د نيا ګل او ګلزار وه . هوا بېرته رڼه شوه او سره دوړه يې له هر شي پرېوله .

پوره دوه هفتې وريا وه او ثناالله ماما به ويل چه اوس يې خدای دروي ، باړه ماما يې نه دروي .

خان آباد داسې يوه ډنډ ته ورته دی چه ګرچا پېر تری د للمې د غونډيو کړی چاپېره ده او ښايي له همدې کبله خلکو په اول سر کې مردار ډنډ باله چه په تيټه پروت او له زيمه ډک و . زموږ کلی خو د ټولو نه په تيټه کې و او زموږ د پټيو لر سره ته ټوله زيم او زا وه چه پنولو ته حاجت نه و ، موږ پايناب وو .

يو ماښام چا احوال را وړ چه بنګي ياغي شوی او د خان آباد نيمايي ښار يې لاندې کړی . بنګي زموږ لوی سيند و چه بيا خلکو د نري په نامه سيند ترې بيل کړی و ، چه نه هغې نه د ګاوګش په نامه يوه نری ځانګه موږ ته راغلې وه ، مګر دې نری ځانګې هم غوبې ډوباوه . د سېلاو د خبر د اورېدو سره په کلي کې شور ماشور شو ، لا لټېنو نه بل شول ، خرونه او آسونه بارېدل او ترنيمې شپې پورې د خلکو زوږ و چه کډې يې پاس د للمې غونډيو ته خېژولې ، باران هماغسې شر کنده ورېده . ګڼ شمېر کورنيو کډه نه شوه وړلی ، چا به خر ، چه نه پوهېږم ولې موږ ورته اولاو وايه ، نه درلود ، د چا به ناروغان کور کې و .

موږ هم د خدای هيلې ته پاتې شوو . تللو کليوالو خو وعدې کولې چه په موږ پسې به اولاو را واستوي ، خو پلار مې ويل ، چه يوځلې دوی کورنۍ سېب ځای ته ورسوي بيانو کله زړه ښه کوي چه د غونډيو نه را کوز شي . همدا سې هم شوه .

نيمه شپه وه چه د کلا ور وټکېده ، پلار مې ورغی او ما هم ورمنډه کړه . چه ګورو باړه ماما لالټين په يوه لاس او امسا په بل لاس ولاړ دی . د شرکنده باران لاندې خيشت پيشت و او رېږدېده . پلار مې وويل ، « راځه د ننه . » خو هغه وويل ، « سېلاو را روان دی او زه راغلم چه تاسو ته څه لاس در کړم . »

زما د پلار لکه چه په باړه ماما زړه وسوزېده چه لکه پاڼه رېږدېده ، نو د لاسه يې ونيو او حجرې ته يې راوست ، د کوټې په يوا ځني وچ ځای کې يې کيناوه او

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

ماته یې د چای امر وکړ .
زه چه راغلم نو پلار مې د هغه نه یوه برستن تاوی کړې وه ، مخامخ ورته ناست و او مرکه یې کوله . باړه ماما سور چای په رېږدېدلي لاس ګوړوت کاوه او خبرو ته یې دوام ورکړ ، « نور به خدای هر څه آسانه کړي . په تګاو کې ما ډېر داسې سڼلاو نه لیدلی او د چا خیره نیمایی عمر مې د ونې په سر تېر کړی دی » .
پلار مې ویل ،« خدای دې تا آباد لري ، خو دا کار ناشوونی ښکاري . تر څو به ښځې لکه بیزوګانې د څانګو پورې نښتې وي . » باړه ماماد مخ ګونځې په موسکا ورېږدولې او ویې ویل ،« غم یې مه کوه ،ما وشمایلې شپې په کې تېرې کړې وې ، د همدې د پاره مې پاس د لرګیو چوتره په کې جوړه کړې .
اندر پایه مې هم ورته پخپله جوړه کړې او تیاره ورته ولاړه ده . »
باړه ماما چای څښنه او ابا مې په فکر کې ډوب و . بیا یې نو ماته کړل ،« ورشه میندو خویندو ته دې وایه چه یو څو برستنې تیارې کړي ، چه روانېږو . »
د سترګو په رپ کې هر څه تیار وو او ما ، لالتین په لاس لاره رڼا کوله ، میندې خویندې راپسې ، تول د هدیرې په لار د باړه ماما کوډلي ته روان شوو . باړه ماما او ابا مې لا د وخته رسېدلي وو . کوډله وچه وه او د بویي چای څاخوښه خوتېده .. ښځګلو ، لکه تل چه یې عادت دی ، وار د واره خپل کارونه شروع کړل . تبې په اور کېښودل شوه او د جوال نه ، چه پخپل یوائنې او لاو مو راوړی و او ډېر یوه لرګینه تتۍ کې لمډدل او په تبې پخېدل . باړه ماما او ابا مې بهر لګیا و د یوه لالتین په مرسته یې د کوډلې ښوڅې او سوړې بندولې او دړې یې ور پورې نښلولې . ډېر وروسته چه موږ پتیره ډوډۍ د بویي چای سره وخوړه او تول په برستن کې تاو لکه چینجي یو د بل سره نژدې او یو د بل غېږ کې څملاستو نو ما لا هم د لالتین رېږدنده رڼا لیده چه بهر لړ و بر کېده او وروسته د هدیرې خوا ته لاړه ، لکه چه ابا مې او باړه ماما بیا زموږ کور ته روان شوي وو . په همدې کې خوب یوړم .
د سهار خړه وه چه موږ مې تول را ویښ کړو . ونه یو څه لړزېده او یو ژور غوږ مبهار له لرې اورېدل کېده . ابا مې کوز ولاړو او خویندې میندې یې په اندر پایه کوزولې ، تول پتې ته شول او د کلي په نهر کې یې اود سونه کول او موږ ماشومانو ، زما د موږ په اصطلاح ، مشو کې پریوللې .. باران درېدلی و

خو یوه نرۍ سیلۍ زموږ خواته را چلېده . لیرې ،یوه خوا تور تور شیان ښکارېدل چې دسهار په خړه کې ورو ورو غتېدل. شیبه بس مې کتل چه د غویانو ، خرو او آسونو قطار دی چه د زانګ لکۍ زموږ لوري ته رائغلي . ټول دوني سر ته وختو او پلار مې په جګ غږ یاسین شریف پیل کړ .دخدای په قدرت تر څو چه سترګي لګیدي دخارویو لیکه وه چه دللمې دغونډیو خواته یې را پرېښې وو. وروسته معلومه شوه چه د دوی پسې دسېلاو لیکه وه او خرې اویه یې موږ نشوې لیدلی. دپاسه دمارغانو سیلونه وو چه په شور ما شور زموږ له سره نه تیرېدل.

داسې ښکارېده چه چا جارو را اخیستې وي او ټول ژوندي ګړي دخان آباد دبر سرنه لر سر ته را جارو کوي.

ناڅاپه داسې پښهار راغي لکه دهغو ښامارانو ښکالو چه دملوک شهزاده په کیسو کې مو اوریدلي وو ، او که ګورو خړ سیلاو د اوبنانو په شان په غړ غړو را ورسید . ابا مې لکه دطوفان دغږ سره چه مقابله کوي په کړ نګولي غږ دیاسین سوره لوستله . باړه ماما موږ ته ویل چه سترګي پټې کړئ . میندو مخونه پټ کړي وو او چیغې یې وهلې ،« یه لویه څوانه را ورسیږه ، به ګل پابا را ورسیږه ، یه پیر پیرانه را ورسیږه. » خویندو مې ژړل او چه به هر څلي ونه دسیلاو دنوې څپې سره ولړزیده ، انګولا یې هومره زیاته شوه . زه حیران وم چه په داسې حال کې هم باړه ماما ، ښه په سور او تال بدلې ویلې او سرو کی یې بیا بیا تکرار وله . وروسته بیا ده خپله را ته وویل چه په پښه یې ژبه یې نورنامه ویله . پاس مو کتل ، کجیر په خپله ځاله کې و او دیو نیم شکېلي نه پرته نور آرامه و.

ورو ورو دورځې رڼایي راتله او موږ هم دڅپو سره یو څه روږدي شوو . دوني ګیر چاپیر کوډله ، لکه چه سړی خوب ویني ،ورکه وه او اوبه ورو ورو دشنډه توت په ډډ را هسکیدې .داندر پایې په دوو پوړیو را ختلې وي او درې نورې پاتې وې چه پاس چوترې ته را ورسیږي .خو دا پیښه ونه شوه او اوبه په هماغه سطحه پاتې شوې .

دغرمې مهال وچه اوبو په کیناستلو پیل وکړ . آسمان شین و او دسره لمر لاندې دټول کلي په سر چه تر نامه داوبو لاندې و ، پرېږ راس ولاړو . چه مازیګر راته نو اوبه تر زنګنو او تر مابښام یوې لویشتې ته ورسېدې.

پلار مې او باړه ماما دوني نه کوز شول ، دهغې چارچاپیره د کوډلې نه یې اوبو ته

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

لار جوړه کړه چه کوز پټیو ته تویې شي . په یا مه یې ختې ترې وتوړلې او موږ ته یې غړ کړ چه را کوز شو ، او د سو نه تازه کړو . دوې پخپله پایڅې بډ وهلې او د کلي خواته روان شول چه د هغو نورو کلیوالو احوال واخلي چه للمې ته نه ووختلي . تېره شپه مې ابا او باړه ماما هغوی ته هم دونې چل وربښو دلی و .
هغوی هم چا په ونه او چا په خپلو کورونو کې په وېښه تېره کړې وه . بل سهار او به وچې وې خو زنګون ختې ولاړه وه . په ماسپښین مځکه وتره وه او ختې په وچېدو شوې . بیا نو په ختې کې د لمر د لاسه درزونه او چاودونه پیدا شول او ټوله خښته خښته شوه . کلیوال هم د للمې نه په کوزېدو شول او خپلو نم وهلو او نیمه ورانو کنډوالو ته راغلل . د کلي جومات ولاړ و خو یوه نیزه اوبه یې په غولي ولاړې وې . میندو ختې په کفګیر او ببل لوې کولې او خپل ټک و پوک یې ترې را ایسته . زموږ یو سنګر ماشین و چه د اختر په شپو به د کلي وربانډې وار نه و ، هغه مو د باغ لر سر کې پیدا کړ . ادې مې ناسته وه ، هغه یې پاکاوه او پر زوته یې د شړ شمو تیل ور کول.
ثنأ الله کاکا به ویل ، خیر دی که کوړ وسوځېد ، د یوالونه یې پاخه شول ، د دا د سیلاو خړه به د مځکو ټول مرضونه ورک کړي . همداسې هم شوه . که څه هم چه کر کیله یو څه وځنډېده خو په دې کال تور ښېراز پسل وشو . چا چه په مني غنم کرلي وو او خړې پټ کړي وو ، مست ښېرازه را وټوکېدل او ګنو ډکو یې د جوزا د شمال سره ، د ثنأالله کاکا خبر اتنونه کول .
کلیوالو ویالې تازه کړې ، چه د شولو تابیه وکړي ، د باړه ماما د کوډلې د بیا جوړولو د پاره اشر جوړ شو . داسې ښکارېده چه کلیوال موږ نورو ته چه په سېلاو کې یې شا ته پریښي وو خجالته غوندې وو، خو چا په خولې بیان نه کاوه او نه مې ابا زموږ د سختې شپې کیسه کوله ، د مانیجن توب ، د ګیلې ، د بیوفایۍ ، د زړه سواندۍ او اسویلو نه جوړه یوه نرۍ پرده په کلي غوړېدلې وه چه ټولو په چوپه خوله د هغې د لرې کولو کوښش کاوه .

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

# د صالح جان افغانستان

خان آباد د اقلیتونو ، د لالهاندو او سرگردانو د سیالي ځای و . په ننګرهار کې چه به په چاسخته راغله ، تربور یا قوم به وشاړه ، یا به لوږې پسې را واخیسته ، اویا به کوم لوی شرم ورواښته ، نو یا به کورمې ته وتښتېد ، او یا به هندوستان یا ترکستان ته فراري شو . دا متل د هماغې ورځې مشهور شو چه د هندوستانه چا زر نه دي راوړي او د ترکستانه سر .
په یوه حساب خان آباد او د شمال نور ښارونه داسې و لکه اوسنی امریکا : پریمانه مځکه او شنیلي چه اصلي اوسېدونکو یې چنداني پرداخت نه کاوه او نا څاپه د نورو ځایونه د خلکو سېل لکه د امریکا په شان په ترکستان هم د پېړیو پېړیو وړي ، نا راضه او ترټلي خلک ورشېوه شول .
خان آباد د روس شړلو د سیالي ځای هم و . په دغو کې لوی اقلیت د باجوړو پښتنو و چه په بخارا کې یې تجارتونه کول او د بلشویک د راتګ سره بدخشان او بیا خان آباد ته را شېوه شول . نارینه وو یې پښتو ویله ، ښځو یې تاجیکي .
وریسې د فرغانه چیانو او په عمومي اصطلاح "پار دریا یانو" یعنې د آمو نه پورې غاړه خلکو ډله وه . په دغو کې اکثر پخواني باسمه چیان و . د ښار مشهور بوټ ګنډونکی ، موچي ، لشکر باشي و چه د باسمه چیانو د مجاهدینو یو ستر قوماندان و . په دغو کې ، ملا ، دا ملا ،ادب پوهان ، لکه شایق افندي ، زیات وو. کسبګر هم په کې وو. د څرمنې ، د تیمي لوښو ، بخارۍ او د چړو د تېره کولو کسب همدغو کاوه . یو خوا زیک بې هغې هم مؤدبه خلک دي ، بیا دا پاردریا یان بیخي ادبناکه او ستره خلک و ، دا سې چه زموږ ځایي ا زبک ورته حیران وو ډیرې پاکي خریلې ، یاسمې پرېښې چه تار تار یې شمېرل کیده او د مخ پورې سم لګېده . پګړۍ پاکه او په سر باندې د یوې سمې دایرې په شان تړلې ، شمله لنډه . اوږدې تورې ماسۍ په پښو او هغه بیا په تورو روسي ګلوشو کې.
په دغو فرغانه چیانو کې یو صالح جان ، زما همصنفی هم و چه وروسته بیا په

تجارت پسې هندوستان ته لاړ او لس دولس کاله ورک و.
یوه ورځ گورم چه صالح جان سر او ږیره صفا خریيلې، د هندوستان گرمو سبزلی، عسکري جامې په ځان، په بازار کې روان دی. غږ مې ور باندې وکړ او تر غاړې وتو. د نیال سنگي په دوکان کې چه هغه هم زموږ د ابتدائیه مکتب د وخت همصنفی و کښناستو او د زړه خواله مو سره شروع کړل. په دې وخت نو زه په کابل کې د ادبیاتو په پوهنځي کې شاگرد وم او په رخصتی خان آباد ته تللی وم. نیال سنگي را ته چای را وغوښتل او دوکان یې نیمکښو کړ
مانا دا چه دوکان تړلی دی. د هندوستان کیسه په ده هم ښه لگېده، ځکه چه چنغاله یې د تداوۍ د پاره یا په همدې بهانه هند ته تللې وه. بیا یې نو کباب را وغوښته ما ورته وویل "پام نیاله چه غټه غوښه نه وي". هغه په خندا وویل "د یار د پاره به دا هم وخورو." د صالح جان کیسو دواړو ته خوند ور کاوه، د قدیمي همصنفیانو د بیا یو ځای کېدو خوند چه په هر یوه بېلې بېلې ترخې خوږې تېرې شوې وي. صالح جان د خپل تجارت کیسه کوله چه څنگه کامیاب و او ویل یې چه درې لکه افغانۍ یې گټلې دي. نیال سنگي ور ته د خوشالۍ نه لاسونه وپړقول او ویې ویل "موږ خو په دې لسو کالو کې ایله د خور ولور پوره کړ او تک پولۍ ته یې کښولو."
ما وویل چه ما خو تر اوسه پوچکه هم نه ده پیدا کړې او په پلار تروته یم. درې لکه افغانۍ شمېرل یې څه چه یادول یې هم ماته سخت او د عقله لرې ښکارېده. صالح جان ته مې وویل، "خدای دې خوار که، نو بېرته ولې راتلې ځان به دې د نیال سنگي د نیکه گانو په شان کروړ پتي کړی و او کله چه د زړه بودن د لاسه داخ او توخه لوېدلی وای بیا به راغلی وې. صالح جان وویل "پچه مې ختلې وه، خو د به راتلم. نیال سنگي وویل "پاتې به وې په هندوستان کې، لوی ملک و، چا د یو ا زیک خام کله پسې چېرته څار کاوه چه ودرېږه افغانستان د دښمن نه وساتې."
صالح جان، د نیال سنگي خبرو ته موسک شو، پخپل کدو سر یې لاس را ښکه او ویې ویل، "ته هندو په دې خبرو څه پوهېږې، بگوان دې په گنگاو کې غرق که" درې واړو و خندل ځکه دا د معلم قدوس هغه خبر وه چه تل یې د قار په وخت کې نیال سنگ ته کوله. بیانو صالح جان دغه عجیبه کیسه وکړه چه تر اوسه پورې مې دومره لنډه او دومره ښکلې کیسه نه ده اورېدلې:

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

"هماغه ورځ چه ماته مې د وروړ خط راغی چه راشه پچه دې ختلې ده ، ورسره بې زما د جلب پاڼه هم را استولې وه . ما چه خپل نوم وکوت نو مې کاغذ بشکل کړ او په هماغه ورځ توغري (سیده) سفارت ته لاړم چه د خان آباد په ولسوالۍ باندې یو خط راکړي چه صالح در روان دی او صرف درې میاشتې مهلت ورکړئ . په سفارت کې هم سکرتر راته وویل چه ولې دې تګ ته بیړه ده؟
ما وویل ، صاحبه ته نه پوهېږې ، عمرونه عمرونه پس خدای وطن را کړی چه اَن په هندوستان کې مې پوښتنه کوي او د دین ناموس ساتنې د پاره مې وربولي ، نو زه به لا خولۍ آسمان ته نه غورځوم ؟ . ورته ومې وې چه سکرتر صاحب ، تابې وطني نه ده لیدلې ، دادې نه دي لیدلي چه په رڼا ورځ در نه مځکه ، پوله پټې ، عزیزان هر څه لاړشي او ته پښې پیلې په غرو رغو کې بل نا آشنا ، پردي ملک ته کډه شې ، شکر دی چه وطن لرم او په سیا لانو کې شماریم ." نیال سنګي وویل ،" د کاپر زویه ، یو خو زه سک یم او د هندوستانه سره مې نه لګېږي ، او بل ستا دې کیسې په خپل افغانستانګي باندې نور هم مین کړم".

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

# د ملا ماما واده

ملا ماما بله آشاوه ، بل وړ سړی و . یو خو دی ماما نه و . دده پلار ملا یتیمشاه او زما پلار هلته په خوګیانو کې داسې خواږه وو لکه ورونه . چه یتیم شاه مړ شو نو ملا ماما زما د پلار سره خان آباد ته راغی . پلار به مې سبق ور ته وایه او زموږ د کور غړی شو . په پښتنو کې ، پردی چه ډېر نژدې شي ، که څه هم چه د پلار ملګری وي ، ماما ور ته وایي . په دې کې د پښتنو یو زوړ راز نغښتی او هغه دا چه د کاله مېرمن ددې سړی نه نور سترنه کوي او د هر ډول شبهې او آوزې دلرې کولو د پاره د سړی کور د مېرمنې دیني ورور شي او ځکه نو ماما شي . ملا ماما چه زما په یاد دی د ځلوېښتو کالو سړی و . په ونه دنګ ، په اوږه پلن او داسې غږ خدای ور کړی و چه په لرا و بر کلو کې دده د کړنګولي آذان دروګه او آوازه وه .

کله کله به یې په ماز یګر ، پخوا تر لمانځه ، کلیوالو ته د امیر حمزه صاحب یا شهزاده بهرام کتابونه په آواز کې لوستل او ټول به ور ته مدهوشه وو . سهار به وروسته تر سبناري په حجره کې ناست او موږ ته به یې سبق وایه . اوږده لښته یې ټولو ته رسېده . چه لمر به تود شو نو موږ به یې رخصت کړو ، بیا به ور ته د لرو بر کلیو ښځې ناستې وې . د چا سره به چرګ و ، چا به نغدې پیسې د ټکري په پیڅکه پورې تړلې وې ، د چا به لکړه لګوله ، د چا به ماشوم په غېږ کې و . ملا ماما به د تعویذاتو کتاب را واخیست . یوه اوږدوړې قلمداني یې وه ، د هغې نه به یې یو بوتل او د مشکینې قلمونه را وایستل ، او د زعفران یو څو تارونه به یې په مشوانۍ کې واچول ، څو څاڅکی اوبه به یې ور وځنځولې او دا به دده رنګ شو . بیا به یې د هرې ښځې نه پوښتنه کوله چه څنو به په غوږ کې خپل تکلیف ور ته وایه . ملا ماما به هرې یوې ته ګوښې تعویذ یا شویست او د هغې د ځړولو یا خوړلو هدایت ورکاوه . د هغوی نقده شکرانه به یې د جالماز لاندې کېښوده او که چرګ به وئو همداسې پښې تړلی به پروت و چه تر څو هغوی لاړ شي . بیا به یې نو د جومات په باغچه کې د نورو چوګانو سره خوشې کړ .

ملا ماما رسا بولدوزر و چه کلیوالو به درونو کارونو کې وربانديې غږ کاوه . د لرگیو په کار کې استاد و او په مني کې به یې د کلیوالو سره د توتانو د لویو ونو په وهلو کې مرسته کوله چه هغوی ته د مني خس برابر کړي . ده هم ځانله اسبابو نه لرل چه په خپله حجره کې یې قلف کړي وو . دوه لوی خولي تبرونه چه لکه الماس داسې تیره وه او موړ هلکانو خولا او چتولی هم نشول . ده به چه لرگي ته وار ورکړ ، په سم نیمایې به دوه بولکه شواو د دویم گوزار حاجت نه و . هغه ونه چه ده وهله د هغې نه توتنې او پرخچې نه تو ییدې او صفا ، پرې کړي ، مات کړي ، په یوه اندازه لرگي یې په منظمو د لیو په خره باندې د بار کولو دپاره تیار ایښي وو . ملا ماما د هر کار نه هنري اثر جوړه وه . ثناالله کاکا به توکه کوله چه سړی حیران پاتې شي چه ملا لعل محمد د یو دی که ښاپېری . جوسه یې د دېو ده ، په ونه اوښ ، په اوږه پیل . چه ونه چپه کوي ته وایې رستم دی ، د ځانه یې جگ نه خوښېږي ، خو چه دده باغچې ته گورې نو د ښاپیرو باغ ارم دی او د ښځو په شان کورنجۍ په کې کوي .

دا خو یې صفتونه وو ، مگر هر گل اغزی لري . د ملا ماما اغزی ، چه کلیوالو یاداوه نه خو ځانونه یې تر ټولول او نژدې یارانه یې ور سره نه کوله ، داو چه ملا ماما مجرد او لوَنډ و . د کلیوالو نه خوښېده چه ښځې د تعویذ او تو ټکو د پاره ور ته لرې برې کېدې . ابا مې په دې پوهېده خو ځان یې ناگاره اچاوه ، تر څو یوه ورځ یې په جومات کې اعلان وکړ چه "زه ځم ، لعل محمد ته ښځه گورم." په جومات کې د رضاییت او شا باسی گونگوسی اوچتی شوې. پلار مې وویل ، " زه پوهېږم چه ستاسو په زړونو کې څه تېرېږي . خدای شته چه دا سودا زموږ په کور کې هم وه ، خو باور وکړئ ، ما تر اوسه لعل محمد ماشوم گڼلو او هېڅ مې دې خبرې ته پام نه و چه سړی لوی شوی څه چه حتی زړېودن ته نژدې دی او کور به غواړي ، اولاد به غواړي او خپله زندگي به غواړي . زه لعل-محمد ته ښځه کوم خو ددې د پاره چه په کلي کې ناکاره اوازې خپرې نشي نو چېرته لرې ور ته څوک گورم . "

کلیوال ، لکه چه دا معلومات د پښتنولۍ او خپلو گټو په تله ازمیي ، چوپ پاتې شول . کېدای شي چه ځینو لوڼې لرلې او ملا ماما به یې په نظر کې و . په پښتنو کې د نجلۍ د ورکولو خبر د کورنۍ د رازونو یوه برخه ده . د شپې په تیاره کې مور او پلار وربانديې غږېږي . د کلي او خپلوانو د ټولو رسېدلو

زلمیانو په کړو وړو ، شتو او جایداد ، روابطو او امکاناتو په شپو شپو ، میاشتو او حتی کالونو غږېږي ، او د زړه په تل کې دا وېره هم ور سره وي چه هسې نه چه نجلۍ د مېړه نه پاتې شي . په هر کلي کې زړې هوښیارې ښځې هم وي چه د دوی پخپل زړه نه پوائخې د خپل کلي بلکه د لرو او بر توابو (توابعو) رسیدلي زلمیان او پېغلې غوند ورته معلوم وي او ددوی کار د جومات د چړي کار ته ورته دی چه په ژمي ، د جومات په کوشکن کې د خلکو موچنې او کنهاوې یو د بل سره جوړه ږدي او پوهېږي چه کومه د کومې جوړه ده . کومه کلوشه د کومې سره لګېږي او کومه د چاده . د دغو زړو ښځو کار هم جوړه کول دی . مینديې د همدغو د لالانو په مرسته خپل زومان او ناوې ګانې پیدا کوي .

د ملا ماما پسې هم د کلي د ښځو پوښتنې ګروېږنې وې او اوس چه مې پلار برالا د هغه د واده د امکان اعلان وکړ نو په کورونو کې فعالیت لا زیات شو . خو زما پلار خپله فیصله کړې وه او یوه هفته پس یې مور ته و فرمایل چه د ده هغه آس زین کړو چه خلکو ویل د ګرګدن د ذات دی پېرپاڅو زو کړی دی . ډېرو خلکو د بزکشۍ د پاره هغه په زیاتو پیسو غوښته خو پلار مې ویل ، همداسې جایبند دې پاتې وي .

د ابا د سفر علامه داوه چه سترګې به یې تورې کړې ، ږیره به یې په خپلې وړې بیاتۍ چه لاستي به یې په تیغ را قاتیدل ، رنګې کړه ، سپینې جامې او شنه چپنه به یې واچوله ، موزې به یې په پښو کړې او مشهدۍ لونګۍ به یې وتړله .

ابا چه به په سفر روانېده نو ډېر رسمي او جدي به ښکارېده لکه چه غواړي دنیا ته اعلان وکړي ، چه اوس به مې ننداره کوئ چه څنګه په هغه څه پسې چه ځم لاس ته یې راوړم هم . د سهار په خړه په خپل جیرند (سره بخن) آس سپور شو او له کلي ووت . همداسې چه وسله د پښتنو ګانه ده آس د ترکستاني ناوې ده . هر رنګ ته بېل نوم ونه لري (بوز) سپین ، (سُرخوم) سور ، (کهار) ژیړ ، (مُشکي) تور ... د هغې یراق داسې جوړوي لکه د ښځو ګانه .

د ابا د تګ سره مې خویندې د مور سره په فعالیت لګیا شولې . د ملا ماما کوټه چه د جومات سره جوخته د باغچې په بل سر کې پرته وه په سرو تغرونو فرش شوه . د ګاونډو ښځو په اشر ډډې نیالیچې او بالښتونه جوړ شول . د ملا ماما شلېدلې کټ او جنبرې بستره مورا وایسته . باړه ماما د چار ماغو

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

(اغوزو) کښېښي یا د کټ پښې ورته جوړې کړې او قادر ماما یو ښایسته پالنګي کټ ورته و اوبه . د زېړو چلمچي او کوزه مو ور ته د بازار نه واخېستل کوټه مو په چونه اخیر کړه . په دې تول وخت کې ملا ماما ځان ناګاره اچولی و او زموږ په کارونو او هلاګې یې هېڅ برخه نه اخیسته او نه یې تبصره وربانده کوله .

ابا لاړ او دوه میاشتې یې درک معلوم نشو . بیا نو بوماښام د کلاشاته د آسونو د پښو درزهار شو . چه ور ووتو ، پلار مې و او ورسره درې نور په آسونو سپاره وو . د یوه شاته په څادر کې پټ بوڅوک سپور و ، پلار مې او هغه دوه نور را کوز شول ، هغه دریم چه را کوز شو نو یې په غېږ کې په څادر کې پټ شی هم را کوز کړ ، چه ګورم بنیادم دی خو سر تر پایه په شنې چینې کې پټ . پلار مې کورته ننووت او د مور سره مې چه ، د هغه دیوال شاته چه د پردې په شان یې په کلا کې د ننه ، د ښځګلوډ ستر د پاره جوړ وی او غلام ګردش ، ډبوډی یا د پنایی ځای یې بولي ، مانا دا چه ددې نه کلا ته ور تېرېدل منعه دي ولاړه وه . دواړه څه وپسېدل . بیا مې نو مور هغه په څادر کې نغښتې ښځه تر لاس نیولې کور ته راوسته . دا د ملا ماما ناوې وه چه د خپل ورور سره ان د بدخشان د راغ نه په آس سپره راغلې وه . هغه شپه ناوې زموږ په کور کې په بېله کوټه کې تېره کړه او یې د موره مې هېڅا هغې کوټې ته د ننوتلو اجازه نه لرله . موږ ماشومان د ډېر هیجان او تلوسې نه خوب نه وړو او له هرې خوا مو ناکام کوششونه کول چه یو ځلې د ناوې مخ ووینو ، خو د شپې په تیاره کې چه هر ځلې د کوټې د دروازې مخې ته لړ و بر شوو ، د ننه په کوټه کې د لالټین په تته رڼا کې یې د یو تور شي نه چه بوڅ ناست او مخ یې د بوال ته اړولی و نور هېڅ شی نه ښکارېدل . حتی چه موږ مور ته وویل چه د ډوډۍ په وړلو کې به ور سره مرسته وکړو ، خو مه دې شه .

په سهار مې پلار د قادر ماما سره بازار ته لاړل او چه راغلل نو دوه خرونه یې په سودا بار دو او درې چارې پسونه یې هم د مته کړي وو . په بله ورځ د کاله نه بهر په درمن ځای کې په چویني (دیګ چون) دیګیو کې وریژې بار شوې او د لر وبر کلو ښځې او نارینه ، د پولو په سر ، لیکه ، را روان و . تغرونه او پوزي د جومات په برنده ، درمند ځای ، د وقفي باغ په چوتره ، او هر چېر ته چه مځکه لږه هواره وه وغوړول شول . د کلي منتسر (محتسب) ملا نظر محمد د خیلې

درې سره د معتبرینو او میرزایانو سره ناست و . میرزا شخیب ، چه گرافون یې همدې ملا نظر محمد مات کړی و دسترگو د لاندې ورته کتل . چو په چوپیاوه..

د کور مینځ لا ښه و ، یو څه د داریا او چمبو غږ راته . ثناالله کاکا د دېگیو په سر چه وریژې په کې دمېدې او د بر غولي گرچاپېر یې د لمدو ورو مروړه تاو کړې وه چه دم وخوري ، لړو بر کېده او پټ یې کلیوالو ته ویل ،"کور دې وران شه نظر محمده ، چه د تا د لاسه څوک یوه نیمه بدله نشي ویلی ." ملا ماما لادرکه و ، خو وروسته بیا پوه شو چه د شرمه د باړه ماما په کوډله کې پټ و .

د نکاح د پاره کلیوالو په زور ملا ماما راوُست ، سترگې یې د شرمه نه جگېدې . نظر محمد لویه موعظه وکړه او کله چه ایجاب او قبول شروع شو ، خپل ساعت یې له جیبه راوایست ، لړې یې ونیو ، یوه سترگه یې د ثنا الله کاکا د غرمې د چرگ په شان پټه کړه بیا یې غږ کړ چه هلکو د ماسپښین د لمانځه وخت دی . نکاح پاتې شوه او د لمانځه هلالا شوه . بیا نو ډوډۍ راغله . لوړ مازیگر نکاح وتړل شوه . وکالت یې ورور وکړ .

په کور کې ښځو د ناوې نه چاپېره غومبر واهه او هغه ا زیکي څادر (فره جین) په سر مخ پټې ناسته وه . ماښام خلک لاړل او یواځې یو څو تنه کلیوال ، هغه هم د لمانځه د پاره په جومات کې پاتې شول . ناوې یې په ډولۍ کې زمونږ د کور نه ، د جومات د باغچې په بر سر کې د ملا ماما کوټې ته ننه ایستله . ایله درې ورځې پس ما ناوې ولېدله . ترخې شنې سترگې ، گردی سپین مخ لکه پوڅه . په ژبه نه سره پوهېدو ، ځکه دې یو بل وږ ژبه کوله چه څه پارسي هم په کې وه . ابا مې د شغنان نه راوستې وه او په دلیل یې زه تر اوسه نه پوهېږم چه ولې یې دو مره لرې ځای ورپسې غوښتی و . ملاماما ورسره خوشحال ښکارېده او دا اول ځل و چه ده به مېلمنو ته چای را ایسته .

ملا ماما هم د هغې په ژبه نه پوهېده . څو کاله پس ، او دا کیسه د اورېدو ده ، دې ښځې په ماته گوډه پښتو زمونږ کور کې کیسه کوله چه یوه شپه ملا په یوه او بل اړخ اوښته او ویل یې " وای ، الکین مُرده ." ما الکین ولگاوه خو ده راته ښکنځل وکړې او ما الکین مړ کړ . په بله شپه یې بیا د الکین مُرده خبرې کولې ، بیا مې الکین ولگاوه ،بیا یې وښکنځلم . ایله اوس پوهېږم چه د ملا عادت دی چه درسته شپه چه په اړخ اوړي نو وایي " وای ، ادکۍ مورې ."

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

# د کیشپ لور

د کلي په سر شناسانو کې یو هم حسین باچا و . زموږ په خلکو کې باچا د ستانه کورنۍ او سیدانو سړي ته وايي . خو کله کله عادي سړي ته هم دا لقب ور کوي . چه مثلاً د سیدانو پېښې کوي ، یا ځان مشر مشر جوړوي . په دې لقب کې یوه ثرۍ غوندې ملنډه هم شته چه د سپکاوي تر حده نه رسېږي خو دغه ډول خلکو ته د باچا ویلو سره ، کلیوال یو څه موسک غوندې هم شي . هغه موسکا بیا وروسته هېره شي او سړی د وچې باچا شي .

حسین باچا ږېره نه لرله . نه یې خرېیله ، بلکه د سره یې لرله نه . پګړۍ به یې هېڅلکه له سره نه لرې کوله او موږ هلکانو به قسمونه خوړل چه ګنجی دی ، خو د کلي ډم ، سخي داد ماما په دې برخه کې چوپه خوله و او حسین باچا هم د نورو په شان هر کال په درمند خپله ونډه غنم او شولې ور کولې ، چه موږ ویل دا رشوت دی چه سخي داد ماما حال ونه وايي .

د حسین باچا یو مخکښنی غاښ مساله یي و چه هغه به یې د ډوډۍ نه وروسته په مېلمستیا کې پرېوله او چه دده د لاس پرېولو وار به شونو به موږ هلکان کوزه په لاس ورته ولاړ وو چه کله دی د مساله یي غاښ له پرېولو خلاصېږي ، او بده لا دا چه هر ځلي ، بلا ناغه به چه ده خپل غاښ پرېولو ته را ایستنو یوه لویه کښسه به یې پیل کړه او موږ به ورته ولاړ و چه دی به کله د غاښ د صیقل کولو نه خلاصېږي .

دی به هېڅ بې هېڅه د قوشخانې په بر سر کې ناست ، چپنه اغوستې ، ماسۍ په پښو او یو لوی رومال په غاړه چه درګرده به یې د خپل صفا مخ خولې پرې وچولې .

موږ هلکانو به چه کشپان سره جنګول په یوه به مو د حسین باچا نوم کېښود ځکه چه د هغه غوندې کړاغې شنې سترګې ، بې وېښتو مخ ، کَپه خوله . ور- مېږیې هم د کیشپ په شان ورو ورو یوې اوبلې خواته ښوراوه . زه وایم ET فلم به یې د همده په څېره جوړ کړی وي .

د ابراهیم بیګ د قیام په وخت کې حسین با چا په هشت نفرۍ کې (داتو نه یو

عسکرۍ ته جلبېده) د لغمان نه راغلی و او بیا چه د باسمه چیانو قصه ختمه شوه همدلته پاتې شو . د ده نور ملګري هم د خان آباد به نورو کلو کې مېشته وو ، دده په شان ، دفعه دار، رساله دار ، ممباشي (منګ باشي، د زرو کسانو مشر) او داسې نور لقبونه یې لرل . اوس دا ټول هسې د ګور په غاړه ولاړ بوډاګان وو او نسل یې له مینځه تګ ته نږدې و .

د حسین باچا یوه شنه اسپه وه چه د میاشتې یو ځلي به په هغې باندې سپور شو او کو به یې ته به روان و . کو به یې د اشکمش خواته د کوم غره په تره کې یو کلی و چه حسین باچا ښځه ترې راوستې وه . په دغو سفرونو کې به یې مېرمن چه ده به کمپیره بلله ، د ځان پسې قنجغه کړه .

د حسین باچا په عادتونو کې یو دا و چه مالګه به یې خوړله . تل به یې د رنې مالګې (شیشه نمک) کنډوری لاس کې ، او د مار په شان نرۍ ژبه به یې پرې تېروله . روژه به یې هم په مالګې ماتوله او کله به چه د دهقانانو بنډارو ، نورو د نسوارو د کدو سره لوبې کولې او حسین باچا به د واسکټ له جیبه د مالګې توټه را واېسته او څټله به یې .

د خدای کارونه د بنیا دم په عقل کې نه ځایېږي . د ظاهر شاه باچا لور ، خلک وایي ، د کتو نه وه ، خو د حسین باچا لور نیمه ننداره وه . د پلار نه یې یوائځې شنې سترګې راوړې وې او نوره نو هغه ښا پېرۍ وه چه ملا ماما یې د ګل اندامې او شهزاده بهرام په قیصو کې موږ ته بیان کاوه . د وېښتانو رنګ یې د مرخانۍ (عُناب) و چه ځېږې ځېږې تر ښنګرو را ځوړند و او مخ یې تیار سپین مرمر و چه د لاجوردو دوه غمي په کې چا اینښي وي . د ملا پسې یې موږ هلکانو دا بدله ویله . "نرۍ ملا ، مې ماتېږي ، نه جوړېږي ، نرۍ ملا ."

موږ هلکان به ماز یګر د سړک څنګ ته د للمې نه د پادې راستنېدو ته منتظر وو نو به مو په نري سیند کې لامبو کوله او بیا به د سبند غاړې ته په تودو شګو پرېوتو ، د شګو کوټنۍ به مو جوړولې او یو له بله به مو د زړه راز کاوه ، نو اکثر به د حسین باچا د لور ، مرجانې په باب غږېدو . چا به ویل ، مرجانه داسې نرۍ سره سپینه روغه ده لکه ښارۍ . موږ کلیوالو به هر نرۍ ، نیستو-کی ، پاک او نازولی شی د ښار پورې تاړه . د مرجانې نرۍ ملا ، اوږده وېښتان ، سپین ګرد مخ چه تا به ویل لمر یې نه دی لیدلی ، ترخې شنې سترګې

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

او د ناز کره وړه چه بیره یې نه پېژنده ، ښېدو د ښاریو وو ، او موږ ټول وریاندې مین وو.
چه د مکتب نه راتلو نو په لاره به د حسین باچا د پټیو نه تېرېدو چه ګوندې مرجانه چېرته سابه کوي . خو د ښشاوې غږ به وو . د شولو د ښشاوې عجب غږ وي ، شغ شغ او د اوبو شرپېدا یې له لرې اورېدل کېږي او که څه هم چه دهقان د شولې په بوټو کې پټ وي خو دهغې سرونه ښورېږي او سرې پوهېږي چه ښشاوه روانه ده . موږ به ورو ورو په پوله ورنژدې شوو چه ګوندې مرجانه وي او سابه به ټولوي ، خو اکثر به مو ولېدل چه د حسین باچا پګړۍ وا لاسر به د کشپ په شان را اوچت شو ، بیا به مونو را خپلې کړې.
کله به مو مرجانه لېده چه سور ګل سپې دسمال کې به یې وېښتان نغښتي وو ، خو د هغې لېدل یو نادره طالع وه . یوائې وختونه چه یو څه امکان به و د اختر ورځې وې ، په دې ورځ به دا د کلي د نورو نجونو سره زموږ کور ته هم راتله . زه به په یوه او بله بهانه سرای ته ننوتلم . یا به کله ما د خیرات غوښه کور په کوز وړله او د دوی ور به مې هم په دې امېد وټکاوه چه ګوندې د کشپ سرې په ځای دا را ووځي . که به چا مرجانه ولېده بیا به مو په ماز یګر یو بل ته د خپلو کارنامو کیسه کوله او د ځانه مو ور سره تبې کول.
خو یو ځلي ما مرجانه په رښتیا داسې ولېده چه زیاتي مې د ډاره چا ته کیسه هم نشوه تېرولې :
د برات ځوار لسمه وه او مجلس هم زموږ په کور کې و . دا مجلس یوائې د نجونو او ښځو و . د کلي نجونې ټولې راغلې وې ، خو د هرې یوې سره د هغې مور یا بله پخه ښځه د ټونګر په حیث راغلې وه .
سږ د مرجانې د برات د ناوې کېدو وار و . د حویلۍ ګوټ ته د پوزیو یوه کوډله چه د هغې ویالې په سر جوړه شوې وه چه د سرای د مېنځ نه تېرېده ، د ښځو د لمبا ځای و . دې کوډلې چت نه درلود ، مازې څلور د پوزې دېوالونه وو چه د څلورو لرګینو ستنو پورې تړل شوي وو . د نارینه د لمبا ځای هغه لوی نهر و چه د کلي له یوه سرنه ننوتلی او له بل سرنه یې وتلی و . ژمی به و که اوړی . ډېر ځله مې پلار لېدلی چه په څېله کې به خیشت پیشت سهار د وخته کوټې ته ننوت او د کنګل ګونګروګان به یې په ږیره را نېه ځلېدل .
د برات د ځوارلسمې سپوږمۍ د کور غولې داسې روښانه کړی و چه هغه

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

وړوکي الکين چه د صفې په سر د ښځو د مجلس په منځ کې لګېده بې نوره او تت ښکارېده . په همدې شپه يې مرجانه لمبوله او زه ور ته د بام په سر پروت وم زنه مې د ناوې په ژور غالي ايښې وه او کوزه مې برېنډه مرجانه کتله چه نجونو د ويالې نه جامونه ډکول او د هغې په سر يې اړول . سترګې مې ور ته ځلور کړې چه غونډه يې ووينم خو يوائې سپين بدن او تورې څڼې وې چه کله به يې په مخ را سپرې کړې او بيا به يې شاته تر زنګنو راځړېدې . د صفې په سر ښځې لګياوې د لاس ګوتې ، بنګړي ، باوګان ، نتکۍ ، د زرو تاويزونه ...... يې په يوه منګي کې چه نيمـايي له اوبو ډک و واچولې .زړو ښځـو به نوسي ، ګوتموګـان او ســـلايي هم ورکــــې اچوله، د هر چاشی مـــعلوم و . بيا يې نو په مرجانې سپين څادر و غوړاوه او همداسې يې برېنډه ، په څادر کې نغښتې د صفې په مينځ کې د منګي څنګ ته کېنوله . وروسته نو ښځو ددې ورځې خاصه يوه يوه ټکۍ ويله او مرجانې به د منګي نه يو شی راوايست . د هر چا مـال به چه راووت ، ټکۍ به د هغې د بخت او طالعو تو ټکه وه . دا ټکۍ ډېرې معمولې وې :

اړنده ، بړنده ، سره کولمه يې څوړنده (د بېخونده ژوند پېښ ګويي) مه جغ کوه مه سپـاره ، خدای بـه در کـړي په تيـاره (د نجلۍ آينده روښـانه وه) . ګل دی کـدو ګل دی . مـالا يو شکولی نه تر لاندې بل دی (ډېر اولاد) خـاصـه او د (حـوض) خاصـه ، او داسـه کـوزه دې مـه لوېږه د لاسـه : نه کـرلې نه رېبـدلې ، تورې څنې اړولې ..............

چه د هرې نجلۍ د سامان سره به ښه ټکۍ راغله نو د خوشالۍ نه به نورو نجونو په شا وار ورکړ " خواره شنې ، ښېږی دې ميره شو " ، او که به خرابه وه نو نجلۍ به د ځان سره غوړ مبېده " داسی برات دې اور واخلي " او سپکه به د مجلس نه پاڅېده .

په آخر کې نو بيا د ښځو د چمبو او بدلو وار راته او مجلس به تر نيمو شپو روان و .

خدا زده چه د مرجانې ټکۍ به کومه وه چه درې مياشتې پس ، لېوني سپي وخوړه او مړه شوه .

# شمشه دین او دورانی

شمشه دین ټول هغه صفتونه لرل چه په یوه "ښه سړي" کې موندل کېږی ، لمونځ گوزاره ، صادق ، بې بدو ، کاریگر .

ده زمونږ د باغ مېوې په نیمایې نېولې وې . منې ، مندتې شفتالان او یو ډول الو چه خلکو نه پوهېږم ولې ورته دمب روبا ویل ، هغه به یې په کجاوه کې بازار ته وړل او چه بېگا به راغی ، ما ته به یې ویل ، " مکتبیه ، رائحه چه سره ویې گنیو !"

د ملا نه به یې بتهوه پرانسته او شپاړس پولی او غېرانو نه تنگې به یې په تغر خرې کړې . بیا به مو سره شمېرلې او دوه دلی به مو ترې جوړې کړې . شمشه دین په حساب چندیانې نه پوهېده او تل به یې ویل " دا شپاړس پولی د تاسو ، دا زما ، دا غیران د تاسو ، دا زما او که به په آخر کې کومه طاقه پیسه پاتې شوه هغه به یې ما ته جېب خرخ راکوله او ویل به یې ،"دا مې خدای په جات تا ته در کړه .زما دې خدای ته پاتې وي ، چه د ده را باندې پاتې نشي . " دی پروسږ د خورد کابل نه راغلی و .

د شمشه دین ښځه ، دورانۍ ، بله آشا وه ، یږه ، دنگه ، غنم رنگې ، کږ وروځې ، پلن پېزوان یې په نری پوزه وهلی او د شمشه دین سره یې یو ځای دماز یگېری د چرسو چیلم څکه . د دورانۍ سترگو ، په تېره چه به یې چرس وڅکل ، خوړل کول او یوه وړه چوکچو که یې په کلي کې پیدا کړې وه . مېړه اورتې زمونږ په باغ کې کوډله وهلې وه او کله به چه دورانۍ د سابو د پاره د باغ نه بهر ووتله نو د دهقانانو سترگو به ور ته لار کوله .

د شمشه دین اولاد نه و . نوره گناه یې نه وه ، خو لږ تیټ قدی او چوخ مخی و . زه هغه وخت په دومره پتنو (فتنو ) او پساتو (فسادونو ) نه پوهېدم خو دورانۍ مې څوځلې ولېده چه شمشه دین به بازار ته مېوه وړې وه او دا به د لر او بر دهقانانو سره چه د اوبو د نوبت او بندونو د څارلو پسې د نهر په غاړه تلل را تلل ولاړه وه . کله به لا په خبرو خبرو کې ، چه دې کوز په پټې کې سابه کول او دهقان به د پولې په سر ورسره روان و ، ناڅاپه به دهقان ور کوز شو او ساعت

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.

پس به د جوارو د پټي د هغه بل سر ته ، ببل ببل را ووتل . دوراني به په نخرو باغ ته روانه شوه . د لوَنګو هار به يې تالی خوړلې او د ګلدار صندوف کمیس به يې شرقا کوله .

د مني یو ښکلی ماز یګرو . ثناُ الله کاکا به تل ویل چه خدای د خان آباد ځمکه ژمی ووهي چه نه يې وچه ښېله معلومه ده او نه لمده ، باران د وا ورې سره ګډ وربېږي او چه کوته لړه توده شي نو بیا ځاځي . د خان آباد پسرلی دې هم ورک شي چه دومره لنډوي لکه د ژرنده ګړي پاینده خان د بوچی خرې لکۍ . خو د خان آباد د مني نه جار چه د ختکو ، ناکو ، بهي ، لاندي او هندوانو پریمانی وي . په درمنځای کې د شولو رشه ولاړه وي ، چه دا زموږ د ټول کال د زاره چاودون مېوه ده . هغه پسونه چه په پسرلي مو د لاندي د پاره اخیستي ، دومره ځار به شي چه ایله خپل لم وړی شي او د شپې خو لا ځینو ته د لم کېښودو د پاره جګه د خښتو ځوکۍ و دروي . مالونه لړ او بر په مځکو کې ګرځي او ځو ک يې نه لکۍ پرې کوي او نه يې خاوند ته ښکنځل کوي ، ځکه ټول پسل ربېدل شوي وي او لکه زرې ښځې چه په کرار کرار په پټیو کې وړې ټولوي ځاروي هم په نخرو نخرو ځري . بزګران د تېر شوي کال په پسل ، پخپلو سهوو او راتلونکو پلانو نو تبصرې کوي ، د جومات د دېواله پیتاوي ته ناست وي او په لرونو هغه هندوانې ځیري چه که دوې د مېلوې (بیارې یا جالُغ) سره نه وای زاشکولي نو ځاروو خوړل . د درمن بوې خوا ته د شولو پروړه دلۍ پرته دي او چنچنې په کې وځي ننوځي ، او د ثنا الله کاکا خبر په پروړه کې تخۍ کوي . له لېرې د آوجوازو نو (پایکوګانو) غرنجهار راځي ، چه د کوم بختور شولې ټکوي . سخ د هغه دهقان چه شولې د واورې تر لوېدو پخوا وریژې کړي .

د هېڅ بل پسل معامله د شولې په شان اوږده او کړکېچنه نه وي . غنم خو وکره ، ويې ریبه ، ويې ټکوه ، په کندوانو کې واچوه . ثنا الله کاکا به ویل چه دا خو هسې ببځایه خبر نه ده چه خلک چه ښېره کوي نو وایي ، شولې ! لولپه شې !

اول به د زغلي پټۍ ډنډ وې . بیا به سل دوه سوه وریه‌شو تله یا رشقه په کې اچوې ، چه هغه په اوبو کې خوسا شي او ډډوزي يې و خېژي بیا به په کې شولې ګڼې کړې . دا شو زغلی . ځلوېښت شپې به ور ته ګورې چه زغلی را شین شي او چه تور بخون شو نو بیا به يې له ریښې را وباسې او په شا به يې هغو پټو

ته چه پخوا دې یوه کړې ، ماله کړې او پڼه کړې وې وړې . هلته به یې په ټول پټي کې تړپه کې، تړپه کې، اچوې . بیا به نو نیالګر هر تړپه کې، را اخلي او د شنو پیازو د قو دې په اندازه به هغه قوده قوده کوي او په مځکه به یې چوکه کوي یعنې نیالوي به یې . بزګرانو د همدې پسې بدله جوړه کړې وه چه : سر شکته ، ... پورته ، ... زانګي بې مجاله ، مېر من دې ... نهاله .

بیا به یې نو شپه او ورځ څارې چه د ثنا الله کاکا خبر دا ماهي در نه بې اوبو نشي . تل به یې خېشاوه او خسمانه کوې . چه شولو وړې وکړل بیا نو د مارغانو سېلونه پرې را شېوه شي چه ته به یې د توپک ، شوقان او دا خول (ځېرې) په زور او کله لا هم په تعویزونو او تړتکو ساتې . چه شولې پخې شي او ودې رېبدلې ، بیا به یې په درمن کې تکوې ، او سمد لاسه به یې د اوبو ته ډک ډنډ ته اچوې ، چه شل دېرش شپې ور باندې تېرې شي او پوټکي یې ډډ شي . بیا به یې هم هغلته په درمنځای کې په بټی، کې وریتوې . وروسته به یې په یوه هواره مځکه چه پخوا تر پخوا اخېږ شوې وي هواروې او هر ساعت به یې په پښو اړوې چه لمر یې وچې کړي د شپې او د باران په وخت کې به یې په تغر او پروړو پټوې چه شوله ماته نشي . هله به یې نو پایکو یا آو جواز ته چلوې .

هلته به نوبت اخلي او شپه او ورځ به پرې پروت یې چه د نورو خلکو د شولو سره ګډې نشي او هم څو ک ماره په کې ونه کړي . چه نوبت دې راغی بیا به یې خور ته اچوې . هر آوجواز دوه پایکوګانې او دوه خورونه لري چه د ژرندې د پل په شان په اوبو خوزي . او به څرخ ګرځوي او څرخ بیا پایکو ته چه د لوی لرګین څټک په شان وي چه په سر کې یې د اوسپنې زخې وی اړم شي او هغه جګ کړي او بېر ته یې را پرېږدي چه د شولو په دلی، را پرېوځي . معمول دا دی چه یو خروار شولې په یوه شوا روز کې وریژې کوي . خو د آوجواز خاوند هم د ژرنده ګرې په شان، چه ګنهه ګونه ووینې نو یو چل کوي چه پایکو ژر ژر خوسپکه را پرېوځي او وریژې حلالې مرداري او لواړې د شولو سره ګډې راووځي . ددې زور نو بیا هغه وخت معلومېږي چه وریژې منهه یې ته لاړې شي ، او پیرودونکی یې په موټي کې واخلي او په ورغوي کې یې دانه دانه په ګوته اړوي . چه څومره کسکر لري او بیا نو سپک درنه پاځېږي او بلې خوی، ته ودرېږي. شرم ، غوسه ، بېوزلي او نا امیندګي ،،دا ټول په دهقان راشي ، لکه د کال ټوله خواري یې چه هسې اوبو وړې وي .

په آوجواز کې یوې خواته چج گر وربوز ترلی ناست وي او تکول شوې وریژې صافوي چه سی ور نه بیل شي . دا کړاو یې بس نه دی چه کله چه وریژې په خرو او آسو کور ته را وړل شي ، بیا ښځې متې ونغارې او هغه غلبیل کړي . چه لواړې ، تیږې او شولې ترې ښېلې شي . ایله د ختو کندوانو ته د لوېدو شي ، ایله د دهقان سوده وشي . دا ټول کار باید پخوا د واورې تر لوېدو وشي او که نه نو بیا خواري توی ځي . لنډه دا چه تر ورتېرو وروسته چه هر کله او هر پړاو کې شوله او وریژه لمده شوه ، لاړې چه لاړې .

د همدغسې مني یو زیړی مازدیگر و او موږ د جومات پیتاوي ته ناست وو او هندوانې مو خوړلې چه د پاینده خان پام شو چه دده سپی په غوښو شخوند وهي او لگیا دی هډوکی یې په دواړو پښو نیولی ، غوښه ترې شکوي . خپل زوم ته یې کړه چه " میرزا ورشه وگوره چه بیایې د کوم کمبخت چرگه داړلې ده . " میرزا ورغی او په خپلې لکړې یې د سپي له خولې هډوکې واېست ، ناڅاپه یې غږ کړ ، "یه بسلمانو داخو بنیادم خېږ ده . " ټولو ورمنډه کړه ، په ریښتیا چه خپږ وه او د گوتو ځیني بندونه لا ور پورې وو . قادر ماما غږ کړ " هلئ وگورئ چه سپی په کومه ځي . " سپی مولېده چه مخ په باغ په منډه و .

موږ هلکان ورپسې لاړو . سپی نېغ د شمشه دین کوډلې ته روان و . څه نور سپي هم هماغلته لگیا وو . چه لاړو گورو چه د شمشه دین مړی ټوک ټوک پروت دی ، لکه چه چا په تبنغ (تېشه ) وندې کړی وي . د ورانی درک نه و . زه منډه کور ته لاړم ، هلته هم نه وه .

په هغه شپه ټول کلیوال تر ناوخته ویښ وو . د شمشه دین اندامونه مو ، څه چه پاتې وو . په جوال کې واچول او شپې یې کلیوالو جنازه وکړه او د کلي به هدیرې کې مو ښښخ کړ . دا زموږ لومړنی شهید و . په همدې شپه کلیوالو آمنًا وکړه چه حکومت دې نه خبرول کېږي خو پخپله کلیوال دې د هغه قاتل پیدا کړي . به بله ورځ پلټنه شروع شوه . هر چا ته یو کلي ورکړ شو چه دورانی ولټوي ، ځکه دا ټولو منلې وه چه هر چا چه شمشه دین وژلي ، د دورانی په خوښه یې وژلی دی او هغه هم ور سره تښتېدلې ده . په دریمه ورځ پته ولگېده چه دورانی د اسحاق سره چه د کړو خېلو د کلي مشهور بدماش و او ځو غلي خلکو لېدلی و چه د باغ شاو خواته لر و بر کېده ، تالقانو ته تښتېدلې وه .

اته کسه د کلي زلمیان د آسونو سره تالقان ته روان شول . هلته د اسحاق پیدا

کول آسان وڅکه یو څو کوره پښتانه وو او باقي ازبک . هفته لا نه وه تیره چه دواړه یې سوټ بوټ شا په شا تړلي کلي ته راوستل . دوی د پاینده خان په ژرنده کې بندیان شول او د موچني میرزایي توپک په لاس پیره کوله .

شمشه دین دلوګر دغو نباز واوزړه موربې دیوه معبوب ورور سره لا هم همالته و . حسین باچا پخپله خوښه په یوه چکړه لاری کې چه هغه وخت هندوانو چلوله وریسې لاړ ، او دژمي دوچې به آخرو شپو کې یې هغوی دواړه راوستل . هغه شپه بوډۍ زموږ کره وه او زوی یې دجومات به حجره کې و . بوډۍ درسته شپه زما دمور سره دزوی ویر کاوه . په سبا یې خلکو دورانی او اسحاق درمند ځای ته تړلي راوستل ، لکه دګډورو په شان یې دپروړي په سر وغځول. دشمشه دین مورهم راووته قادر ماما ورته ویل «ادې ، دغه سړي ستازوی وژلی او خدای دې ګواه وي چه موږ خپله پښتو پوره کړه. دغه دی امانت دې درواخله ، چه هرڅه پرې کوې . بیا نو قادر ماما یوه تېره تشوه (قمه یا پیش قبضه) له ترخ نه وایسته اودشمشه دین مور ته یې ورکړه .

دشمشه دین مور په ویاله چاراندام اودس وکړ او بیا راغله ، داسحاق او دورانی په سرودریده او په نري رنځیدلي غږ یې وویل ، «اسحاقه ، را ته حال ووایه چه زویګی مې دې څنګه وواژه. چه تا تښېځ وربانديې جګوله ده څه ویل ؟ زاری یې کولې ، خدای یې یاداوه ، که یې ادکی مور یادوله ؟ دی خو په یوه ګوزار مړنه شو ، څه سوالونه یې کول ؟»

. خو دلسحاق زبون وهلی و او ژبه یې په تالو کې وچه وه . دورانی غږ کړ ، «زه به یې در ته ووایم . شمشه دین په ځان هیڅ پوه نه شو . ما په چای کې پریمانه اپیم ورکړي وو. ادی جانې ، موږ وبښه، ځواني وه، ناپوهه وو . »

بوډۍ لا هم اسحاق ته کتل ، « زه زهیره بوډۍ یم او دچا دحلالولو نه یم ، خو یو ځلې به چاړه ستا په مرۍ تیره کړم چه شرعي شرط پوره شي . » او دهمدې سره مو کتل چه هغه بوډۍ نه وه بلکه لکه پړانګه داسې پرې راغله او دستر ګو په رپ کې یې چاړه په داسې قوت داسحاق په مرۍ راښکله چې دوینو دارې یې ددې دسرنه لاجګې شوې او داسحاق وچه مرۍ مولیده چه یوه لویشته به دورمیږنه را ووته او له خرهار نه وروسته به بیرته په ورمیږورننوتله . خو اسحاق داسې ټینګ تړل شوی و چه دنور حرکت امکان نه و ، بس دې خواهاخوابه رغښته . دشمشه دین ورور چاړه دمورنه واخیسته او همداسې ګوډ ګوډ په دورانی ورغی او چاړه یې په دومره قوت ددورانی په

مرۍ را ښکله چه سر یې نژدې د تنې نه شکېدلی و . دواړه لکه حلال کړي چرګان ډېر وخت په ترپکو وو او د شمشه دین وروړ میرګي نیولی و ، لېړ لړي بېحاله پروت و . کلیوال یې په لاسو او پښو ناست وو چه ځان ژوبل نه کړي . د شمشه دین بوره مور بلې خوا ته بېحاله پرته وه او ښی لاس یې په وینو سور و .

# د ملخو کال

چه د غنمو وږی تور شي ، چه د بهي ، منو او شوتالا نو گلان د واده د اولې شپې د لمنې په شان دلې ، د ونې د ډډ چار چاپېره را پرېوتي وي ، چه توت خورې مرغۍ د ونې د پاس نه دربانديې خپل او پردي شيان را غورځوي ، چه هرځای او بېځايه لاس تنډې ته ځي چه د مالگينو خولو ورخ د سترگو نه واړوي ، په دغه مهال نو دهقانان پاس د للمې آسمان څارې . د ښو او بدو مورينه همدا د للمې آسمان دی او زموږ کليوالو سترگې لکه د بوت پرستو په شان للمې ته ورکړې دي . توره وريځ چه لکه مايه اوښان را شېوه کېږي او د پسرلي پشم باران را پرخوي ، سپينه وريځ چه واوره وريسې ده او د هغې بېځايه وختي راتگ د بزگر د وريژو د کال خواري د نيمه خوا يې باد ته نيسي دا ټول د للمې نه پيل کېږي. ثنا الله کاکا به ويل چه « ډنگ ډنگ شي ، بسوگۍ د اريا تر څنگ شي »« هره تکه چه په خان آباد رالوېږي ، خلک پاس للمې ته گوري . که سېلاو راځي خلک پاس للمې ته لام تړي ، که باران نه کېږي ، د استسقا لمونځ پاس په للمه کېږي ، که بزکشي وي پاس په للمه وي ، که د کابل نه موټر راځي نو د للمې نه را کوزېږي . . . ، زانې ، توتکۍ ، نور مهاجر مرغان ، ټول د للمې نه را کوزېږي .

يو ډول مارغه چه د شابنکي يې تورې او د سينې يې سرې بخونې دي ، موږ ښاڅ باله چه په عوامو کې په ساچ مشهور دی . دا مرغه خپل گرځي او توتان خوري ، چه د جوزا پای راځي ترې تم شي .

د غنمو وږي تور شوي وو او د ښيرې د زوره د غنمو دانې داسې ډډې وې چه د ثنا الله کاکا خبره لکه شينی چه د غوا په وينو موړ شي .

په همدې کال ، زما د ابتدا ئيه ښوونځي وروستی کال و چه دريم آفت په خان آباد راغی . ناڅاپه د شپې زموږ په کلي کې داسې خرهار گډشو لکه څوک چه لرگي اره کوي . درسته شپه خرپهار و او بيا به د مچيو د الوتو دزوږ په شان غږ راغی . سهار چه پاڅېدو ، ټول پټيو ته وتلي وو . گورو چه سېل سېل ملخ په پټيو را شېوه دي . کله به آسمان د دوی د لاسه تک تور شو او دومره لوی

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

سښل به شو چه لمر به یې پنا کړ . لکه هغه جالونه چه موږ مېږ ان پرې نیول یو سر په لر کلي کې او بل سر په بر کلي کې همداسې دا جال د غنمو د پټو په سر راته او بیا به ټول په پټو کې کیناستل او هوا به روښانه شوه . خرهار به پیل شو او ملخ به لکه لایق لوګري د پټې د یوه سرنه پیل وکړ او چه د بل سر نه به راوو تل ټول غنم به سر کپ ولکه د چرګانو نه چه سر پرې شي ، هسې یې تنې باد ته خوزولې . چه ملخ به ماړه شول او یا به نور د غنمو دانې پاتې نه وې ، بیا به ملخ په هوا شول او بنهار به یې غوړو نه کښول . دهقانان ژبون وهلي ، لاس تړلي ورته ولاړو ځینو د ملنګانو په شان په لوړ آواز ذکرونه کول ، ځینې به د ملخو د الوتلو سره هرې خوا ته چه هغوی مخ کوله دوی هم ور کېدل ، لکه ښکاریان چه هېلیو د الوتو سره ځانونه کړوي چه ګوندې کښیني . ما ته د ملا ماما د ښکار ماښامونه را یاد شول چه زه به هم ورسره لاړم او د خسو په خزه کې به پټ شوو ، او د هېلیو سښل به چه په شرنګهار راغی نو ملا ماما به ورته ویل « وزر مات ، وزر مات » مانا چه وزر مو مات شه ، ولې نه کښېنې ، او کله به هېلۍ زموږ د پټیو په ډنډ تېرې شوې او کښې به نه ناستې ، ده به وریسې غږ کړ « کونه ی ګوره ، کونه ی ګوره » مانا چه کونه مو ښکاري ، وشرمېږې ، بېرته را وګرځې . اوس هم دهقانان د ملخو د کاږه واږه پرواز سره کېدل ، چه که خدای یې د دوی له پټی مخ چپ کړي .

ځینو بز ګرانو لرو بر آسمان ځاره او د للمې خوا ته به ځیروو، زه نه پوهېدم ولې . ناڅا په یوه خړه وربځ له للمې راښېوه شوه او چه نژدې راغله د ښاخ (ساچ) سښل و چه په ملخو ورسیخ شول . ملخ هم لکه چه پخپل کار پوهېږي په هوا شول او مقابله شروع شوه . مارغانو به په مشوکه ملخ دوه ځایه غوځول ، خوړل یې نه ، بس غوځول یې او پرې به یې ښودل چه کوز را ولوېږي . ملخ به د هغوی په ښکو پورې ونښتل او د بیاتي په شان به یې یوه یوه ترې غوځوله . نا څاپي به ساچ سوټ بوټ کوز را پرېووت . ساچ جوپه جوپه راتلل او چه یوې جوپې به جنګ کاوه ، بله به سیند ته لاړه او مشوکې به یې پرېو للې ، چه د ملخو سر ښناکه ژېړه ښیره پاکه کړي . کله به کلیوالو په لاس باندې د یوه پرېوني ساچ مشو که پریو لله او یوه سېوري ته یې کښېنوده چه بېرته د الوتلو شي : دا اول ځل و چه ما د مارغه او بنیادمانو تر مینځ دوستي لېدله . دا جنګ تر ماښامه روان و او بیا نو ساچو للمې ته شپه یو وړه ، چه سهار بیا جنګ ته

ځان تیار کړي . پوره درې ورځې جنګ روان و او په څلورمه د ملخو سېل لکه چه چا قومانده ورکړې وي ، په هوا شو او د لوګي په شان څو ځلي تاو را تاو شو او بیا نو د للمې خواته ورک شو .

مګر زموږ په پسل کې هم څه نه وو پاتې . ټول سر کپ و او د غنمو وږي هسې پوچ ، کوشکوړي د وچو ډنډرو لاندې دلی و . په هغه کال ډېرو خلکو کډه وکړه او په لرو بر کلو کې ډېرې کنډوالې او کنډرونه ببخاونده پاتې شول . وچکالي راغله او موږ د سارایي سابو ، ښبځو ، پالکو ، مرخېړو ، شلخې ، سارمې ، پنېرک ، اغزه کي او د پښتنو نورو عنعنوي سابو په خوړلو ګوزاره کوله . سور سمبای به لا کله یو جوال نیم غنم د للمې نه موږ ته راوړل او په خندا به یې ویل « سور سنبای که زنده باشه اوغان علف خور انشا الله از ګشنګي نخاد مرد . »

# کندهاری خان

یو پهلوان سړی و ، په ونه داسې دنګ چه په هره ډله کې به دی اوچت ښکارېده . ښایسته مخ ، پراخ تندی ، د وچولي په مینځ کې یو شین خال . د ده نوم لکه چه حبیب الله و خو خلکو کندهاري خان باله . دی خدا زده په کومه ګناه کتغن ته فرار شوی و خو د بغلانو په زاړه ښار کې اوسېده . ده ته صرف دومره اجازه وه چه کندز او خان آباد ته لاړ شي . ځوانمرده سړی و او د ده حجره به تل ډکه وه ، یوه ژوره ځایي کېندلې وه چه په اوړي به ټولو ګاونډو ورباندې چړچې کولې . د ځاځنګ ته په دوو لویو چاټیو کې ، د روژې په میاشت کې یخې شړومبې وې چه هر مازیګر به خلکو ورنه وړلې . کندهاري خان شنه چپنه اغوستې ، سپین آس یې در لود چه بزکشۍ ته پرې ته . اتلس یې غواوې وې چه شودې او شړومبې او کله لا هم کوچ د مساپرو او ګاونډو روزي وه .کندهاري خان دومره بې بدو او په خلکو منلی و چه هېڅوک نه پوهېده چه ولې فرار شوی و . ده خپله په دې باب هېڅ نه ویل . خلکو به د حیا نه هغه نه پوښته ، مګر د آوازو او پس شا خبرو هنګامه ګرمه وه کندهاري خان سړی وژلی ، په چړې یې په اوږدو دوه ځایه کړی و .کندهاري خان لوی غل و او داړې یې ساتلې ، کندهاري خان د تربور د لاسه فرار شو . کندهاري خان یاغي شوی و او د ښار ګودام یې چور کړی و . کندهاري خان بې آزاره مېړی دی ، هسې د بل چا په لمسون نایب الحکومه ونیو او درې کاله زنځیر او عُراب و .بیا یې ورته وویل چه یا دې اعدام وم او یا شل کاله کتغن ته فرار شه .

په دې کې کالونه تېر شول او کندهاري خان مځکې واخیستې او داسې مشهور خان شو چه په کتغن کې ټولو پېژانده . د زامنو ژبه یې بدله شوه او د ساپو په شان پښتو یې ویله . ګلګی سخی شو او دوبی اوړی . نور نو کندهاری خان کتغنی شوی و .

په شلم کال د ده د عفوې فرمان راغی . خلکو خان ته ویل چه څه کوې چه کندهار ته ځې . خدای همدلته هر څه در کړي . خان ویل ، یو ځلي خو ځم ، چه د پاشمُل شونډي خاني انګور وخورم او د خپل کاریز یخې اوبه وڅښم او رنې تېرې یې په لاس وسرویم ، بیا بېرته راځم .

کندهاري خان خپلې ټولې مځکې دهقانانو او محتاجانو ته ور کړې ، آسونه يې خلکو ته سوغات ور کړل ، د کور سامان يې په ګاونډو ووېشه ، پیورې غواوې یې کونډو رنډو ته ور کړې ، باقي يې حلال کړل او درې شپې درې ورځې يې خیرات وکړ . د تګ په ورځ يې لوی سر ویس کراکړی و او د خدای پامانۍ د پاره يې د کتغن نیمایی مخور را پنډ شول . کندهاري خان دا ځلي د یوې زړې زړي خولۍ او تورې لونګۍ او په مریو جړا و زاړه څادر او زړي پڼو سره راووت او خلکو ته يې وویل « ورونو تاسو دې شاهد وئ چه په همدې جامه کې راغلم او بېرته په همدې جامه کې ځم . خدای دې ګواه وي چه نه مې شی راوړ او نه مې یووړ ، د خدای نعمتونه وو ، ښه پریمانه مې هم پخپله وخوړل او هم په نورو . اوس درنه ځم ، خدای دې کتغن په تاسو پېرزو کړي . » د همدې سره خان لاړ يو کال ، دوه کاله ، درې کاله ، لس کاله ، بیا کندهاري خان چا په سترګو ونه لید .

# کوچاني مارغه

د حوت د میاشتې یو سهار و چه په هینداره کې چې کتل لکه بیزو ته چه واسکټ ور واغوندې، لکه بابنې ته چه خولۍ په سر کړې ، لکه مږو به چه پیشو ته د آغوزو پوټکی ( پوچاق چارمغز ) ور په پښو کړل او خواره کی به مو پرېښوده چه وګرځي ، لکه لانځکې چه نجونې یې جوړوي او بیا زلفې ، وروځې او پوزه یې په رڼبده او هوار مخ ګنډي ، لکه نجونې چه په لوبو کې یوه د ځانه ناوې او بله د ځانه شاه جوړوي ، په رانجو او یا په سکرو د سورکو شونډو د پاسه کوږاخ برېتونه جوړوي زما نه همداسې یو ناشولته شی جوړ شوی و .

خولۍ مې په سر درنده وه او د ژۍ څرمنې یې زما د سر نه چه خولۍ یې نه پېژندله چار چا پېره سره لیکه جوړه کړې وه . سره بوټان یې چه په لشکر باشي راته جوړ کړي وو دومره تنګ وُ چه کله چه زه خپل د همزولي ، انور د غو کاله ته د هغو د ښودلو د پاره لاړم ، چه بېرته راتلم نو پښې مې تناکې او پاړکي مې وینې وو او ناچاره مې بوټان غېږ کې ونیول او پښې پېلی کور ته را روان شوم او پستو شګو مې تلې ټکو رولې.

هر څه ښه ځایه و . دا کالي د میرزا یانو ښاریانو سره جوړېدل . کله به مېرزا شخیب زمونږ په مخ کې خپل نوکان په چاقو غوڅول ، د یوې شپې د میاشتې په شان ګرد ، ښایسته ، پاک نوکان . پښې پستې سپینې چه تور وېښتان وریاندې دانه دانه ښکارېدل . زمونږ نوکان شنه ، او کنډکپر ، تر لاندې د تورو خیرو تندر نیولې سپوږمۍ . مخ ګرمو سېزلی او یخنۍ وهلی ، د لاسونو او پښو شا چاودیدلي او بیا د خیرو ډک . د سر وېښتان له شګو ، سپږو ، کنو او ریچو ډک او یو لاس تل د هغې په ګرولو بوخت . تور څټ ، چنغړک لکه سپښته (ښېډۍ) بوک را ختلی لکه د چرګ په مرۍ کې دانه ونښلي ، دا مرۍ نه د نکټایي وه او نه د سپین کمیس .

هر څه ښه ځایه و ، خو څه چاره ... زه چه به کله د خان آباد ښار ته لاړم وېرېدم به او د مکتب په لار به د پس کوڅونه ، د خلکو نه پناتېرېدم ، نن یې کابل ته

دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی.This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani

بېولم .

بېگا شپه د ډېرې نا چارۍ باړه ماما ته ورغلم چه څه ډاډ ينه راکړي . انور هم را سره و ، ځکه دا په لرو بر کلو کې يوه نادره پېښه وه او حتی ايساک اکا هم ، وړمه ورځ لکړه لگوله ، راغی او په جومات گې يې وويل . « خدای دې تاسو ددې نه هم بتر کړي . نه مې وو در ته ويلي چه مکتب هلکان له ښې وباسي ؟ کابل دې ورک سي ، ماسل دې ورک سي » او بيا قافيه ترې خرا به شوه . « حاکم دې ورک سي . »

باړه ماما بويی چای زيات راکړ خو نوره يې خونده نه وه . يو ځلي يې لکه چه يوه کجاوه تگاوي بېدانه انار کابل ته وړي وو ، خو بيا پيسې ترې چا وهلې وې نو د ده نصيحت دا و چه پيسې په واسکټ بورې وگنډه . سخي داد ماما ويل چه کابل ، پوښتنه يې مه کوه ، چه کابل نظر خان آباد[ته] دومره لوی دی لکه خان آباد نظر چار توت ته . په کابل کې سلمانيان د زمچ او پتکري په ځای يو قسم او به په مخ شني چه اَرکول ور ته وايي . د سخيداد ماما نصيحت دا و چه پام چه سگرتي نشې .

لنډه يې دا چه ټول چار توت معلومات د کابل په باب دومره و چه يو گوتمو نشي ډکولی .

د پاينده خان زوم خو په بله لار د جوکان نه راغلی و . يوائې ميرزا شخيب يو څه په کابل خبرو او د هغه چه گرافون منتسر مات کړ بيا يې چندانې زموږ سره جوړه نه وه ، د هغه لېدل هم اوس د خداي غضب و ، ځکه د بازاره به چه راغی او زموږ په درمندونو يې لاروه ، نه به يې ښی کتل نه چپ ، ښوی به په کور ننه ووت . د ميرزا شخيب پسې خلکو جوړه کړې وه چه دی ټول کارونه اړولي او سر چپه گوي ، خپله ښځه اوله لمبوي بيا ورسره څملي .

همداسې په جهالت کې ، د حوت په اول تاريخ ، حلبي بکس په لاس ، چپنه اغوستې ، د مشر ورور سره د خان آباد ښار ته راغلم ، هلته چکړه موټر چه د تالقانو د چال نه يې مالگه راوړې وه تيار و . خلک د مالگې د خبتو د پاسه څه ناست وُ او چا ډډه وهلې وه ، مشر ورور مې زه هم ور وخېژولم . داسې ښکارېده چه موټروان ته يې پخوا پيسې ور کړې وې او ور ته ويلي يې وو چه ما په کابل کې چېر ته ورسوي .

په يوه بل کالي کې يې يو سور کړی چرگ او څه غونځوښې يا خجورې غوټه

This PDF format is made by Ahmed Najib Biabani.دا کتاب د احمد نجیب بیاباني لخوا په پي ډي ایف بڼه اړول شوی

کړي وو ، هغه مې د بکس د پاسه کېښود ل ، او هماغلته د ښار په چلدر کې ور ته ناست وم چه تو به مو ایله ماز یگر قبوله شوه او موټروان مخ په علی آباد را روان کړو . د شپې هم مزل او چه بل سهار را ته موږ بغلان ته رسېدلي وو، شپه سړه وه او زما نوې روسۍ کلوشې او شنه چپنه را پورې ښه لگېده . د کېله گي په دښته کې پشم پشم باران شو او د مالگې خښتې خیشتې او ښویې شوې ، د مالگې په خښتو کیناستل ، او د لاندې نه د موټر ټکانونه د سړي چاربند سولوي خو سپرلیو ویل چه دا ښه دی چه موټر یې درو ند کړی دی او که نه نو کولمې به یې خولې ته راوستې وې .

# دناهید کتاب خپرولو مؤسسې له خوا خپاره شوي ادبي اثار

| | |
|---|---|
| ۱-ساړه بادونه: | داسدالله غضنفر دلنډوکیسو مجموعه |
| ۲-تبجنه سپوږمۍ: | دپروین فیض زاده ملال دشعرونو مجموعه |
| ۳-څلورمه لار: | دایمل پسرلي لنډې کیسې |
| ٤-زموږ دکلي پانې: | دزرین انځور لنډې کیسې |
| ۵-دلته لږ زموږ اور ،بل دی: | په لندن کې دمیشتو پښتنو لیکوالو دلنډو کیسو ګډ جونګ |
| ٦-ماته شپېلۍ: | دنازک خیال شاعر استاد محمدصدیق پسرلي دغزلونو غونډ |
| ۷-له نرګسه تر نرګسه: | دکاروان کیسې |
| ۸-سپینې پانې : | دپروین فیض زاده ملال دلنډوکیسومجموعه |
| ۹-مات غمي: | دعبدالهادي هادي دشعرونو مجموعه |
| ۱۰-دنکریزوپانه: | دباز محمد عابد دشعرونو مجموعه |
| ۱۱-شعرپېژندنه: | دارواښاد استاد روهي اثر |
| ۱۲-ډیوټ: | دګوهر رحمن ګوهر دشعرونو غونډ |
| ۱۳-چنارخبرې کوي | دکاروان دشعرمجموعه |
| ۱٤-رجړومه | دګوهر رحمن ګوهر دشعرونومجموعه |
| ۱۵-دطاووس بڼکه | دمصطفی سالک دشعرونومجموعه |

چاپ: دانش کتابخانه، قصه خوانی بازار- پېښور
ټېلفون: 2564513